# د حضرت عائشة رضي الله عنها

# سل قيصې

لیکوال
**مولانا شعیب سرور**

ژباړه
**مفتی ابو سعید**




مکتبة الحرم

محلہ جنگی پشاور
سردار پلازہ اکوڑہ خټک
0300-9395919
0306-7616569


Scanned by CamScanner

# فهرست


| شمیره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۹ |
| ۳ | ځانګړتیاوې | ۱۳ |
| ۴ | مننه | ۱۴ |
| ۵ | پېژندنه | ۱۵ |
| ۶ | نوم نسب او کورنۍ | ۱۵ |
| ۷ | نیکمرغه پیدائښت | ۱۶ |
| ۸ | دماشومتوب ګلورین دور | ۱۷ |
| ۹ | دحافظې دقوت ځومثالونه | ۱۸ |
| ۱۰ | تعلیم اوتربیت | ۱۸ |
| ۱۱ | دګران پلار ترسیوري لاندې | ۱۸ |
| ۱۲ | دانسانیت دستر معلم او لارښود په درسګا کې | ۱۹ |
| ۱۳ | کورنی ژوند | ۲۰ |
| ۱۴ | اخلاق او عادتونه | ۲۱ |
| ۱۵ | دنبوي حدیثونو روایت نقل کول | ۲۳ |
| ۱۶ | حدیث پوهنه (درایت حدیث) | ۲۴ |
| ۱۷ | فضائل او مناقب | ۲۶ |
| ۱۸ | دالله ﷻ په دربار کې رتبه: | ۲۶ |
| ۱۹ | درسول الله ﷺ له نظره دهغې ؓ رتبه: | ۲۶ |
| ۲۰ | دامت دسترو علماؤا و مشرانو له نظره: | ۲۹ |
| ۲۱ | مړینه (وفات) | ۳۰ |


Scanned by CamScanner

۲۲ - دحضرت عائشې ﷺ نکاح ........................................ ۳۱
۲۳ - دام المؤمنین مدینې منورې ته هجرت ........................................ ۳۲
۲۴ - درسول الله کور ته دعائشې راتلل ( واده ) ........................................ ۳۴
۲۵ - درسول الله ﷺ دعائشې ؓ دخوب خیال ساتل ........................................ ۳۶
۲۶ - دناز مقام یې دومره و ........................................ ۳۸
۲۷ - ګرانې لورې! ایا ته له هغه چاسره مینه کوې له چاسره چې زه مینه کوم؟.. ۳۹
۲۹ - دیوې حبشي ښځې لوبه کتل ! ........................................ ۴۱
۳۰ - ( درضاعي پلار له وروړخخه پرده کول ........................................ ۴۲
۳۱ - دحضرت عائشې ؓ په رسول الله باندې غیرت کول ........................................ ۴۳
۳۲ - دحضرت عائشې ؓ ذهانت او پوهه ........................................ ۴۳
۳۳ - دام المؤمنین عائشې ؓ قرآن پوهنه ........................................ ۴۴
۳۴ - حضرت عائشه ؓ غصه شوې وه....! ........................................ ۴۵
۳۵ - له امام الانبیاء سره دمنډې سیالي کول ........................................ ۴۶
۳۶ - دهغې په بستره کې وحې نازل شوې ........................................ ۴۷
۳۷ - دژوند ټوله پانګه یې یو اځې ( غم ) و ........................................ ۴۸
۳۸ - زما دسترګو هیله : تل انتظار ده ........................................ ۴۹
۳۹ - له ناموس رسالت څخه دفاع کول ........................................ ۵۰
۴۰ - خدایه هغه ته خو هیڅ نه شم ویلای....! ........................................ ۵۱
۴۱ - دعائشې ؓ اودرسول الله ﷺ د نوروښځو ترمنځ مینه اوبې تکلفي.. ۵۲
۴۲ - درسول الله ﷺ له لورې له عائشې ﷺ سره مینه کول ........................................ ۵۳
۴۳ - دحضرت عائشې ؓ له خدیجة الکبری ؓ سره سیالي کول ........................................ ۵۳
۴۴ - د رسول الله ﷺ د فرمانبرداري یوه ځلانده مثال ........................................ ۵۴

Scanned by CamScanner

۴۵ - دحضرت عائشېؓ ديوه سرې ترټل ...... ۵۵
۴۶ - دسترې مور ستره لور ...... ۵۶
۴۷ - ترمړينې لږ وړاندې هغې داسې چيغې وهلې...! ...... ۵۷
۴۸ - (دافک پېښه) ...... ۵۸
۴۹ (که په جنت کې زما ملګرتيا غواړې نو ...!) ...... ۷۱
۵۹ - له خور او وروړ سره سربښندنې او سخا چلند ...... ۷۲
۵۰ - يو لک درهم په يوه ورځ دالله په لاره کې خيرات کړي ...... ۷۳
۵۱ - له دې څخه يې وخوره! داستاسو تر ډوډۍ غوره ده ...... ۷۳
۵۲ - له اسمانونو څخه دژړاګانو وروستی ځواب راځي ...... ۷۴
۵۳ - په دريو ځايونو کې هيڅ څوک چاته په ياد نه ورځي ...... ۷۵
۵۴ - دانصارو دښځو ستاينه ...... ۷۶
۵۵ - دحضرت عائشېؓ دقرآن کريم دتلاوت اوربدنه ...... ۷۷
۵۶ - حضرت عائشهؓ دجهاد په ميدان کې ...... ۷۸
۵۷ - مور چې هغه وليد يو حيرانونکې انځور راته ښکاره شو ...... ۷۹
۵۸ - (درسول الله ﷺ دپټو رازونو خبرلرونکې) ...... ۸۰
۵۹ - دحضرت عائشېؓ له برکته دتيمم حکم نازل شوی ...... ۸۲
۶۰ - ديوې دعا په زده کولو پسې دعائشېؓ پرېشانه کېدل ...... ۸۴
۶۱ - حضرت عائشهؓ اوعلم طب ...... ۸۶
۶۲ - دا دعاء خو زه دخپل امت لپاره په هرلمانځه کې غواړم ...... ۸۷
۶۳ - (ديوولس مېرمنو کيسه) ...... ۸۷
۶۴ - لومړۍ ښځه ...... ۸۸
۶۵ - دوومې ښځې وويل ...... ۸۸

Scanned by CamScanner

۶۶ - دریمې ښځې وویل: ..... ۸۹
۶۷ - څلورمې ښځې وویل: ..... ۸۹
۶۸ - پنځمې ښځې وویل: ..... ۸۹
۶۹ - شپږمې ښځې وویل: ..... ۹۰
۷۰ - اوومې ښځې وویل: ..... ۹۰
۷۱ - اتمې ښځې وویل: ..... ۹۱
۷۲ - نهمې ښځې وویل: ..... ۹۱
۷۳ - لسمې ښځې وویل: ..... ۹۱
۷۴ - یوولسمې ښځې وویل: ..... ۹۲
۷۵ - (دمینې څرګندونه کله کله داسې هم وي) ..... ۹۴
۷۶ - (دآخرت دمینې څراغ) ..... ۹۵
۷۷ - (دژوند تېرولو زرینه کړنلاره (اصول) ..... ۹۶
۷۸ - (د دنیا ژوند لږ بل ډول راته ښکاري) ..... ۹۷
۷۹ - ته ښکلې یې که ستا دواړې ښځې؟ ..... ۹۸
۸۰ - دمینې غوښه ..... ۹۹
۸۱ - ودې کتل؛ څه ډول مې وژغورلې ..... ! ۹۹
۸۲ - دایلاء (له مېرمنو څخه دقسم) کیسه ..... ۱۰۰
۸۳ - (زه په مرورتیا کې یو اځې په ژبه ستاسو نوم نه اخلم) ..... ۱۰۲
۸۴ - دجمل تر جګړې وړاندې ..... ! ۱۰۳
۸۵ - دجمل دجګړې (دردونکې) پېښه ..... ۱۰۶
۸۶ - (دتحریم پېښه) ..... ۱۱۷
۸۷ - (دعشق غم په سینه کې څراغ وي) ..... ۱۲۰
۸۸ - (دعائشې ﷺ اشعار اوربدل) ..... ۱۲۱

Scanned by CamScanner

۸۹ - درسول الله ﷺ تسلي ورکول حضرت عائشيؓ ته........ ۱۲۲
۹۰ - (د اختیار ورکولو پېښه)........ ۱۲۲
۹۱ - (دعائشې ﷺ له لورې داولاد هیله کول)........ ۱۲۴
۹۲ - دحضرت عائشيؓ کنیت........ ۱۲۵
۹۳ - په مرض وفات کې درسول الله ﷺ دسرو زرو روپۍ خیراتول.. ۱۲۶
۹۴ - دابوبکر صدیق ﷺ دخلافت وصیت........ ۱۲۶
۹۵ - (له کومې ځمکې سره چې داسمان هم سیالي کیږي)........ ۱۲۷
۹۶ - (د ابوبکر صدیق ﷺ امامت)........ ۱۲۷
۹۷ - دعائشې ﷺ یو ځانګړې فضلیت........ ۱۲۸
۹۸ - دعائشې ﷺ په غېږه کې رسول الله ﷺ سر ایښی او له دې نړۍ څخه یې سترګې پټې کړې........ ۱۲۹
۹۹ - عائشې ﷺ له لوري یوه نصیحت کونکي ته درې نصیحتونه........ ۱۳۰
۱۰۰ - (انصاف خوښونه)........ ۱۳۱
۱۰۱ - له خپل خوریي څخه دعائشې ﷺ خفګان او سوله کول........ ۱۳۲
۱۰۲ - دعائشې ﷺ حق ګویي (حق ویل)........ ۱۳۴
۱۰۳ - دحبشیانو دلوبې ننداره کول........ ۱۳۵
۱۰۴ - دسپیونو زرو دوه بنګړي.....! ۱۳۶
۱۰۵ - دیوې شپې کیسه.....! ۱۳۷
۱۰۶ - دماشومو نجونو دپالنې فضیلت........ ۱۳۷
۱۰۷ - دپوهې کچه........ ۱۳۸
۱۰۸ - معاویه ﷺ ته نصیحت........ ۱۳۹
۱۰۹ - پرده پورته شوه، دټنډې له رڼا څخه یې هرشی روښانه شو.....! ۱۳۹
۱۱۰ - په مېرمنو باندې دعائشې ﷺ لورېنې........ ۱۴۰


Scanned by CamScanner

۱۱۱ - د علي ﷺ دبرات څرګندونه............................ ۱۴۰
۱۱۲ - دزړه پرهرونو هیڅکله سوکالي ته پرې نه ښودلم............ ۱۴۱
۱۱۳ - دخفګان یو حیرانونکی ډول............................ ۱۴۲
۱۱۴ - له بدو ویناوو څخه ځان ژغورل........................ ۱۴۳
۱۱۵ - دتولې نړۍ غم(درد) زماپه زړه کې دی................... ۱۴۴
۱۱۲ - (حیرانونکې سزاء).................................. ۱۴۵
۱۱۷ - دښې راشه درشې یوه ښه مثال........................ ۱۴۵
۱۱۸ - درسول الله ﷺ نورو مېرمنو ته درسول الله ﷺ حکم وریادول... ۱۴۲
۱۱۹ - عائشه ﷺ اوقبر عذاب................................ ۱۴۲
۱۲۰ - دنړۍ خلکوته یې دژوند آرونه (اصول) ور ښودلي............ ۱۴۷
۱۲۱ - دوخت دواکمن (مروان) په وړاندې دحقٌ اعلان............. ۱۴۸
۱۲۲ - (یا رسول الله ! ایا بدله اخستل رواده؟)................... ۱۴۸
۱۲۳ - دمار په وژلو باندې فدیه ورکول....................... ۱۴۹
۱۲۴ - هغه د مینې ورکړه وه................................ ۱۴۹
۱۳۵ - درې شیان........................................ ۱۵۰
۱۲۲ - ههنکلاوړشیان..................................... ۱۵۱
۱۲۷ - دتبې دلرې کولو دعاء................................ ۱۵۲
۱۲۸ - (د مزري لاند پستونی (توشکه)......................... ۱۵۳
۱۲۹ - نه دغنیمت مال او نه دښارونو نیول..................... ۱۵۳
۱۳۰ - زماله ننبو سره څه کار دی.....؟....................... ۱۵۴
۱۳۱ - (له عمر فاروق ﷺ سره د ښندنې (ایثار) چلند)............ ۱۵۵
۱۳۲ - (انا لله وانا الیه راجعون)............................ ۱۵۲
۱۳۳ - ماخذونه اومصادر.................................. ۱۵۸

Scanned by CamScanner

## سریزه

أن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونـؤمن بـه ونتوكـل عليـه ونعوذ بالله من شرور أنفسنـا ومن سيئات أعمـالنـا من يهده الله فـلا مضل لـه ومن يضلل فلا هـادي له ونشهد أن لا إله إلا الله ونشهد أن سيدنا وسندنا وشفيعنـا ومولانا محمدا عبده ورسوله أمـا بعد:

فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

(إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا۝) ( سورة الأحزاب: ۳۵)

### بعد الحمد و الصلاة !

داسلام دين د ابدي روښتونوليو او نه ختمېدونکو حقيقتونو لرونکی دين دی ، او همدا دانساني حقونو دساتنې او تحفظ ضامن دی ، او دانساني معاشرې دهر هر ګوټ دکاميابي او برياليتوب مرکز او محور دی ، همدا دين چې کله راغی نو انساني معاشره يې له ناپاکيو څخه

پاکه کړه او انسانیت یې په سمه لاره روان کړ ، دکفر او شرک له توري شپې څخه یې دتوحید اورسالت سپین سحر رابښکاره کړ، له معاشرتي بدیو لکه : ظلم ستم ، جور اوجفا ، انسان وژنې او لوټ ماري ، بې انصافي او مفادپرستي ، نفرت او دښمني ، کین او عناد ، بیحیایي او عریاني ، دوکې او فریب ، اوخودغرضي او ځانځاني یې له منځه یوړل ، او پرځای یې د رحم او کرم ، مینه او الفت ، همدردي او غمرازي ، عدل او انصاف ،شرم او حیا بنې یې تازه کړې ، او دځمکې مخکې ... ې ددې ښکلیو خویو په خوښبدیې سره سمبال کړ.

داسلام دین که له یوې خوا داسلامي معاشرې هره هره برخه دخپلو فطرتي تعلیماته په نورسره روښانه کړه له بلې خوا یې ددې معاشرې دفلاح او کام ... ابي هغه حقیقي بنسټ (ښځو) باندې هم هغه لورېنې کړې دي چې پ ... دې نړۍ کې بل هیڅ دین داسې نه دي کړې .

سره له دې که دنورو مذاهبو لخوا وکتل شي نو ښځه هیڅکله لوړې رتبې ا ... سترمقامونه نه شي ترلاسه کولای ، ان که دهغه دترلاسه کولو له پاره دځان قربانولو ته هم تیاره شي .......!

خو یواځې اسلام داسې حق دین دی چې هغه پل په پل دژوند په هره برخه کې ښځې ته په دنیا او اخرت کې سرلوړي او عظمت وربه برخه کړی اوپه هر ډګر کې د بریالتوب زیري یې پرې کړي ، او هغې ته یې دکامیابي لنډې او اسانه لارې وربښودلې دي .

او له دې سره سره اسلام له یوې خوا ښځې ته دمور ، خور ، لور ، او ښځې په

توګه عزت ورپه برخه کړي ، او له بلې خوا دهمدې امت هغه خوېندې چې درسول اللهﷺ په نکاح کې راغلې دي هغوی ته یې دټول امت د روحاني مېندو (مور ګانو) شرف هم ورپه برخه کړي (وازواجه امهاتهم)(الاحزاب:۶)

په قران کریم او نبوي حدیثونو کې دامهات المؤمنین فضائل او مناقب ځای په ځای بیان شوي ، خو دامهات المؤمنین له ډلې څخه چې دام المؤمنین عائشې رضی الله عنها په اړه څومره مناقب او فضائل په قران کریم او حدیثونو کې تر سترګو کیږي ، هغه دې ګرانې مور ته په ټولو مېندو کې دیو لوړ مقام او ممتاز حیثیت څرګندوینه کوي دهغې مبارکې ددې غټو فضائلو او ممتاز حیثیت او لوړې رتبې له پاره څو وجې دي :

یو داچې دهغه مبارکې ذات سره له دې چې دنبي ﷺ له پاره پناه ځای او حرم ؤ او ورسره دمسلمانو ښځو له پاره ددنیاوي ژوند تېرولو یوه ښکاره بېلګه او مثال ؤ . مسلمانې ښځې ته څه ډول ژوند تېرول په کار دی ؟ هغې ته کوم کوم صفتونه او عادتونه خپلول په کار دي؟ دهغې کورنی ژوند باید څه ډول وي ؟ له خاوند سره څه ډول اړیکې وساتي؟ دهغې دژوند تېرولو څرنګوالی، دغم اوخوښي شېبې، دروغتیا او ناروغي شپې ورځې ، د خاوند له خپلوخپلوانو سره څه ډول راشه درشه په کارده ؟ او یوه ښځه په تعلیمي او عملي ډګر او د دین په خدمت کې څه ډول هڅانده او کوشش کونکې جوړېدلای شي؟

لنډه داچې ! دحضرت عائشې رضی الله عنها مبارک سېرت ، او ځانګړی ژوند په دې ټولو کارونو کې له لارښونو څخه ډک دی ، او هره ښځه کولای

Scanned by CamScanner

شي چې دهغې مبارکې په پل باندې په تلو سره داتيولې موخې او مقصدونه ترلاسه کړي.

خو افسوس! چې نن سبا به څو مسلمانې خوېندې داسې وې چې دژوند په هره برخه او هرډګر کې دام المؤمنين عائشې رضي الله عنها له سېرت څخه رڼا اخلي ......! بلکې حقيقت دادی چې دنن په مسلمانه معاشره کې دلوېديز(مغرب) بدبويه او کرغېړن تهذيب او پرمختګ يو وېرونکی طوفان راپورته شوی ، چې په ليدلو سره يې زړه لرزيږي ، چې داسې نه چې دا وېرونکی طوفان ټوله معاشره له خپل ځان سره دتباهي ،بربادي ، ذلت او خواري کندې ته لاهو نه کړي .....!

په هر حال! په دې کرغېړنو حالاتو کې ضروري ده چې مسلمانې معاشرې ته له اسلامي لارښونو سره سم دژوند تېرولو په لاره کې دپرمخ تګ هڅې وشي ، او ددې موخې او مقصد دترلاسه کولو له پاره ضروري داده چې مسلمانو خوېندو ته داسلام دسترو او مقدسو خوېندو دژوند حالات ، او ځرګندې کارنامې مخې ته کېښودل شي ، چې ددې حالاتو او واقعاتو په ويلوسره دمسلمانو ښځو ژوند له اسلامي کړنلارو سره برابر شي، ستاسو په لاس کې کتاب (دعائشې رضي الله عنها دژوند سل کيسې) دهمدې لړې يوه کړۍ ده ، چې دام المؤمنين عائشې رضي الله عنها دژوند حالات او پېښې په کې رايو ځای شوي دي. په دې کتاب کې د هغې مبارکې دژوند هغه برخې را اخستلې شوې دي چې دهغه په مطالعه او کتنه سره که له يوې خوا دورځني ژوند دلارو چارو په سمون کې مرسته ترلاسه کيږي ، له بلې خوا روح خوشحالي او ايمان ته تازه ګي هم وربخښي.

# ځانګړتیاوې

۱- : ددې کتاب دلیکلو په وخت دتفسیر ، حدیث او تاریخ له معتمدو او باوري کتابونوڅخه مرسته اخستل شوې او عربي کتابونو ته دلومړیتوب حق ورکړل شوی.

۲ - : په کوم ځای کې چې د تشریح او وضاحت ضرورت وي هغلته هم له باوري شرحو او لمن لیکونو څخه مرسته تر لاسه شوې.

۳ - : کومې پېښې (واقعات) چې دحدیثو له نهه کتابونو ( بخاري، مسلم، ابوداؤد ، ترمذي، نسائي ، ابن ماجه، دارمي ، مسند احمد ، موطا امام مالک ) څخه اخستل شوې وي له هغوی سره دحدیث شمېره(رقم الحدیث) هم ورکړل شوې ، او داشمېره او ترقیم له (ترقیم العالیه)سره برابره ده .

۴ - : له دې پرته په نورو ځایونو کې دحدیثو په کتابونو کې دحدیث دشمېرې په ځای او یا دحدیث له شمېرې سره سره دکتاب دجلد او صفحې ( مخ) شمېره ورکړل شوې ده .

۵ - : دکتاب په شروع کې د ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها ژوند ته لنډه کتنه ، او دهغې فضائل ، او مناقب هم راوړل شوي دي.

۶ - : د زړه راکښونکو سرلیکونو(عنواناتو) او غوره شعرونو په راوړلو سره دلوستونکي دهڅولو له پاره هم تابیا شوې ده

Scanned by CamScanner

# مننه

په دې مقدمه او سریزه کې که دکومو محسنینو یادونه ونه شي نو دابه احسان فراموشي په معناوي ، نو ځکه په دې ځای زه ترهرڅه زیات دخپل محسن او مشفق استاد محترم مولانا ناظم اشرف صاحب (مدیر بیت العلم)مننده وی یم چې دهغه په سپارښتنه مې داکار شروع کړی و، او دهغه لارښوونې ، هڅونې ، دعاوې دکار له شروع څخه ترپایه پورې راسره مل وې. الله ﷻ دې ګران استاد او دهغه ټولو ملګروته ډېر اجر ورکړي

او همدا راز زه دخپل نږدې ورور مولانا محمد اویس صاحب څخه هم مننه کوم چې زه یې په ښو او ګټورو مشورو سره نازولی وم، الله ﷻ دې دهغوی په علم او عمل کې هم برکت واچوي(آمین)

او په پای کې ګرانو لوستونکوته داویل غواړم چې دخپلې کم علمي اود علمي پانګې دنشتوالي اقرار کوم ، نو ځکه داکتاب چې په حقیقت کې یو وړوکې طالبانه هڅه ده یقینا د دې سترې موضوع دپوره حق اداکولوجوګه نه دی ، نوکه په دې کار کې کومه ځانګړتیا اوښائېښت وي هغه به د الله ﷻ مهرباني او دمشرانو دنېکو دعاوو نتیجه وي ، او که کومه غلطي او خطا په کې شوې وي نو هغه به شیطاني وسوسه وي او هغه به زما دکمزوري او کم علمي له امله وي.

الله ﷻ دي دغه نیمګړې هڅې په خپل دربار کې قبول کړي، او ګټه دې

Scanned by CamScanner

ډېرو خلکوته ورسوي ، او زما ،زما دمور ، پلار، اواستادانو له پاره دخلاصون لامل کړي. (آمین)
(ابن سرور محمد شعیب)

# پېژندنه

## نوم نسب او کورنۍ :

دهغې مبارکې نوم ( عائشه) لقب یې (صدیقه) کنیت یې ( ام عبدالله) او خطاب یې ام المؤمنین دی.

دنسب سلسله یې دپلار مبارک له خوا داسې ده:

عائشة(أم المؤمنين)بنت أبي بكر عبدالله بن أبي قحافة عثمان بن عامر بن عمرو بن كعب بن سعد بن تيم بن مرة، بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك.

او د مور (ام رومان ﷞) مبارکې له خوا یې دنسب سلسله په دې ډول ده :

أم رومان بنت عامر بن عويمر بن عبد شمس بن عتاب بن أذينة بن سبيع بن دهمان بن الحارث بن غنم بن مالك بن كنانة.

د ام المؤمنین عائشې ﷞ رضاعي مور د (وائل) ښځه وه .

درسول الله ﷺ او دعائشې ﷞ دنسب سلسله په اوم پشت (پېړۍ) کې سره یو ځای کیږي، او دمور مبارکې له خوا یې بیا په یوولسمه او دوولسمه پېړۍ په ( کنانه ) نومي نیکه باندې دنسبونو سلسله سره یو ځای کیږي.

Scanned by CamScanner

دعائشې ﷺ پلار (ابوبکر صدیق) ﷺ په نارینه وو کې لومړنی سړی دی چې په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړی دی.

ترنبوتِ وړاندې او وروسته په سفر او کور کې درسول الله ﷺ د نږدې ملګري سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ له عظمت ،شرافت او لوړې مرتبې څخه څوک انکار کولای شي......؟

او همداراز دهغه مور(ام رومان ﷺ) هم له غټو صحابیاتو څخه وه.

**نیکمرغه پیدائښت** :

دام رومان ﷺ لومړی نکاح له عبدالله ازدي سره شوې وه ، دعبدالله له مړینې وروسته هغه له حضرت ابوبکر ﷺ سره نکاح وکړه، او بیا له هغې څخه الله ﷻ حضرت ابوبکر ﷺ ته یو زوی عبدالرحمن ﷺ ، او یوه لور عائشه ﷺ ورکړل . دحضرت عائشې ﷺ دزوکړې دتاریخ په اړه دتاریخ او سیرت کتابونه پته خوله دي.

یوازې دومره خبره یقیني ده چې تر هجرت درې کاله وړاندې هغه حضرت عائشة ﷺ دشپږو کلونو وه،او په همدې شپږ کلنی کې یې نکاح شوې ده، اودهجرت په لومړي کال دوړوکي اخترپه میاشت کې یې په نهه (۹) کلنی کې واده شوه اوداتلس کلونو په عمر دهجرت په یوولسم کال په ربیع الاول کې کونډه شوې ده

له دې څخه څرګندیږي چې دزوکړې صحیح تاریخ یې دنبوت دپنځم کال روستی برخه ده ، یعني ترهجرت (۹) نهه کاله وړاندې د وړوکي اختر

میاشت چې د ۶۱۴ عیسوی کال له جولائي میاشتې سره سمون خوري دحضرت عائشې رضي الله عنها دزوکړې صحیح تاریخ ګڼلای شو.

(سیرت عائشة)

## دماشومتوب ګلورین دور

دنبوت پناه ځای، د کائناتو سرداره، دخدای دحبیب محبوبه عائشې صدیقې رضي الله عنها دحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په هغه ګلبڼ کې دې نړۍ ته سترګې راغړولې دي چې په هغه کې تر ټولو وړاندې د اسلام نوی راټوکېدلی ګل غوړېدلی و، او کوم بڼ چې له هغه شروع څخه دنبوت د لمر په رڼاګانو باندې منور او روښانه و، د کفر او شرک یوه سپرغۍ هم دې باغ ته دمخې کولو جرئت نه شو کولای، اوهمدا لامل ؤ چې حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها له هغه کسانو څخه شمېرله کیږي دچا لمن چې تل دکفر، شرک،بدعاتو او بې بنسټه خبرو له تورڅخه پاکه وه.

کله چې به رسول الله ﷺ دابوبکر صدیق رضي الله عنه دکور جومات ته راغی او د زړه په ډېر درد او نرمي سره به یې دقرآن کریم تلاوت کاوه، نو حضرت عائشې رضي الله عنها به له دې څخه ګټه اخستله، که څه هم دماشومتوب وخت دماشومتوب وي خو الله جل جلاله چې کومې پاکې هستۍ لوړو مقامونو ته رسول غواړي نو هغوی ته یې بیا له هغه لومړي سره په همداسې صلاحیتونو سره نازولي وي .نو ځکه دحضرت عائشې رضي الله عنها همدا دماشومتوب دور هم بېځایه تېر نه شو، او له خپلې خدای ورکړې حافظې څخه په ګټه اخستلو سره یې هغه هم قیمتي کړ.

Scanned by CamScanner

## دحافظې دقوت څومثالونه

عائشه ﵂ په خپله وايي: کله چې دا لاندنی آیت نازل شو

(بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ ۝) (القمر:٤٦)

**ژباړه**: بلکې قیامت دی وخت ځای دوعدې (دعذاب) ددوی او قیامت ډیرسخت دی (چې نلري هیڅ علاج) او ډیرتریخ دی (له عذابه ددنیانه) ما هغه وخت لوبې کولې. (رواه البخاري ۲/کتاب التفسیر ـ سورة القمر)

او همدا راز یو ځل حضرت عائشې ﵂ له خپلو ناوکیانو سره لوبې کولې، او په هغه ناوکیو کې یو آس هم و، چې ښي او چپ لور ته یې دوه کوځر وو، رسول الله ﷺ له هغه ځای سره تېرېدو، نود هغه آس په اړه یې پوښتنه ترې وکړه، حضرت عائشې ﵂ په ځواب کې وویل: دا آس دی، حضرت رسول الله ﷺ وویل :د آسونو خو کوځر نه وي، حضرت عائشې ﵂ په زغرد وویل: ولې؟ دحضرت سلیمان ﵇ دآسونو خو کوځرونه وو. (مشکاة عشرة النساء)

## تعلیم او تربیت

### دګران پلار ترسیوري لاندې:

حضرت ابوبکر صدیق ﵁ دنورو اولادونو په څېر دحضرت عائشې ﵂ روزنه او تربیت هم کاوه، او دا لړۍ دعائشې تر واده وروسته هم روانه وه، همدا وجه وه چې عائشې به دکومې وړوکې غلطي په وخت هم دخپل پلار

لاربنوونې ته مخه کوله ، او ډېر ځله بیا داسې هم شوي چې حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د رسول الله ﷺ په مخکې دخپلې ګرانې لور داصلاح په نیت هغې ته غصه شوی.

## دانسانیت دستر معلم او لاربنود په درسګا کې:

که څه هم حضرت عائشې ﷝ له هغه شروع څخه له خپل پلار حضرت ابوبکر ﷛ څخه روزنه کړې وه ، دتاریخ ، او ادب زده کړه یې له هغه څخه ترلاسه کړې ، خو بیاهم دهغې د زده کړې او روزنې اصلي او بنیادي دور هغه وخت شروع شوه کله چې د رسول الله ﷺ کورته هغه دښځې په توګه راغله.

نو همدا وو چې رسول الله ﷺ لکه چې دټول انسانیت ستر معلم و ،همدارازیې دحضرت عائشې ﷝ دیوې یوې کړنې اوهر هرحرکت څارنه هم کوله، که ډېره وړه تېروتنه به یې هم ترې لیدله دهغې په اړه به یې لاربنونه کوله، او دهغه دله مېنځه وړلو هڅه به یې کوله. او له دې سره دحضرت عائشې ﷝ خپل عادت هم داسې و چې کله به هم کومه پوښتنه ورته پیداکېدله ، او یا به ددین په کومه خبره سمه پوه نه شوه ، نو سمدلاسه به یې له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کوله ، او په همدې وخت هغې لیک لوست زده کړل ، قرآن کریم یې ناظره زده کړه، د علم انساب په اړه یې ژوړ معلومات ترلاسه کړل، دعربو له راتلونکو وفدونو (ډلو) څخه یې دعلم طب زده کړه ترلاسه کړه . دشریعت په اسرارو باندې دپوهې ، او ددین دضروریاتو له پېژندنې ، او په ټولو نبوي علمونوکې له پوره

مهارت سره سره يې له قرآن او حديث څخه د مسائلو داستنباط او رااستلو په لاره کې يې هم پوره لاس درلود ، او په دې ډول همدا د نبوت دربار او د انسانيت دستر ښوونکي د رسالت درسګاه د هغې رضي الله عنها د علم پوهې او کمال له پاره ترټولو غټه او بنيادي ذريعه وګرځېدله.

## کورنی ژوند

دحضرت عائشې رضي الله عنها کورني ژوند په ډېره نيستي ، فقر او سادګي سره تېرېدو ، کوم کورته چې هغه دناوې په توګه راغلې وه هغه دنبوت کور و ، چې دهغوی ټوله شتمني يو څو دګټو په شمېر شيان و ، دشپې درڼا له پاره ځراغ هم دهغې کورنۍ له وس څخه وتلې خبره وه ،

څلوېښت څلوېښت شپې به تېرېدلې خو په کور کې به ځراغ بل نه شو ، پوره پوره مياشت به تېره شوه په کور کې به نغری تود نه شو . يواځې دڅو دانو کجورو په خوړلو او داوبو په څښلو سره به يې ګوزران کاوه ، او که به کله ناکله دخوراک کوم شی کورته راغی نو هغه به هم دخپلې طبعي لورېنې له امله د الله جل جلاله په لاره کې خيرات کېدو ، په کور کې ټول دوه تنه و ، رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت عائشه رضي الله عنها او څو ورځې وروسته بيا يوه وينځه بريرة رضي الله عنها هم دکورنۍ غړې شوه ، خو يوه ډېره قيمتي شمتني او دولت په کور کې شتون درلود او هغه داچې دکورنۍ دغړيو ترمېنځ بېپايه مينه او الفت.........!

همدا وجه وه چې په نهه کلنۍ کې دعائشې دمېرمنتوب په ژوند کې له کورنيو ستونزو او تنګلاسيو سره سره بيا هم يواځې د (ايلاء) له پېښې

پرته هیڅکله هم بله داسې پېښه رامنځته نه شوه چې هغه زړه دردوونکې او پرېشان کونکې وي.او دنبوت (علی صاحبها الصلاة والتحیة) په بڼ کې یو له بل سره مینه ، همدردي ، خیرخواهي ، او داتفاق یووالي، په چاپېریال کې داعتماد او باور نغمې پورته کېدلې.

## اخلاق او عادتونه

الله جل جلاله حضرت عائشې رضي الله عنها ته بې کچې ښه خویونه او دستاینې وړ صفتونه ورکړي وو، کورنی ژوند یې که څه هم په تنګلاسي کې تېرېدو خو بیا هم هیڅکله یې یو حرف هم دشکایت په ډول له خولې نه دی وتلی ، او تل یې دصبر او زغم ډېره بله ساتلې ، بلکې تل یې درسول الله ﷺ اطاعت کړی ، او هروخت یې دهغه ﷺ دخوشحاله کولو په لاره کې پوره پوره هڅې کړې دي ، تردې چې دهغه ﷺ دنږدې خپلوانو خوشحاله ساتلو ته یې هم پام لرنه کوله.

په عبادت باندې دمشغولیت حال یې داسې و چې : تهجد ، څاښت، او نورو نفلي عبادتونه یې په هیڅ حال کې نه پرېښودل ، په سخته او زیاته ګرمي کې به یې هم روژې نیولې ، هرکال حج کول یې عادت ؤ، له الله جل جلاله څخه وېره او داخرت فکر هر وخت پرې غالب و، او کله چې به یې له سترګو څخه اوښکې روانې شوې بیا به د درېدلو نه وې، او په زړه کې یې دومره نرمي لرله چې ډېر ژر به یې سترګې لمدېدلې ، او په طبیعت کې یې د ښندنې او سخاوت حال داسې ؤ چې په یوه ورځ یولک درهمه خیراتول او ځان ته هیڅ هم نه پرېښودل دا ورته یوه معمولي خبره وه ، تل

يې دخير په کارونو کې له خپلو خوېندو سره مرسته کوله، او دهغوی له روا سپارښت څخه يې هيڅکله هم سپمانه کوله.

ترخپله وسه يې دچااحسان په ځان نه پرېښود ، له طبعي خپلواکي سره سره زياته انصاف خوښوونکې هم وه، او دزړورتوب او جرات حال يې داسې و چې په تورو تورو شپو کې به يوائې هديرې ته تلله ، دجهاد په ميدان کې دهغې ﷺ کارنامې دتاريخ په سينه په ښکاره ډول ليکلې شوې دي، د حق ويلو او ځرګندولو په لاره کې تر ټول ستر واکمن هم ورته هيڅ ښکارېدو، دډېر حساس طبيعت څښتنه وه ، وړې وړې او معمولي خبرې ته يې هم پام لرنه کوله، امر بالمعروف،نهی عن المنکر، او دخلکو تر مينځ دروغې جوړې راوستلو فريضه به يې تل پرځای کوله ،له غلامانو او تر لاس لاندې خلکو سره به يې تل ، شفقت او نرمي ښه سلوک کاوه،تر خپلو ښوېورې يې له ټولو خلکو سره ښه راشه درشه کوله ، او دهغوی ښېګنې به يې په خلاص زړه او لوړ غږ سره بيانولې ، له خلکو سره دراشه درشې په وخت دهغوی دحيثيت په پام کې نيول يې دوم عادت و.

له غيبت ، بدويلو، تور لګولو ، او بېايه نيوکو څخه يې ټول ژوند ځان ساتلی ، (پرده) چې دمېرمن توب يو ضروري صفت اوفطرتي ګاڼه،او شتمني ده، هغې ته يې تل په کلکه سره پام لرنه کوله،تردې چې دخپل رضاعي پلار له ورور څخه يې هم پرده کول غوښتل خو د رسول الله ﷺ د دينې ... غوښتې پرېنسټ يې له هغه څخه پرده کول پرېښودل.

له ... ټولو ... ګړتيا ، سره سره الله ﷻ هغه ﷺ دعاجزي او خاکساري په

صفتونو سره هم نازولې وه، تر دې چې هغه له سره تر پوښو تپوله دعاجزي او خاکساري يوه نمونه وه، دځان ستاينه يې دبل چاله خولې اورېدل هم نه خوښول، او همدا حالت او عادت يې ان دمړينې په وخت هم په ځای ساتلی و، او له همدې امله يې عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته دراتلو په اجازه ورکولو کې هم دافکر ورسره و : داسې نه چې هغه راشي او بيا زما ستاينې او صفتونه شروع کړي.

لنډه داچې : هغه رضي الله عنها ديو داسې ذات خاونده وه چې : ټولو ښېګڼو او ستاينو يوه ښېلګه وه. چې : روښتونولي ،ديانت ، امانت ، قناعت ، فرمان برداري، پاکي، ښندنه او سخاوت ، زړورتيا ، فقاهت ، هرڅه ته پاملرنه ،(عنايت)، عبادت ، ذهانت، ځيرکتيا ، فصاحت، اوبلاغت ، پاک لمني، او له خدايه څخه وېره،پرهېزګاري، تقوی ، سادګي، له مخلوقاتو بې پروائي، او په ځان کې تواضع او عاجزي، صبر، تحمل ، عفو ، او بخښنه ، او ددې په څېر ښکلي او دستاينې وړ صفتونه ټول دهغې رضي الله عنها په ذات مبارک کې رايوځای شوي وو.

## دنبوي حديثونو روايت نقل کول :

له هغې رضي الله عنها څخه دصحابه کرامو ، او صحابياتو رضي الله عنهن يوې لويې ډلې په علمي ډګر کې استفاده او زده کړه کړې ده دنورو لويو صحابه کرامو رضي الله عنهم په څېر هغې رضي الله عنها هم دخپل غلام (ابويونس، چې ليک لوست يې کولای شو) په لاس دقرآن کريم يوه نسخه تياره کړې وه، او همداراز له هغې رضي الله عنها څخه دتفسير په اړه هم ډېر روايتونه نقل شوي دي، او ددې

Scanned by CamScanner

خبرې اندازه له دې څخه لګېدلای شي چې امام مسلمؒ چې په خپل کتاب (صحیح مسلم) کې دتفسیر په اړه څومره روایتونه رااخستي دهغو ډېره برخه یې له ام المؤمنین عائشې او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه رااخستې ده.

دعلم حدیث په برخه کې هم دهغې رضي الله عنها ستر خدمتونه موجود دي ، هغه رضي الله عنها د (**بلغواعني ولوآیة**) یو عملي بېلګه او مثال وه،او امت ته درسول الله ﷺ دهر هر فعل او هرقول درسولو په فکر کې وه، او له همدې امله دهغې رضي الله عنها درواياتو شمېره (چې ۲۲۱۰دی) له څوصحابه کرامو رضي الله عنهم پرته ترټولو لوړه شمېره ده. له هغه (۲۲۱۰) راياتو څخه يې په صحيحينو (بخاري او مسلم) کې (۲۸۶) روايتونه راغلي، چې په هغو کې (۱۷۴) روايتونه په دواړو کې راغلي دي. او نور روايتونه يې بياد حديثو په نورکتابونو کې راغلي دي. (سيرت عائشه ص: ۱۸۸)

## حديث پوهنه (درايت حديث)

درواياتو له ډېروالي سره سره تفقه ، اجتهاد، اوله قرآن او حديث څخه ددينې مسئلو په رااستلو او استنباط کې هم د هغې رضي الله عنها دژوند يو ه ځلانده برخه ده، چې په هغه کې يې نه يواځې تر ښځو بلکې تر ډېرو نارينه علماؤ هم لوړ حيثيت درلود.

حضرت علي رضي الله عنه چې کله کوفه داسلامي خلافت دارالخلافه وګرزاوه نو هغه وخت ځرنګه چې دمشرانو صحابه کرامو رضي الله عنهم يو لوی شمير له مدينې منورې څخه وتلي اونورو ښارونو ته تللي وو، نو په مدينه منوره

کې چې په کوم چاباندې دعلم ، تفقه او فتاوی بې ګلورین و دهغوی له ډلې یوه هم ام المؤمنین حضرت عائشه رضي الله عنها هم وه.

او بیاچې کله صحابه کرامو په ټولو اسلامي ملکونو کې دین او علم ډېوه بله کړه هغه وخت بیا ام المؤمنین حضرت عائشه رضي الله عنها داسلام په ستره درسګاه نبوي حجره کې اوسېدله ، ماشومان ، ښځې ،او هغه نارینه چې حضرت عائشې رضي الله عنها ورځخه پرده نه لرله ، هغوی ټول به حجرې ته دننه ورتلل ، او نور دعلم او دین تږي خلک به له حجرې دباندې په نبوي جمات کې دهغې په علمې او تعلیمي مجلس کې شریک کېدل، او په دروازه به پرده ځوړنده وه، او هغه رضي الله عنها به دپردې ترشا ناسته وه ، او په همدې ډول به دسوال ، ځواب او ښوونې او زده کړې سلسله روانه وه.

له دې علمي ناستې پرته به هم هغې رضي الله عنها دکورنۍ دماشومانو نجونو او هلکانو ، او دکلي یتیمو ماشومانو ښوونه او روزنه کوله ، او همداراز به هر کال دحج په وخت هم د ( حرا ) غره او (ثبیر) نومي ځای ترمنځ دهغې رضي الله عنها خیمه درېدله ، علم او عرفان تږي به له لرې لرې ملکونو ځخه ډلې ډلې راتلل ،او دخېمې په شاوخوا کې به درس په حلقه کې ګډون کاوه، او خپله علمي تنده به يې سړوله، او همدا وجه وه چې دتابعینو په زمانه کې ددې دور ټولو علماؤ له هغې حضرت عائشة رضي الله عنها ځخه دعلم او پوهې په لاره کې ګټه ترلاسه کړې وه.



Scanned by CamScanner

# فضائل او مناقب

## دالله ﷻ په دربار کې رتبه:

دالله ﷻ په نزد دهغې رضي الله عنها څه مرتبه وه؟ ددې اندازه له دې څخه په ښه ډول کېدلای شي چې:

(۱) الله ﷻ دهغې دپاکلمنې په اړه اولس اياتونه نازل کړي چې تراوسه دقرآن کريم يوه برخه دي ، او که خدای کول چې تل ترتله به دهغې رضي الله عنها دلوړشان او عظمت له پاره يو ښکاره ثبوت وي.

(۲) او همداراز دهغې رضي الله عنها په برکت الله ﷻ دتيمم حکم نازل کړی ، او دټول امت له پاره يې داساني لاره خلاصه کړه .

(۳) دالله ﷻ په اجازه سره جبرائيل عليه السلام دعائشې رضي الله عنها يو تصوير نبي عليه السلام ته راوړی او وې ويل: دابه په دنيااو اخرت کې ستاکورودانه (ښځه) وي.

(۴) او همدا راز رسول الله ﷺ هغې ته جبرائيل عليه السلام له لوري سلام راوړی.

(ان جبرئيل يقرأعليك السلام)

رواه البخاری کتاب الاستئذان (٥٦٨٣) ومسلم کتاب فضائل الصحابة (٤٤٧٩) والترمذی کتاب الاستئذان (٢٦١٧)

## درسول الله ﷺ له نظره دهغې رضي الله عنها رتبه:

درسول الله ﷺ په دربار کې دهغې رضي الله عنها عظمت او دمرتبې لوړوالی هم له چا

Scanned by CamScanner

پټ نه ده بلکې دعامواو خاصو خلکو تر منځ يو منل شوی حقیقت دی.

(٥) حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ مُرَّةَ الْهَمْدَانِيَّ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ.

رواه البخاری کتاب احادیث الانبیاء (٣١٧٩) ومسلم کتاب فضائل الصحابه (۴۴۵۹) والترمذی کتاب الاطعمة (١٧٥٧)

**ژباړه:** رسول اللهﷺ وویل: عائشه په ټولو ښځویاندې دومره فضیلت او غوروالی لري لکه چې (ثرید) وړه شوې مړۍ په نور خوراکونو باندې فضیلت لري.

(ثرید) هغې مړۍ ته ویل کیږي: چې په شوروااو بل کتنغ کې وړه شوې وي، چې داډول خوراک په عربو کې ترټولو غوره او خوندور خوراک و.

(٥) حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ قَالَ خَالِدٌ الْحَذَّاءُ حَدَّثَنَا عَنْ أَبِي عُثْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ عَلَى جَيْشِ ذَاتِ السُّلَاسِلِ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ عَائِشَةُ (الحديث)

رواه البخاری کتاب المناقب (٣٣٨٩) ومسلم کتاب فضائل الصحابة (٤٣٩٧) والترمذی کتاب المناقب (٣٨٢٠)

**ژباړه:** حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه وایي: له رسول اللهﷺ څخه مې پوښتنه وکړه: په خلکو کې ترټولو زیات څوک درباندې ګران دی؟ رسول اللهﷺ وویل حضرت عائشه (رضی الله عنها).

(۷) يو ځل بيا نبي ﷺ وويل:

(لَاتُؤْذِينِي فِي عَائِشَةَ فَإِنَّ الْوَحْيَ لَمْ يَأْتِنِي وَأَنَا فِي ثَوْبِ امْرَأَةٍ إِلَّا عَائِشَةَ)

رواه البخاری كتاب الهبة (۲۳۹۳) ومسلم كتاب فضائل الصحابة (۴۴۷۱)

والترمذی كتاب المناقب (۳۸۱۴)

**ژباړه**: (دغير اختياري كار په اړه راځخه غوښتنه مه کوی) دعائشې په اړه تکليف مه راکوی ځکه چې له حضرت عائشې پرته دهيڅ ښځې په بستره کې ما ته وحې نه ده راغلې)

(۸) يو ځل نبي ﷺ فاطمې ؓ ته وويل:

(ای بنية الست تحبين ما احب فقالت بلى فقال فاحبى هذه لعايشة)

رواه البخاری كتاب الهبة (۲۳۹۳) ومسلم كتاب فضائل الصحابة (۴۴۷۲)

والنسائی كتاب عشرة النساء (۳۸۸۳)

**ژباړه**: ګرانې لورې! ايا ته له هغه شي سره مينه نه لرې له کوم سره چې زه مينه لرم؟ فاطمې ؓ وويل: ولې نه (يعني زه به له هغه شي سره هرومرو مينه کوم له کوم شي سره چې ته مينه لرې) بيا نبي ؑ وويل: نو بيا له حضرت عائشې سره مينه کوه)

(۹) رسول الله ﷺ ته دژوند په وروستيو کې دمسواک ور ژوونکې هم عائشه ؓ وه، رسول الله ﷺ چې دنورو ښځو په حجرو کې و نو له سختې ناروغي سره سره به يې بيا هم پوښتنه کوله چې نن کومه ورځ ده؟ ګواکې

دحضرت عائشې رضي الله عنها دنمبردورځې انتظار يې کاوه، نو همدا ؤ چې رسول الله ﷺ دنورو ښځو په غوښتنه اوخوښه دحضرت عائشې ؓ حجرې ته راغی

(حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ عَنْ هِشَامٍ وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا أَبُو مَرْوَانَ يَحْيَى بْنُ أَبِي زَكَرِيَّاءَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَتَعَذَّرُ فِي مَرَضِهِ أَيْنَ أَنَا الْيَوْمَ أَيْنَ أَنَا غَدًا اسْتِبْطَاءً لِيَوْمِ عَائِشَةَ)

رواه البخاری کتاب الجنائز (۳۰۰) ومسلم کتاب السلام (۴۰۶۵) والترمذی کتاب الدعوات (۳۴۱۸) وابن ماجة)

## دامت دسترو علماؤا و مشرانو له نظره

(۱۰) حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ الرَّبِيعِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمَخْزُومِيُّ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ مَا أَشْكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا ( رواه الترمذی کتاب المناقب (۳۸۳۸)

**ژباړه**: ابوموسی رضي الله عنه وايي: چې کله به هم موږ (صحابه کرامو رضي الله عنهم) ته کومه ستونزمنه او مشکله مسئله راپیښیدله، اوموږ به له حضرت عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه کوله نو هغه رضي الله عنها به پرې خبره، او پوه وه.

(۱۱) عن موسی بن طلحة قال ما رایت احد افصح من عائشة.

(موسی بن طلحة رضي الله عنه وايي: تر عائشې رضي الله عنها زيات فصيح مې څوک نه دی ليدلی)

Scanned by CamScanner

(۱۲) دتابعينو لاربنود امام زهري رحمة الله علیه وایي:

حدثنا علي بن حمشاذ العدل، ثنا بشر بن موسى، ثنا الحميدي، ثنا سفيان، عن الزهري، قال: « لو جمع علم الناس كلهم، ثم علم أزواج النبي صلى الله عليه وسلم لكانت عائشة أوسعهم علما »

المستدرك على الصحيحين للحاكم (٦٨١٢)

**ژباړه**: که دټولو خلکو او امهات المؤمنين علم سره يوځای شي دحضرت عائشي رضي الله عنها علم تر ټولو زيات دی.

(۱۳) او يو بل ځای کې ويلي:

(كانت عائشة اعلم الناس يسئلها الاكابر اصحاب رسول الله ﷺ)

**ژباړه**: عائشه رضي الله عنها ترټولو خلکوښه عالمه وه، لوی لوی صحابه کرام رضي الله عنهم به له هغې رضي الله عنها څخه پوښتني کولې.

## مړینه (وفات)

دمعاويه رضي الله عنه دخلافت په وروستيو کې داته شپېته (۶۸) کلونو په عمر په (۵۸ هـ) کال دروژې په مياشت کې ناروغه شوه او دهمدې روژې په (۱۷) نيټه له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. اروادې ښاده وي.

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ (١٥٦) (البقرة)

له هغې رضي الله عنها څخه ښه شيان په ميراث پاتې شول چې هغه کې يو ځنګل هم و، او بيا هغه ددې دخور اسماء رضي الله عنها په برخه شو، معاويه رضي الله عنه هغه ځنګل په يو لک درهمه ترې واخست، اسماء رضي الله عنها هغه ټولې روپۍ په خپلو خپلوانو باندې ووېشلې.

Scanned by CamScanner

# دحضرت عائشې رضي الله عنها نکاح

حضرت رسول الله ﷺ د خدیجة الکبری رضي الله عنها له مړینې وروسته ډېر خفه و، د عثمان بن مطعون رضي الله عنه ښځه خوله بنت حکیم رضي الله عنها ورته راغله او وې ویل:

یارسول الله تاسو بله نکاح وکړي!

نبي علیه السلام وویل: له چا سره یې وکړم؟

خوله رضي الله عنها وویل: کونډې او پېغلې هرډول نجونې شته له چاسره موچې خوښه وي له هغه سره واده وکړئ.

نبي علیه السلام وویل: هغه څوک دي؟

خولې رضي الله عنها وویل: کونډه خو سوده بنت زمعه رضي الله عنها ده، او پېغله د ابوبکر رضي الله عنه لور عائشه رضي الله عنها ده.

نبي علیه السلام وویل: سمه ده ښه به داوي چې دعائشې رضي الله عنها په اړه دهغې له کورنۍ سره خبره وکړې.

خوله رضي الله عنها دابوبکر صدیق رضي الله عنه کره ورغله او له هغه سره یې د نبي علیه السلام له پاره دعائشې د واده خبره یاده کړه. ابوبکر رضي الله عنه وویل: خولې! عائشه خو دنبي علیه السلام وریره ده (نو هغه به له نبي علیه السلام سره نکاح څه ډول وکړای شي؟) خوله رضي الله عنها بېرته نبي علیه السلام ته راغله او په دې اړه یې له نبي علیه السلام څخه پوښتنه وکړه. نبي علیه السلام وویل: ابوبکر زما اسلامي ورور دی، او اسلامي وروڼو ترمنځ دوستي او یوبل ته لوڼې ورکول روادي.

کله چې دامسئله ابوبکر رضي الله عنه ته معلومه شوه، نو په ډېره خوشحالي سره

يې دا مبارکه دوستي ومنله، خوځرنګه چې تردې وړاندې عائشه ﷺ دجبیربن مطعم دزوی په نوم دکېدلو پرېکړه شوې وه، ځکه خو ضروري وه چې له هغوی څخه پوښتنه وکړي، نو ابوبکر ﷺ دجبیربن مطعم کره ورغی، او له هغوی څخه يې وپوښتل :تاسو غوښتل چې دعائشې واده له خپل زوی سره وکړئ ، اوس په دې اړه ستاسو څه رایه ده؟ (خو څرنګه چې تردې وخته دجبیربن مطعم کور نی

اسلام نه و قبول کړی، نو ځکه) دهغه ښځې وویل: که دانجلۍ زموږ کورته راشي نو زموږ زوی به هم بې لارې او دخپلو پلرونو او نیکونو له دین څخه واړه وي، او دې کارته موږ په هیڅ صورت هم تیار نه یو.

ابوبکر چې له هغه ځایه راستون شونو خولې ﷺ ته یې وویل: دادوستي زما قبوله ده ، او رسول الله ﷺ چې کله هم وغواړي دنکاح تړلو له پاره راتلای شي،له دې وروسته نبي ﷺ دابوبکر ﷺ کره ورغی او له عائشې ﷺ سره نکاح وتړله ، ولور( مهر) يې څلور سوه درهمه وټاکل شو.

(رواه البخاری کتاب المناقب _۳۶۰۵) ومسلم کتاب النکاح (۳۷۲۳) والنسائی کتاب النکاح (۳۲۰۳)

## دام المؤمنین مدینې منورې ته هجرت

دحضرت عائشې ﷺ له نکاح وروسته نږدې درې کاله هغه دخپل مور او پلار په کور کې تېر کړل ، په دې درې کلونو کې دوه کاله درې میاشتې په مکه مکرمه کې ، او پاتې او ه یا اته میاشتې له هجرت وروسته په مدینه منور کې تېر کړل . او دهجرت کیسه يې داسې وه:

Scanned by CamScanner

داپېښه حضرت عائشه ﷺ په خپله داسې بيانوي، او وايي: درسول الله ﷺ ورځنی عادت داسې و چې هره ورځ به سهار او يا ماښام زموږ کره راتلو، يوه ورځ دخپل عادت خلاف په غرمه کې زموږ کره په داسې ډول راغی چې مخ مبارک يې په څادر پټ کړی و، په دې وخت کې له حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره دهغه دواړې لوڼې عائشه او اسماء رضی الله عنهما ناستې وې، رسول الله ﷺ په لوړ غږ وويل: ابوبکره يوه شيبه نور خلک له ځانه لرې کړه، زه غواړم چې درسره څو ضروري خبرې وکړم

حضرت ابوبکر رضی الله عنه وويل: يارسول الله دلته پردي خلک نشته يواځې ستا خپل خپلوان دي راځئ راشئ. رسول الله ﷺ کور ته راننوت او له ابوبکر سره يې دهجرت خبره ياده کړه، عائشې او اسماء رضی الله عنهما په دواړو دهغوی له پاره دسفر سامان تيار کړ، او دواړو له خپل ګران او پلارني تاتوبي سره مخه ښه وکړه، او مخ په مدينه روان شول، او خپل ټول کور او دکورنۍ غړي يې دښمنانو ته پرېښودل.

او چې کله په مدينه کې حلات سم شول نوبيا رسول الله ﷺ مدينې ته دخپلې کورنۍ دراوستلو له پاره زيدبن حارثه رضی الله عنه او يو غلام ابورافع دمکې په لوري ولېږل. او همدارازابو بکر رضی الله عنه هم يو سړی مکې ته ولېږو. هغه عبدالرحمن بن ابي بکر له خپلې مور ام رومان او دواړو خوېندو عائشې او اسماء رضی الله عنهما سره يوځای له مکې څخه دمدينې په لور روان کړل. په کوم اوښ چې ام رومان او عائشه رضی الله عنها سپرې وې په لاره کې هغه اوښ وترهېدو، او په تېزو منډو يې شروع وکړه، داسې ښکارېدله چې اوس به کجاوه ترې ولوېږي، اوس به کجاوه ترې

ولوېږي، اوښ په ډېره تيزي سره منډې وهلې ام رومان ﷺ په خپلې ګراني لور حضرت عائشې ﷺ باندې وېرېدله او په چيغو چيغو يې ژړل، په پای کې له څو ميله مزله وروسته اوښ راوګرزول شو او دام رومان زړه په کرارشو او اوښکې يې ودرېدلې (رواه البخاري، باب الهجرة (۳۹۰۵) طبقات النساء دسيرت عائشې په حواله)

## درسول الله کور ته دعائشې راتلل ( واده )

حضرت عائشې ﷺ چې کله مدينې ته هجرت وکړ نو هغلته يې له خپلو خپلوانو سره دبنو حارث بن خزرج په محله کې استوګنه شوه او دلته يې له خپلې مور سره يو ځای وه. يا اته مياشتې تېرې کړې، دمدينې منورې داوبواو هوا دنه سمون له امله به ډېر وخت مهاجرين صحابه کرام ناروغه وو، خپله ابوبکر او دهغه لور حضرت عائشه ﷺ هم ناروغه شول، ناروغي دومره زياته شوه چې دحضرت عائشې ﷺ دسر تول وېښتان ورېژدل

دحضرت عائشې له روغتيا وروسته حضرت ابوبکر ﷺ دحضرت رسول الله ﷺ کره ورغی او ورته وې ويل: يارسول الله! نور ولې خپله ښځه خپل کور ته نه راولې؟ حضرت رسول الله ﷺ ورته وويل: اوس له ما سره د مهر(ولور) اداء کولو له پاره روپۍ نشته، ابوبکر ﷺ وړانديز وکړ چې زما له مال څخه يې واخله.

بيا رسول الله ﷺ دوولس اوقيې او نش (يعنې سل روپۍ) له ابوبکر ﷺ څخه په قرض واخستلې او عائشې ﷺ ته يې ورولېږلې، بيا دانصارو ښځې د ناوې وړلو له پاره دابوبکر ﷺ کورته ورغلې، ام رومان ﷺ

Scanned by CamScanner

عائشې ﷺ ته ورغږ کړل ، په دې وخت کې عائشې له خپلو ملګرو سره په (ناوکیانو) باندې لوبې کولې . مور خپله ګرانه لور تر لاس ونیوله او لاس، مخ یې ور پرېمنځل وېښتان یې ورپاک کړل او بیا یې هغه کوټې ته راوستله چې دانصارو ښځې (وراوالې) په کې دناوې دوړلو په انتظار ناستې ولې ، کله چې ناوې کوټې ته ور دننه شوه، نو ټولو مېلمنو (وراوالو) په یوه خوله په لوړ او خوشحاله کونکي غږ سره وویل: علی الخیر والبرکة وعلی خیرطائر(یعني ستا راتلل دې په خیر او برکت سره وي) او د ناوې تود هرکلی یې وکړ.

لږ وروسته حضرت رسول الله ﷺ خپله هم راغی. اسماء بنت یزید ﷺ چې دعائشې ملګرې وه هغه وایي: چې په دې وخت کې د رسول الله ﷺ او نورو مېلمنو له پاره له یوې پیالې پیو پرته بل هیڅ شی په کور کې نه و، نو هغه یوه پیاله پۍ د نبي ﷺ مخې ته وړاندې شولې ، حضرت رسول الله ﷺ هغه ومنلې ، او له هغه پیالې څخه یې څه پۍ وڅیښلې او پاتې نورې یې عائشې ﷺ ته ورکړې ، خو هغه وشرمېدله ، اسماء ﷺ وایي ما ورته وویل: دادحضرت رسول الله ﷺ ډالۍ ده مه یې واپس کوه ، نو هغې له شرمېدلو سره سره پیاله واخستله او څه پۍ یې ترې وڅیښلې ، بیا یې پیاله کېښودله. حضرت رسول الله ﷺ حضرت عائشې ﷺ ته وویل. پیاله خپلو ملګروته دڅښلو له پاره ورکړه. مونږ وویل : یارسول الله ﷺ داوخت زمونږزړه دپیو څیښلو ته نه کیږي ، حضرت رسول الله ﷺ وویل: دروغ مه وایئ، ځکه چې دهر سړي یو یو دروغ لیکل کیږي

په دې ډول درسول الله ﷺ او عائشې ﷺ له نکاح څخه تر واده پورې ټول

دودونه په ډېره سادګي او بې تکلفي سره سرته ورسېدل.

(رواه مسلم کتاب النکاح (۲۵۴۸، ۲۵۴۷) وابوداؤد کتاب النکاح (۱۸۱۱) وابن ماجه کتاب النکاح (۱۸۲۲) واحمد باقی مسند الانصار)

## درسول الله ﷺ دعائشيؓ دخوب خیال ساتل

حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: یوه شپه چې رسول الله ﷺ له ماسره و، رسول الله ﷺ خپل څادر کېښود او څپلۍ یې ویستلې، ماهغه (څادر او څپلۍ) درسول الله ﷺ تر پښو کېښودل.

حضرت رسول الله ﷺ په اړخ پرېوت، بیا هغه تردومره وخته پورې داسې پروت و، ترڅو چې زه ویده شم، (کله چې یقین شو چې زه ویده یم) نوبیا یې ډېر په سوکه سره څادر واخیست، او څپلۍ یې په پښو کړې او له کوره څخه دباندې ووت، او په ډېر سوکه سره یې دروازه بنده کړه، نو ماهم خپل ځان په جامو کې بنه ونغښت او په حضرت رسول الله ﷺ پسې له شار وانه شوم، تردې چې حضرت رسول الله ﷺ (جنة البقیع) نومې هدیرې ته ورسېدو، بیا هغه ﷺ هلته تر ډېره وخته پورې ولاړ و، بیا یې درې ځله خپل لاسونه پورته کړل او دعاء یې وکړه، بیا ډېر په چټکي سره بېرته راوګرزېدو، او زه هم په چټکي سره د کور په لور روانه شوم، او تر حضرت رسول الله ﷺ دمخه کورته ورسېدم، زه چې کله پرېوتم حضرت رسول الله ﷺ کورته راننه شو، او ماته یې ډېر په مینه وویل: عائشې ته وېرېدلې او ناکراره ولې یې؟

حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: ماورته وویل: یا رسول الله ﷺ! هیڅ خبره نه ده،

Scanned by CamScanner

حضرت رسول الله ﷺ وويل: ته راته وايې؟ او که (لطيف ، او خبير) خدای ما خبر کړي؟ حضرت عائشې رضي الله عنها وويل: يا رسول الله ! زما مور او پلار دې له تا قربان شي او بيا يې ټوله کيسه حضرت رسول الله ﷺ ته واوروله.

رسول الله ﷺ ورته وويل: ايا هغه سيوری ستا و چې تر ما له مخه ښکاره کېدو؟ ما ورته وويل: هو هغه زما و . بيا رسول الله ﷺ زه (د ناز په توګه) يوه څپېړه ووهلم چې په هغه سره زه لږ خفه شوم ، بيا يې راته وويل: ايا ته داګمان کوې چې الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ به له تا سره بې انصافي کوي؟

حضرت عائشې رضي الله عنها وويل: ايا خلک چې هرڅومره خبره پټه کړي الله جل جلاله پرې پوهيږي؟ رسول الله ﷺ وويل: هو پرې پوهيږي ، ماته جبرائيل عليه السلام هغه وخت راغلی و چې کله تا زه ليدلی وم ، بيا هغه راته په سوکه او تيټ غږ سره خبره وکړه او ماهم ورته په تيټ غږ ځواب ورکړ ، چې ته يې نه واورې . او ستا د بې پردګي له امله جبرائيل عليه السلام ستاخوا ته نه راغی. او کله چې ما ګمان وکړ چې ته ويده شوې ، نو ځکه مې ته له خوبه ويښه نه کړې ، ماويل داسې نه چې په راويښولو سره ته ونه وېرېږې .

بيا جبرائيل عليه السلام نبي عليه السلام ته وويل: ستارب حکم درکوي چې په (جنة البقيع) نومې هديره کې د ښخ شويو خلکو خواته ورشه ،او هغوی ته د مغفرت او بخښنې دعاء وغواړه .

حضرت عائشې رضي الله عنها پوښتنه وکړه: يارسول الله ﷺ موږ هغوی ته څه ډول دعاوکړو ؟ رسول الله ﷺ وويل: تاسو داسې ووایاست:

**السلام علی اهل الديار من المؤمنين والمسلمين ويرحم الله المستقدمين منا والمستاخرين وانا ان شاء الله للاحقون .**

(سلام دي وي په مومنانو او مسلمانو نارینه او ښځینه وو باندې ، چې په دې کورونو کې اوسیږي (یعني په دې قبرونو کې خښ کړل شوي دي) او الله ﷻ دې زموږ په هغه وروڼو او خوېندو باندې ورحمیږي څوک چې ترموږ مخکې له دې نړۍ تللي دي، او په هغو باندې هم څوک چې وروسته پاتې دي ( یعنې تر اوسه ژوندي دي) له شک پرته به موږ هم (یوه ورځ) که خدای کول : ان شاءالله ) له تاسو سره یوځای کیږو ( یعنې موږ به هم یوه ورځ مړه کیږو).

## دناز مقام یې دومره و

یوه ورځ حضرت عائشه رضي الله عنها له حضرت رسول الله ﷺ څخه په کومه خبره خفه شوې وه، او مخ یې په بل لور اړولی و ناسته وه، په همدې حال حضرت رسول الله ﷺ ته دکجورو یوه تحفه (ډالۍ) چاراوړه، او حضرت رسول الله ﷺ هغه قبوله کړه.

حضرت رسول الله ﷺ دوه کجورې واخستلې او دحضرت عائشې رضي الله عنها مخې ته یې کېښودلې او ورته یې وویل: ای حمېرا ! واخله داکجورې د الله ﷻ په نوم وخوره. حضرت عائشې رضي الله عنها له نازه ورته وویل:ایا تر دې وړاندې مې بیا ستا دپلار په نوم باندې خوړلې ؟

حضرت رسول الله ﷺ چې دحضرت عائشې رضي الله عنها له لوري داسې ځواب واورېد نو تر ډېره مسکی و او په سوکه سوکه یې خندل .

(مستدرك حاكم)

Scanned by CamScanner

## ګرانې لورې! ایا ته له هغه چاسره مینه کوې له چاسره چې زه مینه کوم؟

حضرت رسول الله ﷺ تر خپله وسه په ټولو اختیاري کارونو کې له خپلو ښځو(ازواج مطهراتو) سره له عدل او انصاف څخه کار اخیست، او ګرانو ښځو بیا غوښتل چې د زړه مینه کې دې هم برابري وي، خو څرنګه چې د زړه مینه یو غیراختیاري کار دی او په هغه کې برابري دانسان د وس خبره نه ده، او څرنګه چې حضرت رسول الله ﷺ تر ټولو زیاته مینه له حضرت عائشې رضي الله عنها سره لرله، نوځکه هغوی غوښتل چې په دې غیر اختیاري کار (د زړه په مینه) کې دې هم برابري وي، او په همدې لړ کې هغوی یوه ورځ حضرت فاطمه رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته ورولېږله، حضرت فاطمې رضي الله عنها له رسول الله ﷺ څخه کورته د ورتللو اجازه وغوښتله، رسول الله ﷺ هغې ته اجازه ورکړه، حضرت فاطمه رضي الله عنها کورته رادننه شوه او وې ویل: زه ستا نورو ښځو درته رالېږلې یم او هغو د ابوقحافه (ابوبکر) رضي الله عنه دلور (عائشې رضي الله عنها) په اړه دعد ل او انصاف غوښتنه کوي

حضرت رسول الله ﷺ وویل: ګرانې لورې ایا ته له هغه چاسره مینه نه کوې، له چاسره چې زه مینه کوم؟ حضرت فاطمې رضي الله عنها وویل: ولې نه؟ (زه هم له هغه چاسره مینه لرم) نو رسول الله ﷺ حضرت فاطمې رضي الله عنها ته وویل: بس ته هم له عائشې سره مینه کوه. کله چې حضرت فاطمې رضي الله عنها دحضرت رسول الله ﷺ داخبره واورېدله نوسمدلاسه له هغه روانه شوه او نورو ښځو (ازواج مطهراتو) ته یې ټوله کیسه واوروله

هغوی بیا له فاطمې ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ ته ورشي او له هغه څخه دعدل ( دزړه په مینه کې دبرابري ) غوښتنه وکړي ، خو څرنګه چې فاطمې ؓ ته له حضرت عائشې ؓ سره د حضرت رسول الله ﷺ دمینې او محبت درک شوی ؤ او د رسول الله ﷺ خبره یې اورېدلې وه نو له بیا ورتللو څخه یې انکاروکړاو وې ویل: په خدای ﷻ قسم چې په دې اړه به بیا هیڅکله له رسول الله ﷺ سره خبره یاده نه کړم .

بیا هغوی (ازواج مطهراتو) حضرت زینب بنت جحش ؓ حضرت رسول الله ﷺ ته ور ولېږله حضرت عائشه ؓ وایي:یواځې زینب بنت جحش ؓ وه چې د رسول الله ﷺ په نزد یې په مرتبه کې زما مقابله کوله ، د دین په لحاظ، او له الله ﷻ څخه دوېرېدلو،روښتونولي او زړه سوي په لحاظ مې تر هغې زیات هیڅوک نه و لیدلی ...!

ام المؤمنین زینب بنت جحش ؓ نبي علیه السلام ته ورغله ،او کورته د ورننوتلو اجازه یې وغوښتله ، داوخت رسول الله ﷺ دعائشې ؓ کره داسې پروت و لکه څرنګه چې دفاطمې ؓ دراتلو په وخت هغلته و. زینب ؓ ته یې اجازه ورکړه، (هغه کورته رادننه شوه ) او رسول الله ﷺ ته یې وویل: ستا ازواج مطهراتو زه رالېږلې یم هغوی له تاڅخه د ابو قحافه دلور (عائشې) په اړه دعدل او انصاف غوښتنه کوي .

(رواه البخاري کتاب الهبة (۲۳۹۳) ومسلم کتاب فضائل الصحابه (۴۴۷۲)

## دیوې حبشي ښځې لوبه کتل!

حضرت عائشه ﷺ وايي: حضرت رسول الله ﷺ ناست و چې موږ يو ناڅاپه شوراو اوازو نه واورېدل ، او دماشومانو ناري مو ترغوږو شو. کله چې رسول الله ﷺ ور پورته شو ، وې ليدل چې يوه حبشي مېرمنه دماشومانو په وړاندې يو حيرانوونکې لوبه کوي، او نڅيږي ،او خلک تري چاپېر دي . رسول الله ﷺ عائشې ﷺ ته وويل: عائشې راشه ! هغه وګوره ؟ عائشه ﷺ راغله او د رسول الله ﷺ په اوږه يې خپل مخ مبارک کېښود ( داوږې او سر تر مېنځ يې ) دهغې ښځې لوبه کتله.

لږ وروسته رسول الله ﷺ عائشې ته وويل: زړه دې موړ شو ؟ زړه دې موړ شو ؟په هرځل به ماويل : نه ( زه يې ګورم ) او داخبره مې له دې نه کوله چې دلوبې کتلوسره مې مينه وه، بلکې ماغوښتل د حضرت رسول الله ﷺ په زړه کې له ماسره دمينې کچه ځان ته معلومه کړم ، چې له حضرت رسول الله ﷺ سره زما څومره قدر دی ؟ ترهغې پورې داسې ولاړ و چې حضرت رسول الله ﷺ ستړی شو .په دې وخت حضرت عمر ﷺ هلته تېر شو دهغه له وېرې خلک سره وتښتېدل . حضرت رسول الله ﷺ وويل: زه جني او انساني شيطانان وينم چې هغوی دعمر له وېرې په تېښته دي ، له دې وروسته بيا عائشه رالړې شوه.

(رواه الترمذی کتاب المناقب عن رسول الله(۳۶۲۴۰)

دحضرت رسول الله ﷺ داخبره : چې زه جني او انساني شيطانان وينم چې له دې ځايه تښتي، داپه دې لحاظ سره وه چې هغه خلک په بېځايه لوبه

اخته وه، او کېدای شي چې کوم ناخوښه خبره به هم پکې وه ، خو حرام کار ونه پکې نه وو ، ځکه که داسې وای ؛ نو بیا داځنګه شونې وه چې حضرت رسول الله ﷺ دې خپله هم کوري او عائشې ته دې هم دکتلو اجازه ورکړي.........؟ (تحفة الاحوذی)

## د رضاعي پلار له ورور څخه پرده کول

حضرت عائشه ؓ وايي: زما د رضاعي پلار (ابو القعيس) ورور (افلح نوم سړي) د پردې تر نازليدلو وروسته ، زما کره د راتللو اجازه وغوښتله ، ما وويل: ترڅو چې په دې اړه له حضرت رسول الله ﷺ څخه د شرعي حکم پوښتنه ونه کړم ، تر هغه وخت کورته د راننوتلو اجازه نه ورکوم.

کله چې حضرت رسول الله ﷺ راغی نو حضرت عائشې ؓ تو له کيسه ورته واوروله ، حضرت رسول الله ﷺ وپوښتل: ته له دې کار څخه څه شي راګرزولې وې، چې خپل رضاعي تره ته د راتللو اجازه ورکړې؟ حضرت عائشه ؓ وايي: ما ورته وويل: يا رسول الله ! نارينه خو ما ته پی نه (شيدې) نه دي راکړې؟ (د هغه له افلح سره هيڅ تړاو نشته ، ځکه چې هغه ددې ښځې لېور دی) حضرت رسول الله ﷺ چې دا خبره واورېدله نو وې ويل: افلح ته کورته د راتللو اجازه ورکوه ځکه چې هغه ستا رضاعي تره دی لاس دې سپېره (مه) شه.

رواه البخاری کتاب النکاح باب ابن الفحل (۷۶۴/۲) کتاب الادب باب قول النبی ﷺ تربت يمينك (۹۰۹/۲)

Scanned by CamScanner

## دحضرت عائشيؓ په رسول الله باندې غیرت کول

حضرت عروه ﷺ وایي: ام المؤمنین عائشې ﷺ ویل: یو ځل رسول الله ﷺ دشپې وخت زما له کوټې څخه دباندې وتلی و ، زه په دې خبره غیرت ونیوم ، بیا رسول الله ﷺ بېرته راغی چې زما حال ته یې وکتل وې ویل: عائشې څه پېښه ده؟ تاته خو غیرت نه درغی ؟ عائشې ﷺ وویل: زما په څېر ښځه به ستاسو په څېر خاوند باندې ولې غیرت نه کوي؟

حضرت رسول الله ﷺ وویل: ایا تاته خپل شیطان راغلی و؟ عائشې ﷺ وپوښتل : یارسول الله ﷺ ! ایا له ماسره هم شیطان شته؟ حضرت رسول الله ﷺ وویل: هو ! حضرت عائشې ﷺ وپوښتل: ایا له هر انسان سره شیطان وي ؟ حضرت رسول الله ﷺ وویل: هو. بیا حضرت عائشې ﷺ پوښتنه کړه : یارسول الله ﷺ ایا له تاسو سره هم شته؟

حضرت رسول الله ﷺ وویل : هو ! خو زما رب دهغه په مقابله کې زما مرسته کوي .نو هغه مسلمان شوي او یا زه ترې سالم شوی یم

رواه احمد باقی مسند الانصار(۲۳۷۰۱) ومسلم باب صفة القیامة(۵۰۳۵)

## دحضرت عائشيؓ ذهانت او پوهه

حضرت عائشه ﷺ وایي: یوې ښځې له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه : یارسول الله ﷺ ! دپاکي له پاره غسل څه ډول وکړم؟ حضرت رسول الله ﷺ وویل: دپمبه (کپا) یوه خوشبویه ټوټه واخله او په هغې سره اودس وکړه. هغې ښځې وویل: په پمبه سره به څه ډول اودس کوم ؟

حضرت رسول الله ﷺ وویل: په هغه سره اودس کوه. هغې ښځې بیا وویل: زه په هغه څه ډول وکړم؟ بیا حضرت رسول الله ﷺ د الله ﷻ تسبیح بیان کړه او له هغې ښځې څخه یې مخ واړاوه، ام المؤمنین حضرت عائشه ﷺ په دې وخت کې دحضرت رسول الله ﷺ په مجلس کې ناسته وه. هغه دحضرت رسول الله ﷺ په موخه (مقصد) باندې پوه شوه. نو حضرت عائشې ﷺ هغه مېرمنه له ځانه سره کړه، او هغې ته یې دحضرت رسول الله ﷺ مراد او موخه ورو پېژندله.

رواه النسائی کتاب الغسل (۴۲۴) والبخاری کتاب الحیض (۳۰۳) ومسلم کتاب الحیض (۴۹۹)

## دام المؤمنین عائشې" قران پوهنه

یو ځل یوچا له حضرت عائشې ﷺ څخه د دې آیت د مطلب په اړه وپوښتل:

(لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ) (البقرة:۲۸۶)

ژباړه: الله ﷻ هیڅوک تر خپل وس زیات نه مکلف کوي، هرڅه چې کوي د هغه ګټه او زیان به هغه ته رسیږي)

او له دې آیت سره سره یې لاندې آیت هم وړاندې کړ:

من يعمل سوءا يُجْزَ بِهِ (النساء:۱۲۳)

(هرڅوک چې بد کوي د هغه بدله به هغه ته ورکول کیږي)

په اصل کې د پوښتونکي موخه او مطلب دا و، چې کله داروښتیاوي نو بیا د الله ﷻ د مغفرت او رحمت شان څه شو؟ او بیا د خلاصون او نجات هیله ولې اړو؟

حضرت عائشي ﷺ وويل: کله چې ما له رسول الله ﷺ څخه ددې آيت دتفسير په اړه پوښتنه وکړې ده له هغه وخت تراوسه پورې ، لومړی سړی ته يې چې له ما څخه ددې آيت په اړه پوښتنه کوې.

بيا يې وويل: دالله ﷻ خبره سهي ده ، خو الله ﷻ د خپلو بندګانو وړې وړې ګناوې په لږ ازمويښت او مصيبت سره په اخته کولو باندې بخښي مسلمان کله ناروغه کيږي ، کله بيا بل کوم مصيبت پرې راځي ، تر دې چې کله ناکله په جيب کې کوم شئ واچوي او بيا ترې هېرشي ، او دهغه په پلټنه پسې پريشانه شي ( يعني ددې ټولو مصيبتونو له امله هغه ته دمغفرت او رحمت دروازې خلاصيږي) او پايله يې داسې چې لکه څرنګه چې سره زر له اوره پاک راوزي همداسې مسلمان هم له دنيا څخه پاک وزي (رواه الترمذی تفسيرآيت مذکور(ص ۲/۱۲۸)

## حضرت عائشه غصه شوې وه.....!

ام المؤمنين صفيې ﷺ ډېر ښه خوندور پخلی کاوه، دهغې په اړه خپله عائشه ﷺ وايي: ماهيڅوک تر هغې ښه پخلی کونکی نه دی ليدلی يوه ورځ صفيې ﷺ خوراک لومړی تيار کړ، او په دې وخت رسول الله ﷺ دحضرت عائشي ﷺ په حجره کې ناست و، حضرت صفيې ﷺ ديوې خادمې په لاس يې په پياله کې خوراک هلته ورولېږو، حضرت عائشي ﷺ دا دخپل ځان سپکاوی وباله او هغه پياله يې دومره په زوره په سوک ووهله چې هغه دخادمې له لاسه پرځمکه پرېوته او ټوټه ټوټه شوه.

رسول الله ﷺ دپيالې ټوټې راټولې کړې او خادمې ته يې وويل: ستاسومورته

غصه ورغله. څوشېبې وروسته حضرت عائشه رضي الله عنها خپله هم په خپل کار پښېمانه شوه، نو له رسول الله ﷺ څخه يې پوښتنه وکړه: چې ددې کفاره او بدله څه ده؟ رسول الله ﷺ وويل: همداسې پياله او داسې خوراک يې کفاره ده. نوبيا صفيې رضي الله عنها ته نوې پياله ورولېږل شوه.

رواه البخاري كتاب المظالم(٢٣٠١)وابوداؤدكتاب البيوع(٣٠٩٦)والنسائي كتاب عشرة النساء باب الغيرة(ص٩٦/٣٨٩٣)

## له امام الانبياء سره دمنډې سيالي کول

ديوې غزا په وخت حضرت عائشه رضي الله عنها له حضرت رسول الله ﷺ سره په سفر کې ملګرې وه، په لاره کې رسول الله ﷺ ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته امر وکړ چې تاسو درمخکې شئ.

او بيا يې حضرت عائشې رضي الله عنها ته وويل: راشه په منډه کې سيالي سره کوو، ګورو چې څوک دمنډې په سيالي کې بريالی کيږي؟

حضرت عائشه رضي الله عنها هغه وخت له صورت څخه نرۍ وه، نو کله چې دمنډې سيالي شروع شوه، نو حضرت عائشې رضي الله عنها له نبي کريم ﷺ څخه دمنډې سيالي وګټله، خو په دې ورځ حضرت رسول الله ﷺ هغې ته هيڅ هم ونه ويل، څوکاله وروسته بيا په همدې ډول پېښه رامنځته شوه، چې دسفر په وخت حضرت رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته ددمخه کېدلو امر وکړ، او حضرت عائشه رضي الله عنها (چې اوس يې بدن درووند شوی ؤ، او هغه پخوانۍ کيسه يې هېره شوې وه) حضرت رسول الله ﷺ ورته وويل: راشه منډه وهو، او ګورو چې څوک بريالی کيږي؟

کله چې سیالي شروع شوه نو په دې ځل رسول الله ﷺ سیالي وګټله او تر عائشې رضي الله عنها دمخه شو ، رسول الله ﷺ مسکی شو او وې ویل: عائشې! دا دهغې ورځې بدله ده .

رواه ابوداؤد کتاب الجهاد (٢٢١٤) وسنن ابن ماجه کتاب النکاح (١٩٦٩)

## دهغې په بستره کې وحې نازل شوې

دحضرت رسول الله ﷺ له حضرت عائشې رضي الله عنها سره زیاته مینه وه، له همدې امله چې به خلکو کومې تحفې او ډالۍ حضرت رسول الله ﷺ ته وړاندې کولې نو دحضرت عائشې رضي الله عنها دنمبر د ورځې انتظار به یې کاوه ، چې کله حضرت رسول الله ﷺ دهغې رضي الله عنها په وار و نوبیا به موږ تخفې ورته راوړو، (ترڅو چې رسول الله زیات خوشحاله شي) د حضرت رسول الله ﷺ نورو ښځو ته داخبره ناخوښه وه، نو دهغوی له ډلې دوه ښځې حضرت ام سلمې رضي الله عنها ته راغلې او هغې ته یې وویل: اې ام سلمې ! خلک حضرت رسول الله ﷺ ته دتحفو راوړلو په وخت دحضرت عائشې رضي الله عنها دنمبر انتظار کوي ، لکه څرنګه چې عائشې ته ددنیا پراخي خوښه ده او ضرورت ورته لري ، زموږ هم خوښه ده او اړتیا ورته لرو ، حضرت رسول الله ﷺ خبر کړه ! خلکوته دې ووایي چې دحضرت عائشې رضي الله عنها دنمبر انتظار دې نه کوي ، بلکې چې تاسو له هرې ښځې سره یاست هغلته دې تحفې او ډالۍ درته راوړي .

حضرت ام سلمې رضي الله عنها ته چې کله موکه په لاس ورغله نو حضرت رسول الله ﷺ ته یې داخبره وړاندې کړه ، حضرت رسول الله ﷺ چې کله داخبره واوریدله ،

Scanned by CamScanner

نو له هغې څخه يې مخ واړاوه. بيا لږ وروسته حضرت رسول الله ﷺ دهغې لور ته متوجه شو ، حضرت ام سلمې رضي الله عنها بيا هغه غوښتنه تړې وکړه ،حضرت رسول الله ﷺ بيا مخ ترې واړاوه ، او په همدې ډول درېم ځل بيا هغې رضي الله عنها ورانديز وکړ او حضرت رسول الله ﷺ ورته وويل: ما دحضرت عائشې رضي الله عنها په اړه مه ځوروئ، عائشه خو هغه ښځه ده چې دټولو ښځو له ډلې يوائې دهغې په بستره کې په ماباندې وحی راځي ، له هغې پرته دبلې ښځې په بستره کې هیڅکله هم په ماباندې وحي نه دي راغلي.

**رواه البخاری کتاب الهبة وفضلها (۳۵۱ رقم الحديث ۲۳۸۶) کتاب المناقب باب فضل عائشة (۵۳۲)**

او په نورو رواياتو کې داخبره هم راغلې چې ازواج مطهراتو يو ګډه سره فاطمه رضي الله عنها دې ته تیاره کړې وه چې هغه له رسول الله ﷺ سره دا خبره ياده کړي، هغې چې کله داخبره رسول الله ﷺ ته راورسوله ، رسول الله ﷺ ورته وويل: ګرانې لورې! له چاسره چې زه مینه لرم ايا له هغه سره ته مينه نه لرې؟ دنړۍ دښځو سردارې فاطمې رضي الله عنها ته همدومره ويل بس و ،نو هغه بېرته راغله او بيا يې په دې اړه هیڅ خبره هم ونه کړه.

## دژوند ټوله پانګه يې يواځې ( غم) و

قاسم بن محمد بن ابوبکر رحمه الله چې دحضرت ابوبکر رضي الله عنه لمسی دی هغه وایي: زما ورځنی عادت داسې و ، چې زه به هره ورځ سهار وختي خپلې ګرانې تروري حضرت عائشې رضي الله عنها ته دپوښتنې له پاره ورتلم ، او بيا به له هغه وروسته په بل کار پسې تللم ، يوه ورځ زه له خپل

Scanned by CamScanner

عادت سره سم دخپلې ترور کره ورغلم ، ومې ليدل چې هغه لمونځ کوي او ددې آيت مبارک په تلاوت بوخته ده:

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ (الطور:٢٧)

**ژباړه** : بيا الله ﷻ په موږ احسان (لورينه) وکړه او موږ يې د ګرم باد له عذاب څخه وساتلو)

حضرت عائشه ﷺ په سلګو ده، اودا آيت بيا ، بيا راګرزوي، ما تريو څه وخته پورې له لمانځه څخه دهغې ﷺ دخلاصېدلو انتظار وکړ ، خو کله چې راباندې ناوخته شو، نو له ځان سره مې وويل: لومړی به دبازار کار وکړم او بيا به راشم او دګرانې ترور پوښتنه به وکړم.

قاسم بن محمد رحمه الله بازار ته ولاړ کله چې دکار تر پوره کولو وروسته له هغې خوا بېرته راغی ، څه ګوري چې عائشه ﷺ په هغه پخواني حالت کې په لمانځه ولاړه ده او همغه آيت بيا بيا راګرزوي او ژاړي. (مستدرک حاکم)

## زما دسترګو هيله ؛ تل انتظار ده

يو ځل حضرت رسول الله ﷺ له دباندې کور رادننه شو ، په دې وخت کې دحضرت عائشې ﷺ په سر باندې درد و، چې له امله يې هغه په تکليف وه ، حضرت رسول الله ﷺ وويل: های ؛ زماسره ! بس له همدې ورځې د حضرت رسول الله ﷺ ناروغي شروع شوه چې همدا يې مرض الوفات (يا دمړينې ناروغي) شوه، او په دې ناروغي کې به يې بيا بيا پوښتنه کوله

Scanned by CamScanner

نن کومه ورځ ده ؟ نن کومه ورځ ده؟ خلک پوه شول چې دحضرت عائشې ﷺ دنمبر انتظار کوي، نو ځکه خلکو هغه د حضرت عائشې ﷺ حجرې ته بوتللو ، او بیاحضرت رسول الله ﷺ د مړینې تر ورځې پورې په هغه حجره کې پاته شو، په همدې حجره کې درسول الله دمړینې غمجنه پېښنه په داسې حال کې رامنځته شوه، چې خپل مبارک سر یې دحضرت عائشې ﷺ په ځنګون باندې ایښی و او له دې نړۍ سره یې مخه ښه وکړه.

رواه البخاری کتاب المرض باب ماجاء فی مناقب النبی ﷺ، ومسلم فضائل الصحابة(۴۰۶۲)والترمذی کتاب الدعوات(۳۴۱۸)

## له ناموس رسالت څخه دفاع کول

داسلام سره دښمني ، مسلمانانو ته دنقصان رسولو هڅې له هغه شروع څخه د بد بخته یهودانو فطرتي برخې وې.

ددې فطرتي برخې په بنسټ یوځل څو یهودیان درسول الله ﷺ خدمت ته راغلل ، او دخپلې ځانې او پټې پلیتي له امله یې د السلام علیکم پر ځای داسې وویل: السام علیکم ( یعنې پرتادې مرګ راشي) .

په همدې وخت عائشه ﷺ هم هلته شتون لاره ، هغې چې داخبره واورېدله پوه شوه چې له (السام علیکم) څخه دیهودانو مطلب څه دی؟ او ددې څه معناده؟ حضرت عائشې ﷺ ته زیاته غوسه ورغله هغوی ته یې په ځواب کې وویل: (مرګ دې په تاسو باندې راشي ، او په تاسو دې لعنت هم وي)

حضرت رسول الله ﷺ چې کله د حضرت عائشې ﷺ خبرې واورېدلې نو ورته

Scanned by CamScanner

وې ویل: عائشې! سختې خبرې مه کوه، ځکه چې الله ﷻ ته نرمي ډېره خوښه ده، او دایې هم وویل: ما د (وعلیکم) په ویلو سره دهغوی خبره بېرته په هغوی باندې ورواړوله، او زموږ ښېرا دهغوی په حق کې ډېره دقبلېدلو وړده، سره له دې چې دهغوی ښېرا زموږ په هکله هیڅکله نه قبلیږي.

## خدایه هغه ته خو هیڅ نه شم ویلای.....!

یو ځل حضرت عائشه او حضرت حفصه رضی الله عنهما دواړه له حضرت رسول الله ﷺ سره په سفر کې ملګرې وې، په شپه کې به رسول الله ﷺ تل دحضرت عائشې رضی الله عنها کجاوې ته راتلو، اوترڅو چې به قافله روانېدله ترهغې به رسول الله له حضرت عائشې رضی الله عنها سره خبرې اترې کولې.

یوه ورځ حضرت حفصې رضی الله عنها حضرت عائشې رضی الله عنها ته وویل: راشه اوښان سره بدل کړو، حضرت عائشې رضی الله عنها هم ورسره ښه وکړل او اوښان یې سره بدل کړل، کله چې شپه شوه، نو د تل په څېر حضرت رسول الله ﷺ دحضرت عائشې رضی الله عنها کجاوې ته راغی، چې وې کتل حضرت حفصه رضی الله عنها په کې ناسته ده، حضرت رسول الله ﷺ سلام ورواچاوه او کېناست، له بلې خوا حضرت عائشه رضی الله عنها د حضرت رسول الله ﷺ دراتګ په انتظار ده، کله چې قافله ودرېدله نو دحضرت عائشې رضی الله عنها دصبر او زغم کاسه ډکه شوې وه، او نور یې خبره له واکه ووتله او له کجاوې څخه راکوزه شوه، دواړې پښې یې په یوه بوټي باندې کېښودلې او وې ویل: خدایه هغه رضی الله عنه ته خو هیڅ نه شو ویلای، خو یو مار او یا لړم راولېږه چې ما وچیچي.

رواه البخاري کتاب النکاح باب القرعة بین النساء (۲/۷۸۴)

Scanned by CamScanner

## (دعائشېؓ اودرسول الله ﷺ د نورو ښځو ترمنځ مينه او بې تکلفي)

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: يو ځل مې حضرت رسول الله ﷺ ته داوړو او پيو، يا اوړو او غوړيو خوراک (حريره) تيار کړ (حريره: دحلوا تـه ورتـه يو ډول خوراک دی چې عرب يې ډېره خوښوي) پـه دې وخت کې حضرت سوده رضي الله عنها هم زموږ په کور کې وه، ماچې کله رسول الله ﷺ ته حريره راوړه نو حضرت سوده رضي الله عنها ته مې وويل: ته يې هم وخوره خو هغې يې لـه خوړلو څه انکار وکړ، خو ماپرې ټينګار وکړ چې ته به يې خامخا خورې، کـه نه نوبيا به حريره په مخ درومومږم ، خو حضرت سوده رضي الله عنها بيـا هـم لـه خوړلو څخه انکار وکړ، نو ما خپـل دواړه لاسونه پـه حريره ککړ کړل اوبيا مې دحضرت سوده رضي الله عنها په مخ باندې راکش کړل ،حضرت رسول الله ﷺ چې کله دا لوبه وکتل په خندااو مسکی شو.

حضرت سوده رضي الله عنها وايي: بيا رسول الله ﷺ ماته وويل: اوس ته هم دعائشې رضي الله عنها په مـخ باندې حريـره ور ومـوږه، نو مـاهم پـه حريـره کې لاس واچـول او بيامې دحضرت عايشې رضي الله عنها په مخ باندې راکش کړل، حضرت رسول الله ﷺ بيا وخندل لکه چې دحضرت عائشې رضي الله عنها په داسې کار يې خندلي و.

پـه همـدې وخت کـې حضرت عمـر رضي الله عنه راغـی او چاتـه يـې نـارې وهلـې: عبـدالله! عبـدالله! ، حضرت رسـول الله ﷺ ګمـان وکـړ چـې عمـر کورتـه راځي ، نو موږ ته يې وويل: ځئ خپل مخونه پرېمنځئ.

اخرجه ابويعلى (٣٢٦/٤) وابن عساكر مثله كما في المنتخب (٣٩٣/٤) وفى الكنزالعمال (٣٠٢/٧)

Scanned by CamScanner

## درسول الله ﷺ له لوري له عائشې ﵂ سره مینه کول

یوځل دحضرت عائشې ﵂ په سر درد و، او دحضرت رسول الله ﷺ دمړینې ناروغي (مرض الوفات) هم شروع کېدلو ، حضرت رسول الله ﷺ وویل: عائشې ! که ته زما په ژوند کې مړه شوې ، نو زه به په خپل لاس غسل درکوم او په خپل لاس به ستا دکفن او ښښولو لارې چارې په مخ بیایم ، او تاته به دعاوې هم کوم.

حضرت عائشې ﵂ له ډېرې مینې او په ناز وویل: یارسول الله ﷺ ! ته زمامړینه لمانځې او که داسې وشي نو تاسو به بله نوې ښځه همدې حجرې ته راولئ. امام الانبیاء ﷺ چې داخبره واورېدله په خنداشو.

رواه البخاری کتاب المرض،کتاب الاحکام(۷۲۲۶۷) ومسلم کتاب فضائل الصحابه(۴۳۹۹)

## دحضرت عائشېؓ له خدیجة الکبریؓ سره سیالي کول

یو ځل حضرت رسول الله ﷺ د خدیجة الکبری ﵂ ستاینه شروع کړه او تر ډېره یې ستاینه کوله ، حضرت عائشه ﵂ وایي: زما له هغې سره سیالي وشوه ، حضرت رسول الله ﷺ ته مې وویل: یا رسول الله ﷺ دعربو یوه سپین ساري ښځه چې دهغې شونډې سرې وې، او له مړینې وروسته یې ډېره موده تېره شوې ده، بیا یې هم تاسو دومره صفتونه کوئ الله ﷻ خو تاسوته له هغې ښځه غوره ښځې درکړې دي.

دې خبرې په اورېدلو سره د رسول الله ﷺ رنګ بدل شو ، او بیا یې وویل: دامې هغه ښځه ده چې خلکوزما دنبوت انکار کاوه هغې ایمان

راوړی، او چې خلکو زه دروغجن ګڼلم ، هغې زما تصدیق کړی، او زما دريښتونولي اعلان يې کړی، او کله چې خلک زما له مرستې څخه لاس په سر کېدل ، هغې په خپل مال او دولت سره زما مرسته کوله ، له ماسره يې غمرازي کوله، او له هغې څخه الله ﷻ ماته بچي راکړي ، سره له دې چې دنورو ښځو له اولادونو څخه يې بې برخې کړی یم.

رواه احمد ج۶/مسند عائشه(ص:۱۱۸) بحواله سیرت عائشه(ص:۵۹)

## د رسول الله ﷺ د فرمانبرداري يوه ځلانده مثال

حضرت عائشې ؓ د نه (۹) کلونو په اوږده موده کې هيڅکله هم د رسول الله ﷺ له هيڅ حکم څخه سرغړونه نه ده کړې، بلکې که به د رسول الله ﷺ له ظاهري حال او يا اشارې څخه هم داسې ښکاريده چې دا کار يې ناخوښه دی نو سمدلاسه به يې له هغه کاره لاس اخيست.

يو ځل حضرت عائشې ؓ په ډېر شوق او مينه سره په دروازه باندې يوه رنګينه او انځوريزه پرده ټاکړې وه، کله چې حضرت رسول الله ﷺ کورته دراننوتلو اراده وکړه، نو په هغې پردې باندې سترګې ولګېدلې ، او سمدلاسه يې په مخ مبارک باندې دناخوښې نښې نښانې څرګندې شوې، حضرت عائشې ؓ چې داکيفيت وليد نو په ډېره پښېمانه کېدونکې ژبه يې وويل: يارسول الله ﷺ ښښنه غواړم ، له ماڅخه کوم داسې ببخايه کار شوی ؟

حضرت رسول الله ﷺ وويل: په کوم کور کې چې دژويو انځورونه (دژوندیو شيانو تصويرونه) وي هغه کورته پرښتې نه ننوزي .

Scanned by CamScanner

ددې خبرې پـه اورېدلو سـره سمدلاسه حـضرت عائـشې ﷺ هغـه پـرده وشولوله ، او هغه یې په بله بڼه کړه.

رواه البخاری کتاب اللباس باب التصاویر (ص:۸۸۰)

## دحضرت عائشې دیوه سړي ترټل

د حضرت جعفر ﷺ د مړینې په ورځ دهغه خپلوانو ښځو په هغـه پـه سـې بېځایه ژړاکوله ، یو سړی راغی حضرت رسول الله ﷺ ته یې خبر ورکړ، حضرت رسول الله ﷺ هم دهغه پـه مړینه ترکچې زیات ځورېدلی و، او وې ویل: هغوی له دې کاره منعه کړه، سړی ولاړی هغه ښځې یې لـه بې ځایه ژړا څخه منعه کړې، خو هغوی له دې کاره پرشا نه شوې، هغه سړی بیا راغی اوحضرت رسول الله ﷺ ته یې وویل: هغوی بیا هم بیځایـه ژړا کوي او په منع کول سره له چیغو څخه نه راګرزي، حضرت رسول الله ﷺ بیا ورته وویل: ورشه هغوی له دې کار څخه منعه کړه، هغـه سړی ورغـی بیا یې هغوی منعه کړې ، خوښځې بیا هم چپ نه شوې ، داسړی په دریم ځل بیا حضرت رسول الله ﷺ تـه راغـی او دهغـو ښځو شـکایت یـې ورتـه وکړ، رسول الله ﷺ ورته وویل: دهغوی په خوله کې خاورې ورواچوه.

حضرت عـائشې ﷺ داټولې خبرې اورېدلې ، هغې په غوسه سره دې سړي ته وویل: خدای ﷻ دې ستا پوزه په خاورو سپېره کړي، نه هغه کار کوې دکوم چې حضرت رسول الله ﷺ درته سپارښتنه کوي، او نه هم دحضرت رسول الله ﷺ له تنګولو څخه مخ اړوې.

رواه البخاری کتاب الجنائز باب من لسه عند المصیبة (۱/۱۸۳)

Scanned by CamScanner

دحضرت عائشې ﷺ دخبرې مطلب دادی: چې که دهغه څه دپوره کولو وس نه لرې کوم چې حضرت رسول الله ﷺ دروایېي.نو بیا خو خپله بې وسي ، حضرت رسول الله ﷺ ته وړاندې کړه ترڅو هغه بیا بل څوک ددې کار له پاره ولیږي .رواه البخاری(۱/۱۸۳حاشیة نمبر:۱۲)

## دسترې مور ستره لور

حضرت عائشه ﷺ وایې: یوه ورځ دحضرت رسول الله ﷺ ټولې ښځې له هغه سره ناستې وې ، چې په دې وخت کې حضرت فاطمه ﷺ راغله ، او دهغې کړه، وړه بلکل د حضرت رسول الله ﷺ کړو، وړو ، ته ورته و، لږ فرق یې هم نه درلود. حضرت رسول الله ﷺ حضرت فاطمې ﷺ ته ډېر تود هرکلی وکړ، او هغه یې راوغوښتله او له ځان سره یې کېنوله، او بیا یې پټ ، پټ ، په غوږ کې څو خبرې ورته وکړې، چې هغې یې په اورېدلو سره وژړل، حضرت رسول الله ﷺ چې دهغې دا پرېشاني وکتله ، نو بیا یې ورته په غوږ کې یوه خبره وکړه، چې په اورېدلو سره یې حضرت فاطمه ﷺ په خندا شوه .

حضرت عائشه ﷺ وایې: ماورته وویل: فاطمې ! حضرت رسول الله ﷺ ټولې ښځې پرېښودلې ، او یوازې له تاسره یې خپلې پټې خبرې شریکې کړې او ته بیا ژاړې . کله چې حضرت رسول الله ﷺ له کوره ووت، ما له حضرت فاطمې ﷺ څخه دخبرې په اړه پوښتنه وکړه، هغې وویل: زه دخپل پلار پټې خبرې نه ښکاره کوم.

بیاچې کله دحضرت رسول الله ﷺ دمړینې غمجنه پېښه رامنځته شوه، نو ما بیاحضرت فاطمې ﷺ ته وویل: فاطمې ! زماچې په تا باندې کوم حق دی

دهغه په پار هغه خبره راته وکړه کومه چې حضرت رسول الله ﷺ تاته کړې وه.

حضرت فاطمې رضي الله عنها وویل: هو اوس کولای شم چې هغه خبره درته وکړم: زما دزړا لامل داخبره وه چې حضرت رسول الله ﷺ ماته دخپلې مړینې دنېټې درانږدې کېدلو خبره وکړه، او بیا دخندا سبب داؤ چې حضرت رسول الله ﷺ راته وویل: فاطمې! ایا ته دانه خوښوې چې ته ددنیا دټولو ښځو سره داره شې.

رواه مسلم باب الفضائل، رواه البخاري كتاب الاستيذان من ناجى بين يدى الناس (٩٣٠/٢)

## ترمړینې لږ وړاندې هغې داسې چیغې وهلې.....!

دیهودو مشهوره قبیلې بنوقریظه له حضرت رسول الله ﷺ سره دجنګ نه کولو تړون لاسلیک کړی و، خو بیا یې دخپلې ځاني بدبختي له امله هغه تړون مات کړ، او هغه په دې ډول چې دخندق په غزا کې یې دمسلمانانو په خلاف دکفارو سره مرسته وکړه، بیاد خندق له غزا څخه تر وزګارېدلو وروسته مسلمانانوپه بنو قریظه باندې یرغل وکړ، او نږدې دقبیلې ټوله قبیل خلک یې بندیان کړل، او دهغه بندیانو له ډلې یوه ښځه هم وه، هغې ته څرګنده شوې وه چې په مړه کېدونکو خلکو کې دهغې نوم هم راغلی، خو له دې سره سره هغې تر خپلې مړینې لږ وړاندې له حضرت حضرت عائشې رضي الله عنها سره ډېر په بې پروایي خبرې کولې، او په خبرو، خبرو کې به یې کله کله خندل. په همدې وخت د وژلو له پاره د هغې ښځې نوم واخستل شو، هغه ولاړه شوه د وژلو دځای په لور روانه شوه، حضرت

Scanned by CamScanner

عائشې ﷵ ترې وپوښتل: چېرته ځې؟ هغې وویل: یو جرم مې کړی و دهغه دبدلې ورکولو له پاره دوژلو ځای ته ځم، هغه دوژلو ځای ته ورغله، او دهغه جرم په سزا کې سرترې غوځ کړل شو.

حضرت عائشې ﷵ به ویل: تر وژنې وړاندې دهغې ښځې په خوشحالي او خندا باندې زه تر اوسه تعجب کوم.

البداية والنهاية (۱۳۹/۴) کشف الباری کتاب المغازی (ص:۲۹۹)

دهغې ښځې نوم (بنانه) و، او دښځو له ډلې یواځې همدا ښځه دقصاص په ډول وژل شوې ده، ځکه چې هغې له بام څخه دژرندې پل د خلاد بن سوید ؓ په سر رااچولی او هغه یې شهید کړی و.

(کشف الباری کتاب المغازی)

## (دافک پېښه)

حضرت عائشه ﷵ وایي: حضرت رسول الله ﷺ چې به کله هم دسفر اراده کوله نو د خپلو ښځو ترمنځ به یې قرعه اندازي کوله، دچانوم چې به راغی حضرت رسول الله ﷺ به هغه له ځانه سره په سفر بیوله، په یوه غزا کې حضرت رسول الله ﷺ زموږ ترمنځ قرعه اندازي وکړه، چې په هغه کې زمانوم وخوت، نو زه له حضرت رسول الله ﷺ سره په سفر روانه شوم (دا پېښه دپردې دحکم ترنازلیدلو وړاندې رامنځته شوې ده)

زه به له کجاوې (1) سره سره اوښته پورته کول کېدمه او له کجاوې سره

---

1: کجاوه: یو ډول پرده ده چې داوښ او یا بل څاروي له پاسه دروله کیږي، چې مېرمنې په هغې کې په پرده شي. (فتح الباري: ۴۵۸/۸)

به راکښته کول کېدم ، موږ روان شو ، سفر شروع شو، تر دې چې حضرت رسول الله ﷺ له یوې غزا څخه فارغ شو او بېرته دمدینې په لور راستون شو، دراستنېدلو په وخت موږ مدینې ته نږدې شوي وو، چې کاروان تم شو ، او په یوه دښته کې یې واړول ، دشپې په پای کې حضرت رسول الله ﷺ دروانېدلو اعلان وکړ، داعلان کولو موخه داوه چې خلک خپل خپل ضرورتونه اواړتیاوې پوره کړي، او ځانونه دکاروان روانېدلو ته چمتو کړي ، کاروان روانېدونکی دی.

داعلان په اورېدلو سره زه راپورته شوم او دخپلو ضرورتونو پوره کولو له پاره له پنډغالي څخه لږ څه لرې تللې وم، کله چې دضرورت له پوره کولو وروسته راستنه شوم، او خپلې سورلي ته راغلم ، خپلې غاړې ته مې پام شو چې دظفار نوم ښار له (ګوجکو) جوړشوی همېل (هار) مې نشته ، او چېرې غورځېدلی دی.

زه دخپل همېل په لټه بېرته ولاړم ، هلته دهمېل په لټول باندې ناوخته شوم، دلته هغه خلکو چې زه به یې په اوښ سپرولم هغوی زما کجاوه اوښ ته پورته کړې په اوښ باندې یې ایښې وه ، هغوی ګمان کاوه چې په کجاوه کې ناسته یم (ځکه چې په هغه وخت کې د ښځوبدنونه نري وو، او زیاتې غوښې یې نه لرلې ، داځکه چې هغه وخت خوراکونه لږ وو، او عائشه ؓ هم همداسې وه) نوکله چې خلکو کجاوه پورته کوله دحضرت عائشې ؓ دبدن دسپکوالي له امله هغوی په دې خبره پوه نه شول چې کجاوه تشته ده،او بل داچې هغه وخت دحضرت عائشې ؓعمرهم کم وو. لنډه داچې خلکو اوښ هشته کړ او روان شول، دکاروان له روانېدلو وروسته

Scanned by CamScanner

مې خپل همېل پیدا کړ، خو کله چې پنډ غالي ته راغلم هلته هیڅوک نشته خلک ټول کوچېدلي دي، نو زه په دې هیله باندې په خپل پخواني ځای باندې کېناستم چې کله هغوی په کاروان کې زما په نادرکي باندې پوه شي نو په همدې ځای کې به مې لټوي، او همدې ځای ته به بېرته راځي.

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: زه چې کله په هغه ځای کېناستم نو سمدلاسه خوب راغی، د حضرت رسول الله ﷺ یو صحابي حضرت صفوان بن معطل سلمي رضي الله عنه به تل تر کاروان وروسته پاتې و (چې که له کاروان څخه کوم شی پاتې شوی وي هغه به راخلي) هغه سهار وخت زما ځای ته راغی، هغه دیوه ویده انسان سایه ولیده، چې رانږدې شو زه یې وه پېژندلم، ځکه چې د پردې تر نازلېدلو وړاندې یې زه لیدلې وم.

کله چې په ما سترګې ولګېدلې نو سمدلاسه یې له ډېره غمه (انالله وانا الیه راجعون) وو ایه. د هغه په غږ سره زه له خوبه راویښه شوم، ددې ایت له اورېدلو پرته مې له هغه څخه هیڅ غږ نه دی اورې دی، هغه له سورلي څخه کوز شو سورلی یې څملوله او د هغې د مخ پر پښه یې زور وکړ، ترڅو ما ته په سورلي باندې په سورېدلو کې اساني شي، زه راپورته شوم او په سورلي باندې سپره شوم، هغه سورلی ترمهار کشوله، روان و، تر دې چې تکنده غرمه موږ په کاروان پسې ورسېدلو، په دې وخت کې کاروان په یوه ځای کې اړولي و. نو بیا چې زما په اړه (د بدګوماني له امله) څوک تباه کېدل هغه تباه شول، او چاچې په ما باندې په تورلګولو کې زیاته ونډه لرلې هغه عبدالله بن ابی ابن سلول و.

حضرت عائشه ﷺ وايي: بيامونږ مديني طيبې ته راغلو ، مديني طيبې ته تر رسېدلو وروسته تريوې مياشتې پورې زه ناروغه وم ، خلکو په مابانديې د تورلګونکو (اصحاب افک) خبره ډېره ګرمه ساتلې وه، او ځای په ځای داخبرې کېدلې ، خو زه په دې اړه بيخي بېخبره وم، خو يوې خبرې ماته هم شک را اچولی و ، هغه دا چې په دې ناروغي کې د حضرت رسول الله ﷺ دشفقت او زړه سوي کچه هغومره نه وه لکه څومره چې تر دې ناروغي وړاندې وه، يواځې دومره و چې حضرت رسول الله ﷺ به راغی ، سلام به يې وکړ، او بيا به يې راڅخه وپوښتل څنګه يې؟ او بېرته به ولاړی .نو يواځې دحضرت رسول الله ﷺ له دې چلند څخه ماته شک رالوېدلی و چې کومه خبره شته ، خو دشر دداسې خبرو په اړه ماته هيڅ معلومات نه وو.

کله چې ناروغي په ښه کېدلو شوه ، او زه لږ څه ښه شوم ، په دې وخت کې له ام مسطح ﷺ سره دباندې (١) ووتم (په هغه زمانه کې به مونږ يواځې دشپې وخت د قضاء حاجت له پاره دباندې تللو) دا دهغې زمانې خبره ده چې په کورونو کې د بيت الخلاء (ټټي) جوړولو دود نه و، له کورونو سره نږې د ټټي جوړول مونږ ته بد برېښېدل.

نو زه او ام مسطح له کوره ووتلو ، کله چې له قضائي حاجت وروسته کورته راستنېدلو هغه په خپل توکري کې بنده شوه او په ځمکه وغورځېدله ، او ناڅاپه يې له خولې دا خبره ووتله: تعس مسطح) (مسطح دې هلاک شي) ما ام مسطح ته وويل: ډېره بده خبره دې وکړه، ايا ته

١ : معنا : دانساني ضرورت پوره کولو له پاره ولاړم.

داسې سړي ته بد ، رد وايي، او ښېراکوي چې هغه د بدر په غزا کې ګډون کړی، ددې خبرې په اورېدلو سره ام مسطح وويل: های بې خبرې! ته خبره نه يې چې هغه څه خبرې کوي ؟

ما پوښتنه وکړه : هغه څه وايي؟ په همدې وخت هغې د تورلګونکو ټولې خبرې راته وکړې، چې له امله يې زما ناروغي نوره هم سخته شوه، کله چې کورته راستنه شوم، رسول الله ﷺ سلام يې راواچاوه، او بيا يې وويل: طبيعت دې څنګه دی؟

ماورته وويل: تاسو راته دپلار کره دتللو اجازه راکوئ؟ (زما موخه داوه چې په دې اړه ځانه ته پوره معلومات وکړم، رسول الله ﷺ اجازه راکړه ، زه دمور او پلار کره ولاړم ، کله چې کورته ورسېدم له مور او پلار څخه مې په دې اړه پوښتنه وکړه، مورته مې وويل: موري داخلک څه وايي؟ مور مې راته وويل: لورې مه خفه کېږه ، په خدای قسم ډېر لږ داسې کيږي چې يوه ښائسته ښځه دې له داسې خاوند سره وي چې هغه مينه ورسره کوي، او دهغې بنې هم وي او بيا دې هم په هغې باندې تور ونه لګيږي، ما وويل: سبحان الله ! ايا روښتيا هم خلک داسې خبرې کوي، هغه شپه مې ترسهاره ژړل،ټوله شپه مې نه اوښکې وچې شوې او نه مې سترګې پټې شوې، بيا زما همدا حال شو چې نه مې اوښکې درېدلې او نه مې په خوب سره سترګې پټېدلې، پلار به په ډېره مينه او نرمي سره راته وويل: بس ده لورې ! نور مه ژاړه په ژړا ، ژړا دې سينه پرې نه شي، مور به تسلي راکوله، يو ځل خو دومره له ژونده ترستوني راغلم چې اراده مې وکړه په څاه کې ځان وغورځوم ، او له دې سترې ژوند څخه بيغمه شم.

که څه هم د ام المؤمنین حضرت عائشې ﷺ پاک لمني او عصمت یقیني ول، خو بیا هم دشرخوښونکو خلکو دخولو بندولو له پاره ددې خبرې څېړنه ضروري وه، نو ځکه حضرت رسول الله ﷺ دوه صحابه حضرت علي بن ابي طالب ﷺ او حضرت اسامه بن زید ﷺ راوغوښتل، تر دې وخته پورې په دې اړه وحې بنده وه، او څرنګه چې دادواړه صحابه د حضرت رسول الله ﷺ دکور خلک وو، نو ځکه حضرت رسول الله ﷺ له هغوی سره مشوره وکړه.

حضرت اسامه بن زید ﷺ خو له خپلې پوهې او خبرتیا سره سم (چې دحضرت عائشې ﷺ او اهل بیت په اړه یې لرل) حضرت رسول الله ﷺ ته دهغه ښځې حضرت عائشې ﷺ په اړه دپاکلمني مشوره ورکړه، او وې ویل: عائشه ستا ښځه ده، موږ دهغې په اړه تر اوسه یوازې ښه خیونه پېژنو (هیڅ بدي مو تر نه ده لیدلې). ګواکې اسامه ﷺ هڅه کوي چې په خپله مشوره کې حضرت رسول الله ﷺ ته تسلي ورکړي، او دحضرت عائشې ﷺ پاکلمني وښیي.

حضرت علي ﷺ حضرت رسول الله ﷺ ته وویل: یارسول الله ﷺ! الله خو په تاباندې هیڅ تنګي نه ده راوستلې. یعني که ددې بې بنسټه خبرو له امله مو دحضرت عائشې ﷺ په اړه په زړه کې کوم غیر اختیاري ماتوالی راغلی وي، نو نورې ښځې ډېرې دي، ستاسو دزړه ناقراري په دې ډول هم لرې کېدلای شي چې له کومې منځې څخه پوښتنه وکړئ، هغه به تاسو ته سمه او رښتیا خبره وکړي.

رسول الله ﷺ بریرة ﷺ راوغوښتله، بریره ﷺ چې له عائشې ﷺ سره تل

اوسېدله او دهغې دټولو حالاتو په اړه يې پوره خبر لاره، حضرت بريرةﷺ راغله حضرت رسول اللهﷺ هغې ته وويل: بريرې! دعائشې په اړه دې کوم داسې څه تر اوسه ليدلي چې ته يې په شک کې اچولې يې؟ حضرت بريرې ﷺ په ځواب کې وويل: په هغه خداى ﷻ مې قسم دى چې ته يې په حق سره رالېږلى يې، تر اوسه مې له هغې څخه هيڅ داسې خبره نه ده ليدلې چې عيبي کړي، يواځې دومره خبره شته چې هغه کم عمره نجلۍ وه دکور اوړه به يې خلاص پرېښودل او وزې به راتللې هغه اوړه به يې وخوړل. يعني هغه دومره ساده او روښتونې ښځه ده نو دهغې دپاکلمنې په اړه څه شک کېدلاى شي.........؟

حضرت رسول اللهﷺ په هغه ورځ د ستر منافق عبدالله بن ابى په خلاف له مسلمانانو دمرستې غوښتنه په ممبر باندې وکړه او وې ويل:

اى مسلمانانو څوک شته چې دهغه سړي په خلاف له ماسره مرسته وکړي، چاچې زه دخپل اهل په اړه سخت ځورولى يم، په خداى قسم! چې زه دخپل اهل په اړه له خير پرته بل په هيڅ شي نه يم خبر، اوبله لوري دا خلک ديوه داسې سړي يادونه کوي چې هغه هم زه يواځې په نيکي او ښه سرېتوب پېژنم، او هغه خو زما کورته هم نه دى راغلى، يواځې زما ملګرى دى. درسول اللهﷺ ددې خبرې په اورېدلو سره سعدبن معاذ ؓ راپورته شو او وې ويل: يارسول اللهﷺ زه ستا مرسته کوم، که دغه سړى له اوس قبيلې (پښې) سره تړاو لري نو زه به يې سر په توره غوڅ کړم، او که هغه زمونږ دخزرجې ورونو له قبيلې (پښې) سره تړاو لري نوبيا چې ته راته څه سپارښتنه کوې مونږ به له هغه سره سم چلند ورسره کوو.

Scanned by CamScanner

ددې خبرې په اورېدلو سره د خزرج قبیلې مشر سعدبن عباده رضي الله عنه راپورته شو ( دلته خبره داسې وه دحسان بن ثابت رضي الله عنه مور دسعدبن عباده رضي الله عنه دتره لور وه، او څرنګه چې حسان رضي الله عنه هم په دې تور لګولو کې لاس درلود ) نو ځکه سعدبن عباده رضي الله عنه داسې وانګېرله چې ګواکې سعدبن معاذ په دې خبره سره زمونږ لور ته اشاره کوي، نو سعدبن عباده رضي الله عنه سعدبن معاذ رضي الله عنه ته وویل: غلطه خبره دې وکړه، په خدای قسم نه یې ته وژلای شې او نه یې هم دوژلو وس لرې، که تورلګونکي ستاسو له قبیلې سره تړاو لرلای نو هیڅکله به دې هم دهغه دوژلو غوښتنه نه وای کړې، نو ګواکې مطلب یې دا ؤ: اوس چې تورلګونکي زمونږ له قبیلې سره تړاو لري نو ځکه ته یې د وژلو خبرې کوې.

په همدې وخت د سعدین معاذ رضي الله عنه د تره زوی اسیدبن حضیر رضي الله عنه را پورته شو او سعدبن عباده رضي الله عنه ته یې وویل: بیځایه خبرې کوې، په خدای قسم چې هرومرو به یې مونږ وژنو، ته منافق یې ځکه دمنافقانو له لوري جنګېږې، په دې اړو دوړ کې داوس او خزرج دواړه قبیلې یو دبل په خلاف پورته شوې تر دې چې دواړه لوریو دجګړې تابیا کوله.

رسول الله ﷺ دممبر له پاسه په هغوی باندې دچپ کېدلو غږونه کول، تردې چې ټول خلک پټه خوله شول، او رسول الله ﷺ هم چپ شو.

حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: ما په هغه ورځ هم ټوله ورځ په ژړاتېره کړه، په هیڅ ډول مې نه خو اوښکې درېدلې او نه هم خوب راتلو، سهار وخت مې مور او پلار راغلل، ما دوه شپې او یوه ورځ پرله پسې ژړلي و. په دې دومره اوږده موده کې مې نه اوشکې تم شوې او نه مې سترګې پټې شوې

Scanned by CamScanner

داسې ښکاریدله چې په ژړا ،ژړا به مې سینه وچودله شي. مور او پلار راسره ناست وو، ما ژړل په دې وخت کې دانصارو یوې ښځې ماته دراتللو اجازه وغوښتله، اجازه مې ورکړه، هغې هم راسره په ژړا شروع وکړه، مونږ په همدې حال و چې رسول الله ﷺ راغی، سلام یې راواچاوه، او کېناست( له کله څخه چې په ما باندې تور ولګول شو له هغه وخته راهیسې بیا رسول الله ﷺ له ما سره نه و کېناستلی، تر یوې میاشتې پورې زما په اړه په رسول الله ﷺ باندې هیڅ وحې نازله نه شوه)

رسول الله ﷺ له کېناستلو سره سم دشهادت دکلمې په ویلو شروع وکړ او بیا یې وویل: امابعد: عائشې! ستا په اړه ماته خبرې رارسېدلې دي که ته له دې تور څخه پاکه یې نو هرو مرو به الله ﷻ ستا دپاکي څرګندونه کوي، او که له تا څخه کومه غلطي شوې وي، نو بیا له الله ﷻ څخه بښنه وغواړه، ځکه انسان چې کله هم د الله ﷻ په وړاندې دګناه اقرار کوي او بیا توبه ترې کاږي الله ﷻ دهغه توبه قبولوي.

رسول الله ﷺ چې کله خپله خبره پوره کړه، نو زما اوښکې داسې وچې شوې چې یو څاڅکی هم په سترګو کې نه ښکارېدو، بیا مې خپل پلار ته وویل: د رسول الله ﷺ دخبرو ځواب ورکړه، هغه وویل: په خدای قسم! زه نه پوهیږم چې رسول الله ﷺ ته څه ځوب ورکړم؟ بیامې مور ته وویل: تاسو ځواب ورکړئ. هغې هم له ځواب ورکولو څخه د معذورت غوښتلو په ترځ کې وویل: نه پوهیږم چې رسول الله ﷺ ته څه ځواب ورکړم؟ اوس نو دمجبوري له امله ما په خپله په ځواب ورکولو باندې شروع وکړ (په هغه وخت کې زه یوه کم عمره نجلۍ وم او قرآن شریف مې هم زیات نه و ویلی)

ما وویل: قسم په خدای! تاسوټولو داخبره اورېدلې ده ، تردې چې ستاسو زړونو ته هم ننوتې ده ، او تاسو ټولو ته دا خبره منلې هم ده، نو که زه تاسو ته ووایم چې زه له دې تور څخه پاکه یم هم تاسو زما خبره نه منئ، او که زه د غه تور په ځان ومنم (سره له دې چې زه له هغه څخه پاکه یم ، الله ﷻ ته زما پاکي معلومه ده ) نو تاسو به وایاست چې هغې سمه خبره وکړه، قسم په خدای! زه اوس دخپل ځان او خپلې دپېښې له پاره بله بېلگه او مثال نه وینم پرته له هغه چې د یوسف ؑ پلار یعقوب ؑ دخپلو زامنو غلطې خبرې واورېدلې او وې ویل: فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون)

اوس زه یوازې صبر دځان له پاره غوره گڼم ، او څه چې تاسو راپسې وایاست دهغه په اړه له الله ﷻ څخه مرسته غواړم)

ددې خبرې په ویلو سره حضرت عائشه ؓ پورته شوه او په خپله بستره باندې پرېوته ، هغه ؓ وایي : زما پوره باور و چې : الله ﷻ زما دپاکي په اړه ښه خبر دی او هرو، مرو به زما پاکي له یوې لارې خلکو ته بیان کړي، خو قسم په خدای! داخبره زما په گمان کې هم نه وه چې الله ﷻ به زما په اړه وحی متلو (دقران ایاتونه ) رالیږي، ځکه چې خپل ځان مې ددې ورنه بالو چې الله ﷻ به زما په اړه خپله په قران کریم کې ایاتونه رالیږي.

هو! داهیله مې لرله چې رسول الله ﷺ به په خوب زما پاکي ویني او الله ﷻ به ورته زما دپاکلمني په اړه هغه ﷺ ته خبر ورکوي ، په خدای قسم! رسول الله ﷺ له هغه ځایه پورته شوی نه و، او نه هم دکورزوال څوک له هغه ځایه ولاړ شوي و، چې رسول الله ﷺ ته وحې راتلل شروع شول ، او

Scanned by CamScanner

رسول الله ﷺ ته دسختي هغه کيفيت وربښ شو کوم چې به دوحي دنازل کېدلو په وخت و، تر دې چې درسول الله ﷺ له تندې مبارکې څخه دملغلرو په څېر دخولو غټ غټ څاڅکي را وبهېدل ، سره له دې چې هغه ورځ ډېره سړه وه، خو داخولې دهغه خدايي کلام له امله پرې راتلې کوم چې په رسول الله ﷺ باندې په دې وخت کې نازليدو.

عائشه ﵂ وايي: کله چې له رسول الله ﷺ څخه دغه دتکليف حالت لرې شونو رسول الله ﷺ مسکی ، مسکی او په خنداشو، او تر ټولو لومړۍ خبره چې درسول الله ﷺ له خولې څخه راوتلې هغه دغه وه: عائشې ! الله ﷻ ستا دپاکلمني په اړه خبر نازل کړ، بيا مې مور او پلار راته وويل : درسول الله ﷺ مخې ته داکرام او تعظيم په ډول ودرېږه. ما ورته وويل: قسم په خدای هيڅکله به نه ودرېږم ، يوا ځې دالله ﷻ شکر او ستاينه به کوم ، يعني زما دپاکلمني اعلان يواځې الله ﷻ رالېږلی، الله ﷻ وايي:(ان الذين جاءوابالافك عصبة منكم)

کله چې الله ﷻ زما دپاکلمني په اړه اياتونه نازل کړل ، نوابوبکر ﵁ ( چې له مسطح ﵁ سره دهغه دخپلوي او بېوزلي له امله مالي مرسته کوله) وويل: قسم په خدای ! په راتلونکي کې به له مسطح سره هيڅ ډول مالي مرسته نه کوم ، ځکه چې هغه هم په عائشه ﵂ باندې تور لګولی و، په دې خبره باندې الله ﷻ دقرآن شريف ايت له: وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَن يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا ۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢﴾ پورې رانازل کړل ، ددې آيت له نازلېدلو وروسته ابوبکر ﵁ وويل: ولې نه؟ زه خو

Scanned by CamScanner

همدا غواړم چې الله ﷻ راته ښښنه وکړي، او له همدې وروسته یې مسطح رضي الله عنه ته د هغه لګښتونه ورکول شروع کړل، او وې ویل : قسم په خدای ! چې له هغه څخه به دا مرسته هیڅکله بنده نه کړم.

حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: رسول الله ﷺ زما ددې خبرې په اړه له حضرت زینب بنت جحش څخه هم پوښتنه کړې وه : چې دحضرت عائشې رضي الله عنها په اړه ته څه نظر لرې ؟ حضرت زینب بنت جحش ورته ویلي وو: احمی سمعی وبصری، والله ما علمت الا خیرا

**ژباړه**: زه خپل غوږونه دداسې بېځایه خبرو له اورېدلو څخه ، او سترګې دداسې ناخوښه ځایونو له کتلو څخه ساتم ،قسم په خدای ! چې دعائشې رضي الله عنها په اړه له خیر پرته بله هیڅ خبره راته معلومه نه ده.

عائشه رضي الله عنها وایي: د رسول الله ﷺ په ښځو کې یواځې زینب رضي الله عنها داسې وه چې هغې په ( په ښائست ، عقل ، او پوهه کې ) له ماسره سیالي کوله ، خو دتقوی او پرهیزګاري له امله الله ﷻ دهغې ساتنه وکړه.

رواه البخاری کتاب الشهادات .کتاب الجهاد کتاب التفسیر، تفسیر سورة النور رقم الحدیث (۳۹۱۰)

دحضرت عائشې رضي الله عنها په اړه نازل شوي ایاتونه دادي :

إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ ۚ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝ لَّوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَا

Scanned by CamScanner

اِفْكٌ مُّبِيْنٌ ۝ لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَاِذْ لَمْ يَأْتُوْا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ۝ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ (سورة النور: ۱۱-۱۴)

**ژباړه**: کومو خلکو چې (د درواغجنو ادعا ګانو) سېلاب راوستی، هغوی ستاسو یوه ډله ده، تاسو دا خبره دځان په اړه بد مه ګڼی، بلکې کېدلای شي چې (په پای کې) همدا ستاسو په خیر وي، او هرسړي چې څومره څه کړي ګناه یې کړې، او دهغوی له ډلې څخه چې چا په دې سېلاب کې زیات لاس لرلی، هغه ته به سخته سزاء ورکوله کیږي، کله چې تاسو (دغه بېځایه) خبر واورېدله، نو مسلمانو نارینه و او مسلمانو ښځو په خپلو منځونو کې یو پر بل باندې ښه ګمان ولې نه کاوه، او داسې یې ولې نه وېل: چې دا څرګنده درواغ دي؟ دغه خلک په خپله خبرباندې څلور شاهدان ولې نه راولي؟ نو کله چې هغوی شاهدان نه شي راوستلای، نو هغوی دالله ﷻ په نزد درواغجن دي، او که په تاسو باندې د الله ﷻ فضل اومهرباني په دنیا او اخرت کې پرتاسو نه وای، نو چې تاسو په کومه لانجه اوښتي یاست په هغه کې به الله ﷻ سخت عذاب درباندې راوستلای وای.

(دحکیم الامت رحمه الله دژباړې لنډیز

## (که په جنت کې زما ملګرتیاغواړې نو ..........!)

یوه ورځ حضرت رسول الله ﷺ ته یو چا څو کجورې ډالۍ په توګه ورانديې کړې، چې په حدیثونو کې یې شمېر (۹) او یا (۱۱) ښودل شوی ، حضرت رسول الله ﷺ اوحضرت عائشه رضی الله عنها له څوورځو څخه په لوږه دي، خو سره له دې بیا هم حضرت عائشې رضی الله عنها هغه کجورې خپله ونه خوړې ، بلکې حضرت رسول الله ﷺ ته یې کېښودلې ، کله چې حضرت رسول الله ﷺ کورته راغی ، حضرت عائشې رضی الله عنها هغه کجورې ورته وړاندې کړې ، رسول الله هغه وخوړلې ، خو وروسته یې پام شو : نو پوښتنه یې وکړه: عائشې ! تاهم څه خوړلي دي؟ حضرت عائشې رضی الله عنها وویل: یا رسول الله ! زما له پاره یوازې دالله جل جلاله رضا کافي ده.

حضرت رسول الله ﷺ پوهه شو چې حضرت عائشې رضی الله عنها هیڅ هم نه دي خوړلي، په دې خبره رسول الله ﷺ ډېر پرېشانه شو ، او وې ویل . عائشې ! خو تا به کجورې خوړلې وې. حضرت عائشه رضی الله عنها مسکۍ شوه او وې ویل: دالله رسول ﷺ وخوړلې؟ په دې وخت دحضرت رسول الله ﷺ شونډې مبارکې په ښوروېدا شوې او داسې دعاء یې له خولې ووتله: یا الله ! عائشې ته ددې صبر غټه بدله ورکړې.

حضرت عائشې رضی الله عنها وویل: یا رسول الله ! ماته دعاء وکړه چې الله جل جلاله مې په جنت کې هم ستا ښځه کړي.

حضرت رسول الله ﷺ وویل: که په جنت کې زما ملګرتیاغواړې ؛ نو پرهېزګاره او صبرناکه اوسه ، سباته دخوراک شیان مه ساته ، کوم شی

Scanned by CamScanner

چې زیات شي هغه سمدلاسه د الله ﷻ په لاره کې خیرات کوه.

د حضرت رسول الله ﷺ د دې مبارکې وینا له اوریدلو وروسته بیا په ټول ژوند کې حضرت عائشې رضي الله عنها د هغه د اخبره دځان له پاره دلیل ګڼلې وه ، او په پوره وس سره یې په هغه باندې عمل کاوه. (مستدرك حاکم)

## له خور او ورور سره سربښندنې او سخا چلند

حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: ابوبکر رضي الله عنه په غابه نومې ځای کې د کجورو له خپل باغ څخه شل وسقه کجورې ماته دتحفې په ډول ځانګړې کړې وې ، خو کله چې دابوبکر رضي الله عنه دژوند روستي شېبې رانږدې شوې ، عائشه رضي الله عنها یې راوغوښتله ، او ورته وې ویل: لورې! قسم په خدای! چې په دنیاکې ماته تر تا نږدې هیڅوک نشته ، او نه هم زما له مړینې وروسته ستا تر تنګلاسي دبل چا تنګي راته زیاته دردونکې ده.

ماچې شل وسقه کجورې تاته ځانګړې کړې وې ، که هغه دې شکولې وي ، او له ځان سره دې ساتلې وي، نوبیا خو هغه ستاشوې، او که تر اوسه دې شکولې نه وي ، نوبیا له نن وروسته هغه کجورې دمیراث مال دی، او دهغه وارثان ته ستا دوه وروڼه او دوې خوندې دي ، نو بیا زماله مړینې وروسته دغه دمیراث مال دکتاب الله له وېش سره سم ووېشئ.

حضرت عائشې رضي الله عنها وویل: باباجانه! که تر دې زیات مال دې ماته ځانګړی وای نو بیا هم به ترې لاس په سر شوې وم ، او نن به مې دمیراث په توګه وېشلی و. خو باباجانه! زما یوه خور خو اسماء شوه ، بله خورمې

څوک ده؟ ابوبکر ﷺ وویل: ستا دومه خوز هغه ده، چې زما د بلې ښځې (حبیبې بنت خارجه ﷺ ) له نسل څخه ده.

ابوبکر ﷺ هغه لورته په اشاره کولو سره وایي: (اراها جاریة) زما خیال دی چې نجلۍ به پیدا شي .او بیا همداسې وشول او ام کلثوم بنت ابوبکر ﷺ دهغې ښځې له حمل څخه پیدا شوه.

(سنن بیهقی ج:٦/موطا امام مالك)

## یو لک درهم په یوه ورځ دالله په لاره کې خیرات کړي

یو ځل حضرت عائشې ﷺ ته دیولک زیاتې دسپینو زرو روپۍ دډالۍ په توګه راوړلې شوې ، حضرت عائشې ﷺ تال لرونکی سرې راوغوښت او هغه ته یې تال له روپیو ورډکاوه او هغه په خلکو باندې وېشو ، تردې چې تر ماښام پورې یوه روپۍ هم پاتې نه شوه .

په دغه ورځ حضرت عائشې ﷺ روژه نیولې وه ، دروژه ماتې په وخت یې مینځې ته وویل: دروژه ماتي له پاره څه راوړه! مینځې یوه وچه مړۍ او لږ د زیتون غوړي راوړل او وې ویل : څومره به ښه وه که دیوې روپۍ غوښه مو راغوښتې وای نونن به موږ هم روژه په غوښې سره ماته کړې وای.

حضرت عائشې ﷺ وویل: اوس په ویلوسره څه کیږي ، هغه وخت به دې راته یاده کړې وای ، مابه غوښه درته راغوښتې وه .(حکایات الصحابه ﷺ)

## له دې څخه یې وخوره ! داستاسو تر ډوډۍ غوره ده

یوه ورځ حضرت عائشې ﷺ روژه نیولې وه، په دې ورځ یو سوالګر کورته

راغی ، په کورکې يواځې يوه روټۍ وه، حضرت عائشې ﷺ خپلې مينځې ته وويل: دا ډوډۍ هغه ښوزله ته ورکړه، هغې وويل: ستاسو دروژه ماتې له پاره په کور کې هيڅ هم نشته ، بس يواځې هم دا يوه ډوډۍ ده.

حضرت عائشې ﷺ وويل: خير ده ، هيڅ خبره نه ده بيا هم هغه ته دا ډوډۍ ورکړه، مينځه وايي: ما هم هغه ډوډۍ واخيستله او مسکين ته مې ورکړه، کله چې ماښام شو نو يوې داسې کورنۍ ، او ياداسې سړي چې تراوسه يې حضرت عائشې ﷺ ته هيڅکله هم تحفه نه وه رالېږلې ، خو نن يې يوه پخه شوې وزه ، او ورسره ډېرې ډوډۍ رالېږلې، حضرت عائشې ﷺ مينځه راوغوښتله اوورته وې ويل: دغه وخوره داستا دکور تر وچې ډوډۍ ډېر غوره ده. (موطاامام مالك)

## له اسمانونو ښځه دژړاګانو وروستی ځواب راځي

حضرت عائشه ﷺ وايي: ډېر برکتناک ذات هغه دی چې هره خبره اوري ، ما د حضرت خوله بنت ثعلبه ﷺ خبرو ته غوږ نيولی و ، خو کله به مې دهغې خبرې اورېدلې او کله به مې بيا سمې نه اورېدلې ، هغې حضرت رسول الله ﷺ ته له خپل خاوند څخه ګيله او شکايت داسې کاوه : يارسول الله ! خاوندمې ټول مال راڅخه واخيست ، او زما ځواني يې تباه او برباده کړه . او زما له خېټې دهغه زيات بچي شوي دي، تر دې چې اوس مې عمر ډېر شو ، او نور مې دبچو زېږېدل ودرېدل، اوس هغه غواړي چې له ما سره ظهار وکړي ( ظهار د طلاق يو ډول دی) يا الله ! زه تاته له هغه څخه ګيله کوم .

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: حضرت خوله رضي الله عنها تر اوسه له هغه ځايه ولاړه شوې نه وه چې حضرت جبرائيل عليه السلام له وحی سره راغی: (قد سمع الله قول التی تجادلك فی زوجها) الخ (مجادلة:۱)

**ژباړه**: له شک پرته الله جل جلاله دهغې ښځې خبره واورېدله چې هغې له تاسره دخپل خاوند په اړه جګړه کوله ، او( دخپل غم او تکليف په اړه يې) الله جل جلاله ته له خاوند څخه ګيله کوله او الله جل جلاله ستاسو دواړو خبرې واورېدلې ، الله جل جلاله هرڅه اوري، او ښه کتونکی دی )

په بل روايت کې راغلي: کله چې خوله رضي الله عنها دحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله په دې وخت کې حضرت عائشه رضي الله عنها دحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم دسر ښی لوری وريږېمنځو ، تر دې چې کله خوله الله جل جلاله سره په دعاء او په زاري شو ه ، نو حضرت عائشې رضي الله عنها د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم دسر چپ لوری پرېمنځل شروع کړل، او هغې خولې رضي الله عنها ته وويل: خبره پرېږ ده ګيلې مه کوه، ايا د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم مخ مبارک ته نه ګورې....... بس په همدومره وخت کې وحی پای ته ورسېده ، اوحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم دخولې رضي الله عنها خاوند راوغوښت هغه ته يې دظهار اياتونه واورول.

(تفسيرخازن: ۲/۶۵۵)

## په دريو ځايونو کې هيڅ څوک چاته په ياد نه ورځي

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: يو ځل مې د دوزخ دياد له امله ژړل، حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: عائشې ! څه درپېښه ده؟ ماوويل: دوزخ راپه ياد شو ځکه ژاړم ، ايا دقيامت په ورځ به ته دخپلې کورنۍ غړي په ياد لرې؟

Scanned by CamScanner

رسول الله ﷺ وویل: په دریو ځایونو کې هیڅوک چاته په یاد نه ورځي:

لومړی: د عملونو د تللو په ځای کې، ترڅو چې دا درک نه وي شوی چې هغه (د نیکو عملونو) تله درنه ده او که سپکه ده.

دوم: د عملنامې د ترلاسه کېدلو په ځای هیڅوک هم بل نه یادوي، ترڅو چې معلومه شي چې عملنامه په ښي لاس ورکړل کیږي، (نو هغه به بیا وايي: راشئ زما عملنامه وګورئ) او که عملنامه په چپ لاس او یا د شا له لوري ورکړل کیږي.

دریم: په پل صراط باندې هیڅوک هم بل چاته په یاد نه ورځي.

کله چې پل صراط په جهنم باندې کېښودل شي، او د پل په دواړو غاړو باندې به ډېر نیخښونه او اغزي وي، د چا په اړه چې د الله ﷻ خوښه شي هغه به په دې نیخښونو او اغزیو کې ونیښلي، او را وبه غورځول شي، ترڅو چې معلومه شي چې هغه خلاصون ترلاسه کوي او که نه.

(مستدرک حاکم، حیاة الصحابه دریمه برخه)

## دانصارو دښځو ستاینه

حضرت صفیه بنت شیبه ؓ وايي: موږ له حضرت عائشې ؓ سره ناستې وو. او د قریشو د ښځو یادونه، او د هغوی ستاینه مو کوله، حضرت عائشې ؓ وویل: روښتیا هم د قریشو ښځې ډېرې ځانګړتیاوې لري، خو قسم په خدای! د الله ﷻ د کتاب په تصدیق کولو کې او په هغه باندې په ایمان راوړلو کې چې څومره د انصارو ښځې ما لیدلې دي دومره

مې هیڅوک نه ذي لیدلې. کله چې د (سورت نور) لاندې آیت نازل شو:

(وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ) (النور: ۳۱)

**ژباړه**: او خپل پړوني په سینو باندې راپرېږدي)

نو د انصارو نارینه چې کله خپلو کورونو ته ولاړل او خپلو ښځو ته یې دالله ﷻ حکم واوراوه، چې الله په دې ایت کې رالېږلی دی. نو هر سړي چې به دغه آیت خپلې ښځې، خپلې لور، خپلې خور، او هرې خپلوانې ښځې ته اوراوه، نو هرې ښځې به د حکم په اورېدلو سمدلاسه دالله ﷻ په رالېږلي ایت باندې ایمان راوړلو، او ددې خبرې د روستونولي او تصدیق کولو په موخه به یې ځان په رنګین ځادر او پړوني کې ځان ونغښت، نو په رسول الله ﷺ په سې دسهار په لمانځه کې داتولې ښځې په ځادرونو کې داسې نغښتې ناستې وې چې ته به وایې: دهغو په سرونو باندې کارغان ناست دي.

(رواه ابوداؤد وابن ابی حاتم، وفی التفسیر لابن کثیر)

## دحضرت عائشې دقران کریم دتلاوت اورېدنه

حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: یوه شپه حضرت رسول الله ﷺ ته په ورتللو کې رابانددې ناوخته شو. کله چې زه ورغلم نو حضرت رسول الله ﷺ راته وویل: تر اوسه چېرې وې؟ ما ورته وویل: ستا یوه صحابي په جومات کې دقرآن کریم تلاوت کاوه، هغه ته مې غوږ نیولی و (له همدې امله رابانددې ناوخته شو) او په دې ډول ښائسته غږ، او داسې ښکلی تلاوت مې دبل

Scanned by CamScanner

صحابي نه و اورېدلی. حضرت رسول الله ﷺ له ځايه راپورته شو، حضرت عائشه رضي الله عنها هم ورسره روانه شوه، رسول الله ﷺ راغی دغه صحابي تلاوت ته يې تر ډېره وخته پورې غوږ کېښود، او بیا یې حضرت عائشې رضي الله عنها ته وویل: دا دحضرت ابوحذیفه رضي الله عنه مېريې حضرت (سالم رضي الله عنه) دی، تولې ستاینې د الله جل جلاله له پاره دي، چې زما په امت کې یې داسې انسانان پیدا کړي.

(مستدرک حاکم، حیاة الصحابه درېمه برخه)

## حضرت عائشهؓ دجهاد په میدان کې

دحضرت عائشې رضي الله عنها له ځانګړتیاوو، او ستاینو څخه داسلام تاریخ ډک دی، حضرت عائشه رضي الله عنها که له یوې خوا، فقیهه، مجتهده، زهینه، ځیرکه، او روانه ژبه یې لرله، او د امام الانبیاء ﷺ په طبیعت، پوه ښځه وه، له بلې خوا د هغې رضي الله عنها ژوند له جګړییزو (مجاهدانه) کارنامو څخه هم ډک دی.

د درېیم هجري کال خبره ده چې کله داحد په غزا کې دیوې ورې تېروتنې له امله دمسلمانانو کامیابي او بریالیتوب په ناکامي او شکست سره بدل شو، په دې وخت کې دحضرت رسول الله ﷺ دشهادت بېځایه خبره خپوره شو، له مدینې منورې څخه حضرت عائشه رضي الله عنها او ورسره نورې ښځې له کومې وېرې او ډار پرته سر په لاس دجګړې ډګر ته وخوځېدې، او دجګړې ډګر ته له وررسېدلو سره سم یې حضرت درسول الله ﷺ پرهرونه له وینو څخه په اوبو ومینځل. او بیا یې ګوډي ( داوبو زي) له اوبو څخه راډکول او ژوبل شویو (زخمیانو) خلکو ته یې اوبه ورکولې.

حضرت انس ﷛ وايي: احد دغزا په ورځ مې حضرت عائشه ﷞ اوحضرت ام سليم ﷞ وليدلې چې پائڅې يې دومره ورپورته کړې وې، چې بېلډې يې ښکاريدلې. بيا چې کله تيت پرک شوي صحابه ﷡ بېرته د رسول الله ﷺ چاپېره راغونډشول ، نو دامسلمانې او يتمنې ښځې بېرته مدينې منورې ته راستنې شوې.

(تاريخ طبري ، دوم ، حياة الصحابه د رېمه برخه)

## مور، چې هغه وليد يو حيرانونکی انځور راته ښکاره شو

حضرت عائشه صديقه ﷞ وايي: يو ځل حضرت رسول الله ﷺ خپلې پنې په خپله ګنډلې ، او ما څرخی وريت، يو ناڅاپه مې دحضرت رسول الله ﷺ په مخ مبارک ولګېدو ، ګورم چې دحضرت رسول الله ﷺ په تندي باندې دخولو څوڅاڅکې ښکاريږي ، او په خولو کې يو ډول رڼا راپورته کېدله ، حضرت عائشه ﷞ وايي: چې زما له پاره دغه يو داسې حيرانونکی انځور و ، چې په پوره توجه او پام لرنه سره مې تر ډېره پورې د حضرت رسول الله ﷺ مبارک تندي ته کتل ، حضرت رسول الله ﷺ چې کله ستر ګې پورته وغړولې ، ماته يې وکتل (چې زه په ډېره حيرانتياسره هغه ﷺ ته ګورم) نو وې ويل: عائشې ! څه خبره ده ؟ ولې دومره په حيرانتياسره راته ګورې؟

ما ورته وويل: يارسول الله! ومې ليدل چې ستا په تندي باندې دخولو څوڅاڅکي دي او په دې څاڅکوکې ماته يو ډول نور ، او راپورته کېدونکې رڼا تر ستر ګو شوه، دې خوشحاله کونکي او مبارک انځور زه

دېته اړ ايستمه چې تاته په پوره ځير کتنيا سره وګورم، قسم په خدای ! که „ ابو کبير هذلي،، (چې دجاهليت دزماني يو نامتو شاعر دی) ته ليدلی وای ، نو هغه ته به څرګنده شوې وه چې د هغه دشعرونو صحيح مصداق ته يې. حضرت رسول الله ﷺ وويل: راته ووايه دهغه شعرونه کوم دي؟ حضرت عائشه رضي الله عنها وايي : ماحضرت رسول الله ﷺ ته د (ابو کبير هذلي) داشعرونه واورول:

ومبرأمن كل غبرحيضة    وفساد مرضعة وداء مغيل

فإذانظرت إلى اسرة وجهه    فإذانظرت إلى اسرة وجهه

**ژباړه**: هغه د زوکړې او تی ورکولو دوخت له هر ډول پليتيو څخه پاک دی ، دهغه د ځلېدونکي مخ له ليدلو څخه داسې جوتيږي چې يوه رڼا او برېښنا پکې پرکيږي .

کله چې حضرت رسول الله ﷺ دا شعرونه واورېدل ، هرڅه چې په لاس کې وو هغه يې کېښودل، او وې ويل: عائشې ! کومه خوشحالي چې ستا له دې خبرو او شعرونو څخه ما ترلاسه کړه ، هغومره خوشحالي به تاته زما په کتلو کې په لاس نه وي درغلې . (مستدرك حاكم، دارج السالكين (ص:۲۷۷) مصر، دسيرت عائشة (ص: ۲۵۲ ) په حواله)

## (درسول الله ﷺ دپټو رازونو خبرلرونکې)

يو ځل حضرت رسول الله ﷺ له قريشو سره دغزا کولو تکل کړی و، حضرت عائشې رضي الله عنها ته يې وويل: يوې غزاته دتللو له پاره ځان چمتو کړه،

Scanned by CamScanner

او داخبره له ځانه سره پټه وساته ، چې څوک درڅخه خبر نه شي، بيا حضرت رسول الله ﷺ هم دغزا له پاره په تياري کولو باندې لګياشو.

لږ وروسته حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه دحضرت عائشې رضی الله عنها کره ورغى هغې ، غنم غلبېلول.

حضرت ابوبکر رضی الله عنه پوښتنه وکړه: داڅه کوې ؟ ايا حضرت رسول الله ﷺ دسفر له پاره دچمتوالي درته ويلي دي؟ ددې خبرې په اورېدلو سره حضرت عائشه رضی الله عنها پټه خوله شوه.

حضرت ابوبکر رضی الله عنه په دوهم ځل بياپوښتنه وکړه: ايا حضرت رسول الله ﷺ غزاته دروانېدلو تابيانيسي؟

حضرت عائشه رضی الله عنها بياهم چپ شوه.

بيا حضرت ابوبکر رضی الله عنه وويل: کېداى شي دنجد له خلکو سره يې دغزاکولو اراده وي؟

حضرت عائشه رضی الله عنها په دريم ځل هم پټه خوله وه او هيڅ يې هم ونه ويل.

حضرت ابوبکر رضی الله عنه وويل: کېداى شي چې له قريشوسره يې دجګړې تکل کړى وي؟

بياهم حضرت عائشې رضی الله عنها هيڅ ځواب ورنه کړ.

په همدې وخت کې حضرت رسول الله ﷺ راغى.

حضرت ابوبکر رضی الله عنه ترې وپوښتل : يارسول الله ! چېرته دتلو تکل موکړى؟ رسول الله ﷺ وويل: هو.

Scanned by CamScanner

ابوبکر ﷺ وویل: دروم په لور دتللو اراده مو کړې؟

رسول الله ﷺ وویل: نه .

ابوبکر ﷺ وویل: دنجدیانو په لور روانېدلو ته چمتوالی نیسئ؟

رسول الله ﷺ وویل : نه .

بیا ابوبکر ﷺ وویل: نو کېدای شي چې دقریشو په لور دتللو تکل مو کړی وي .(تاریخ ابن کثیر : څلورمه برخه)

## دحضرت عائشې له برکته دتیمم حکم نازل شوی

په یوه سفر کې حضرت عائشه ﷺ له حضرت رسول الله ﷺ سره وه، په لاره کې د حضرت عائشې ﷺ هغه هار (همېل) ورک شو کوم چې د افک په پېښه کې ورک شوی ؤ ، کله چې کاروان راستون شو او ذات الجیش نومې ځای ته ورسېدل ، نو هغه هار (امېل) یې پرې شوی او ورک شو .

له تېرې پېښې څخه حضرت عائشې ﷺ پوره عبرت اخستی ؤ ، نو په دې ځل یې سمدلاسه حضرت رسول الله ﷺ ته خبر ورکړ ، دسهار وخت نږدې ؤ، حضرت رسول الله ﷺ د کاروان دارولو امر وکړ،او یو سړی یې دامېل په لټه پسې ولېږلو ، پېښه داسې وه چې په کوم ځای کې هغوی اړولي په هغه سیمه کې تر لرې لرې پورې اوبه نه وې، کله چې دلمانځه وخت رانږدې شو، خلک په وېره وېره حضرت ابوبکر ﷺ ته راغلل . او هغه یې له خپلې دې ستونزې څخه خبر کړ، (یعني دلمانځه وخت شوی ، داودس له پاره له خلکو سره اوبه نشته په دې سیمه کې تر لرې لرې پورې اوبه

نشته ، اوس به څه کوو؟ اوحضرت ابوبکر ﷺ حضرت رسول الله ﷺ ته راغی، څه ګورحضرت رسول الله ﷺ دحضرت عائشې ﷺ په ځنګون سر ایښې ویده دی، حضرت ابوبکر ﷺراغی دحضرت عائشې ﷺ خواته کېښناست اوله ډېرې غوسې څخه یې په دې تخرګ (ډډه) کې په سوک سخته ، سخته ووهله.

خو حضرت عائشه ﷺ د حضرت رسول الله ﷺ ارام او خوب ته په پام سره له ځایه ونه خوځېدله ، بلکې دېخوا په څېر په خپل ځای ناسته وه، ترڅو دحضرت رسول الله ﷺ خوب خراب نه شي ، کله چې حضرت رسول الله ﷺ له خوب څخه راویښ شو ، نو په دې خبره خبر شو.

او په همدې وخت حضرت رسول الله ﷺ ته وحي راغله ؛چې تر دې وړاندې خویه د لمانځه له پاره یواځې په اودس سره پاکي ترلاسه کېدله، خو اوس چې دحضرت عائشې ﷺ د هار (امیل) د نادرک کېدلو له امله مسلمانان په داسې سیمه کې دېره دي چې داودس کولوله پاره هلته اوبه نشته . اوس حکم دادی چې په داسې ځای کې داودس پر ځای په تیمم سره هم لمونځ کول صحیح دي.

الله ﷻ وایي: وَإِنْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا (النساء:۴۳)

**ژباړه**: که تاسو ناروغه اویا په سفر کې یاست، او له تاسو څخه یو څوک له انساني ضرورت (متیازو) څخه راشي، او یا له خپلو ښځو سره

وکوروالی وکړي، او اوبه ترلاسه نه کړای شي، نوپه پاکه خاوره دپاکي تکل وکړی (یعني دپاکي په موخه په پاکه خاوره تیمم وکړئ) او په لاسونو او مخونو باندې یې ومورئ، له شک پرته الله ﷻ بښونکی او مهربان دی. خوشبېې وړاندې ټول صحابه ﷡ پرېشانه و، داوبو دنشتوالي له امله داوداسه په غم غمجن او له ستونزو سره مخ و، خو اوس خبره په بل مخ واوښتله، دټولو صحابه کرامو ﷡ زړونه له خوشحالي څخه ډک دي، او ټول ام المؤمنین حضرت عائشې ﷞ ته لاس په دعاء دي، او کله چې دکوچ کولو په وخت اوښ له ځایه ولاړ شو، هار (امیل) داوښ تر ګېډه لاندې و، او ترلاسه شو.

حضرت اسید بن حضر ﷛ حضرت عائشې ﷞ ته وویل: الله ﷻ دې تاسوته خیر اوبرکت درکړي، قسم په خدای ستاسو په اړه چې کله هم کومه پېښه رامنځته شوې په هغه کې دمسلمانانو دخلاصون اوسو کالي له پاره لاره هواره شوې ده.

رواه البخاری کتب المناقب باب فضل عائشه ﷞ (۱/۵۳۲،۵۱۸)

## دیوې دعا په زده کولو سې دعائشې ؓ پرېشانه کېدل

حضرت عائشه ﷞ ووایي: یوه ورځ حضرت رسول الله ﷺ راته وویل: عائشې! خبره یې چې الله ﷻ ماته داسې خپل نوم راښودلی دی چې په هغه سره دعاء وشي، او له الله ﷻ څخه دهغه په وسیله کوم شی وغوښتل شي، نو الله به یې هرومرو قبولوي.

ماورته وویل: یارسول الله ﷺ! زما مور او پلار دې ترتا قربان شي، ماته

Scanned by CamScanner

هغه دعاء را وښیه. حضرت رسول الله ﷺ وویل: عائشې! هغه دعاء ستاله پاره مناسبه نه ده، حضرت عائشه ﷞ وايي: زه په یوه کونج کې پریشانه کیاستم، لږ وروسته بیا راغلم حضرت رسول الله ﷺ ته مې وویل: یارسول الله! ماته هغه دعاء وښیه! بیا هم حضرت رسول الله ﷺ وویل: ستاله پاره مناسبه نه ده چې زه هغه دعاء دروښیم او بیا ته په هغې سره د دنیا شیان له الله ﷻ څخه غواړې.

حضرت عائشه ﷞ وواېي: بیا زه ولاړه شوم اودس مې تازه کړ، دوه رکعته لمونځ مې وکړ، او بیا مې داعاء وکړه:

(اللَّهُمَّ إِنِّي أَدْعُوكَ اللَّهَ وَأَدْعُوكَ الرَّحْمَنَ وَأَدْعُوكَ الْبَرَّ الرَّحِيمَ وَأَدْعُوكَ بِأَسْمَائِكَ الْحُسْنَى كُلِّهَا مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ أَعْلَمْ أَنْ تَغْفِرَ لِي وَتَرْحَمَنِي)

(ابن ماجه:۳۸۵۹)

**ژباړه:** اي الله! د (الله) په نوم دې بولم، د (رحمان) په نوم دې بولم، او زه تا ښه بدله ورکونکی او مهربان بولم، اوستا په ټولو ښه نومونو باندې دې بولم ماته معلوم وي او که نه، په دې ټولو سره له تاڅخه دا دعاء کوم، چې ماته بښنه وکړې، او په ما باندې ورحمیږې.

حضرت عائشه ﷞ وايي: کله چې حضرت رسول الله ﷺ دادعاء واوریدله نو موسکی شو، او ویې ویل: عائشې! هغه مبارک نوم په همدې نومونو کې یو و په کوم چې دعاء وکړه.

(حیاة الصحابه:۳/۳۵۹)(ابن ماجه رقم الحدیث:۳۸۵۹)

Scanned by CamScanner

# حضرت عائشه او علم طب

حضرت عروة ﷺ (چې دحضرت عائشې ﷺ خوریي دی) وایي: حضرت عائشې ﷺ ته مې وویل: ستاپه اړه چې کوم سوچ کوم همدومره درته په تعجب کې کېږم. ماته تر ټولو خلکو ته په دین ښه پوهه معلومېږي، خو بیا له ځان سره ووایم : په دې کې دحیرانتیاڅه خبره ده؟ ځکه چې ته دحضرت رسول الله ﷺ ښځه او دحضرت ابوبکرصدیق ﷺ لور یې ( نو همداسې په کار ده چې ترټولو خلکو په دین ښه خبره شې) . بیا چې کله دعربو تر منځ دتېرو ګړو او دهغوی دنسبونو خبره راشي ، نو بیاپه دې کې هم ته راته ترټولو خلکو پوهه معلومېږي ، خو بیا له ځان سره وایم: په دې کې دحیرانتیا کومه خبره ده؟ ځکه چې ستا پلار (حضرت ابوبکرصدیق ﷺ) دعربو دقوم یو ستر عالم ؤ ( نو دهغه لور باید همداسې وي) خو دترټولو زیاته دحیرانتیاوړ خبره داده چې ته په علم طب (روغتیا پوهنه) کې هم پراخ لاس لرې ، داراته ووایه! چې داعلم او پوهه دې له کومه ترلاسه کړې......؟

حضرت عائشې ﷺ په مینه سره تر لاس ونیولم او په ناز یې راته وویل: ای عریه! کله چې دحضرت رسول الله ﷺ ناروغی زیاتې شوې ، نو دعربو او عجمو ډول ډول طبیبانو(روغیتاپوهانو) به ډول ډول درمل (دواګانې) درسول الله ﷺ د درملنې (علاج ) له پاره رالېږلې ، نو په همدې ډول مې له هغوی څخه روغتیاپوهنه (ډاکټري) هم زده کړه.

دمسند احمد په یوه روایت کې راغلي:چې حضرت عائشې ﷺ به په

دې دواګانو سره د رسول الله ﷺ درملنه کوله او له دې لارې يې علم طب هم زده کړی و. (مسند احمد، اوسط الكبير)

## دا دعاء خو زه دخپل امت لپاره په هرلمانځه کې غواړم

حضرت عائشه ﷺ وايي: يوه ورځ مې رسول الله ﷺ وليد چې رياب خوشحاله دی، ورته ومې ويل: يارسول الله! ماته له الله ﷺ څخه دعاء وغواړه! بيا رسول الله ﷺ راته دا دعاء وکړه:

يا الله! دعائشې پخواني او اوسني ټول ګناهونه وبښې، هغې په پټه کړي که په ښکاره يې کړي ټول وبښې.

حضرت عائشه ﷺ وايي: زه په دې دعاء ډېره خوښه شوم، تردې چې له ډېرې خوښي سربداله شوم سرمې ګرېوان کې ټيټ شو.

رسول الله ﷺ راته وويل: ته خو زما په دعاء زياته خوښه شوې؟ ما ورته وويل: ستا په دعاء به ولې نه خوشحاله کېږم؟

رسول الله ﷺ وويل: داسې دعاء خو زه په هرلمانځه کې دخپل امت له پاره غواړم. (حياة الصحابه دريمه برخه(۳۶۲/۳)

## ديوولس ښځو کيسه

رسول الله ﷺ ته د يوولس ښځو کيسه کوله: يوځل حضرت عائشې ﷺ رسول الله ﷺ ته د يوولس ښځو کيسه کوله:

حضرت عائشه ﷺ وويل: يو ځل يولس ملګرو (ښځو) داسې تړون وکړه، چې خپلو خپلو خاوندانو په اړه به هيڅ خبره پټه نه ساتي او دهغوی ټول حال به رښتيا رښتيا وايو.

ددې يولسو ښځو نومونه په سهي رواياتو کې نه دي راغلي، که څه هم په ځيني روايتونو کې دځينې ښځو نومونه راغلي ، خو په هغه نومونو کې هم زيات اختلاف دی ، نو ځکه دهغوی دنومونو له يادونې څخه ډډه شوې ده، او داښځې ديمن او يا دحجاز اوسېدونکې وې، دهغوی خاوندان په سفر تللي و، نو ځکه هغوی دپام غلطولو په موخه سره ناستې، خبرې کوي او هره يوه دخپل خاوند پوره پوره حال وايي.

## لومړی ښځه:

لومړی ښځې وويل: زما خاوند د بېکاره او ډنګر اوښ د داسې غوښې په څېر دی چې دغره په يوه لوړه څوکه باندې ايښې وي ، او دغره لاره هم کړکېچنه وي ، چې له امله يې هلته ختل هم په اسانۍ شونې نه وي ، او نه هم هغه غوښه دومره ښه او خوندوره وي چې دهغې ترلاسه کولو له پاره دومره ستونزې وګالل شي. يعنې ددې ښځې خاوند ډېر بېکاره سړی دی، هيڅ ښېګړه پکې نشته ، او که بيا تش په نوم ښه کار يې په وس پوره وي ، بيا هم دومره کبرجن دی چې هغه ته لاس رسی مشکل دی، نه دلاس رسي دی ، اونه هم دپرېښودلو دی.

## دوومې ښځې وويل:

نه شم کولای چې دخپل خاوند حال ووايم ، که دهغه دعيبونو بيانول پيل کړم ، وېرېږم چې پای ته به يې ونه رسولای شم، ځکه چې که وايم يې نو ښکاره او پټ ټول عيبونه به وايم.ګواکې دوومه ښځه خپل خاوند له سره ترپښو پورې عيبجن ګڼي او په دې ډول يې په ټوليزه توګه( اجمال سره) دهغه عيبونه بيان کړل او نور يې له پوره تفصيل څخه ډډه وکړه.

## دریمې ښځې وویل:

زما خاوند ډېر جګ دی (یعني ډېر بې عقل دی) که کومه خبر کوم نو سمدلاسه طلاق راکوي، اوکه خبره نه کوم نو همداسې انتظار یم.
یعنې که په ژبه کومه خبره کوم له طلاق څخه یې وېرېږم او که خبره نه کوم نو هغه مې هیڅ پروانه کوي. نه په مېړوښو شمېرله کېږم او نه هم بې مېړه یم چې له بل چاسره واده وکړم.

## څلورمې ښځې وویل:

خاوند مې د (تهامه نومې سیمې) دشپې په څېر دی، یعنې برابر طبیعت وال دی، نه زیات ګرم او نه هم زیات سوړ دی، له هغه څخه هیڅ ډول وېره او ګیله نه لرم. ګواکې دې ښځې دخپل خاوند ستاینه وکړه، چې خاوند یې منځلاری او په میانه ډول چلند ورسره کوي، نه زیاته مینه او نه هم ډېره کرکه ترې کوي.

## پنځمې ښځې وویل:

زما خاوند چې کورته رادننه شي نو پړانګ شي او کله چې له کوره وزي بیا زمری، او څه چې په کور کې پرېږدي دهغه په اړه بیا پوښتنه هم نه کوي. دې ښځې هم دخپل خاوند ستاینه وکړه، او دایې هم وویل چې کله کور ته راشي نو دکور په هیڅ ورانه سر نه ګرزوي، نه پرې خوابدی وي او نه هم په کوم کار کې لاسوهنه کوي، او په کور کې چې څومره خوراکي توکي دهغه په اړه بیا پوښتنه نه کوي.

## شپږمې ښځې وویل:

زماخاوند چې کله په خوراک پیل وکړي نو هر څه له یوې مخې خوري. او که په څښنلو پیل وکړي، هغه هم وچ کړي، او کله بیا چې ویده کیږي یواځې ویده کیږي، په یوه کمبله کې ځان ونغاړي زماخواته لاس هم نه رانږدې کوي ، چې زما له زړه څخه غم پرې لرې شي. دې ښځې دخپل خاوندزیاته بدي (مذمت) بیان کړ ، او هغه یې دغوایي په څېر انځور کړ چې له خوراک او څښناک پرته بل دهیڅ ښې نه دی ، او دښځې هیڅ فکر ورسره نشته.

## اوومې ښځې وویل:

خاوند مې له کوروالي څخه بېوسه او نامرده دی، او دومره ناپوه دی چې خبره هم نه شي کولای، ټولې ناروغۍ په هغه کې رایوځای شوې دي، اوله بلې خوابیا دومره ظالم دی چې زما سر یې تل پړسولی ، یا یې بدن راته پرهر کړی وي او یایې دواړه کارونه کړي وي.

دې ښځې هم دخپل خاوند زیاته بدي بیان کړه ، چې هغه دکوروالي حقونه نه شي پوره کولای ، که خبره کوې نو ښکنځل کوي ، او که لوبې کوې نو سر را پړسوي، او کله خو بیا چې ډېر غوسه وي بیاد بدن غړي راماتوي له سره ترپایه ټول سره ظلم او زیاتی دی.

Scanned by CamScanner

## اتمې ښځې وویل:

خاوند مې د زعفران په څېر خوشبویه دی، او د سوی په څېر پستکی مستکی دی .دې ښځې دخپل خاوند ستاینه وکړه، چې هغه په ښکاره او پټه دواړه ښه خویونه لري، باریک طبیعته دی ، غوسه هیڅ نه پېژني، بدن یې نازک دی، دعطرونو په څېر خوشبویي ترې پورته کیږي ، او غاړه غړۍ کېدلو ته یې تل زړه کیږي.

## نهمې ښځې وویل:

خاوندمې لوړې لوړې ښکلې او ماڼۍ لري، دنګه ونه لري، دزیات پخلي له امله یې دکور اېرې ډېرې دي، کور یې دمشورې ځای دی دې ښځې هم دخپل خاوند ښېګړه بیان کړه، چې هغه ډېر مشر او سخي سړی دی، هروخت یې نغری ګرم وي چې له امله یې اېرې زیاتې وي ، مناسبه ونه لري، او ښه پوه انسان دی، نوځکه تل له هغه سره مشورې کیږي ، لکه چې دهغه کور دمشورو له پاره جوړشوی وي.

## لسمې ښځې وویل:

خاوند مې مالک نومیږي، او مالک څومره ښکلی سړی دی . زما له ټولو ستاینو او صفتونو څخه هغه ډېر غوره او زیات دی ، د اوښانو شپولونه (پنډغالي)یې ډېر او څرځایونه (ورشوګاني) یې لږ دي، کله چې اوښان دساز اواز اوري نو پوه شي چې هغوی به اوس حلالیږي . ددې ښځې دخبرو لنډیز دادی: چې خاوند مې له کچې وتلی سخي اوډېرې مېلمه پالنې له امله یې اوښان دې ته نه وزګاریږي چې

ورشو(څرځای ) ته ولاړ شي، بلکې په کورکې تړلي ، او حلالیږي،او دمېلمنو دمېلمستیا له پاره وړاندې کیږي.

## یوولسمې ښځې وویل:

زما خاوند ابوزرع نومیږي ، او ابوزرع څومره ښکلی انسان دی، له ګاڼو او غوږوالیو څخه یې زما غوږونه ډک کړي، په ښه خوراکونو سره یې زما متې له غوښو ډکې کړې دي، او زه یې ښه نازولې یم ، زړه مې ډېرترې خوشحاله او له خوښي ډک دی.

ما په پوسونو(رمو) څرولو، کوچیتوب او تنګۍ کې ژوند تیراوه، خوهغه له دې بېوزلي څخه را وایستلم او دآسونو، اوښانو، ځمکو او درمندونو څښتنه یې کړم (یعنې مادخوارۍ او احتیاج ژوند درلود ، خو هغه شتمنه او عزتمنه کړم) تردې لابله دخوښۍ خبرهٔ دادهٔ چې: هغه ته کومه خبره کوم بده یې نه ګڼي، کله چې ویده شم ترسهاره ویده یم (یعنې هیڅ کارکولو ته اړه نه یم) کله چې مې دڅه څیښلو ته ضرورت شي. (نو هرڅه د ډېروالي له امله) پوره ځان اوبه کړم.

دابوزرع مور! او څومره ښه ښځه ده دابوزرع مور، دهغې غټې لوښي تل ډک وي، دهغې کور ډېر پراخ دی(یعنې هغه ډېره شتمنه او پراخ زړې ښځه ده) . دابوزرع زوی! دابوزرع زوی ... څومره ښکلی دی، دهغه دویده کېدلو ځای دتورې په څېر نری دی، او د وړوکې سېږلي یو وزر یې بس وي. (یعنې ډېرتوریالی،او دیو جنګیالي او

ځوکي په څېر ژوند لري ، په ډېر تنګ ځای کې د خوشبو له پاره ویده کېږي، او خوراک یې هم لږ وي، په لږڅه یې ګوزاره کېږي)

دابوزرع لور! دابوزرع دلور خبره بیا نوره هم دحیرانتیاده، دمور اوپلار خبره منونکې، خپلې جامې ډکونکې ( یعنې له روغتیایي پلوه صحتمنده) مزې او غټه پټه ده، دخپلې بنې روح ده (یعنې له خاوندسره دومره مینه کوي چې بنې یې په دې سره سوځي، او اور پرې بلیږي.

دابوزرع دمینځې بیا څه درته ووایم ؛ کومه ځانګړتیا اوکمال یې درته په ګوته کړم، ( دومره امانت ساتونکې ده چې ) دکور خبره هیڅکله هم دباندې نه باسي ، تر خوراکي توکیو پورې یو شي هم له اجازې پرته نه وراخلي، او کور لږ ګنده کېدلو ته هم نه پرېږدي( یعنې تل یې پاک ، سپېڅلی ساتي) دازموږ کورنی ژوند و په ډېره خوښۍ سره شپې ورځې تېرېدلې، یوه ورځ سهار وخت د پیو(شیدو) لوښي ایښېدل ، چې ابوزرع له کوره ووت، په لاره کې له یوې ښځې سره مخامخ شو چې دپړانګانو په څېر دوه بچي هم ورسره و، او هغې ښځې په خپله غېږه کې په دوه انارونو باندې لوبې کولې ، هغه ښځه دابوزرع دومره خوښه شوه چې ماته یې طلاق راکړ او له هغې سره یې نکاح وکړه.

د ابوزرع له طلاق وروسته مې بیا له یوه عزتمند او مشر سړي سره نکاح وکړه ، چې دښه آسونو پور ، او لښکر لرونکی او نېزه لوبونکی و، هغه ښه ونازولم ، ډېرې شتمنې یې راکړې، د هرډول څارویو ( اوښانو ، غواوو ، او پوسونو ) یوه یوه جوړه یې راکړه او دایې هم راته وویل:

ام زرع ! (د زرع مورې !) په خپله يې هم خوره او خپلو خپلوانوته چې چاته دې خوښه وي هغوی ته يې دډالۍ په توګه ورلېږه.

خوبيا هم که ددې دوم خاوند داټول نعمتونه سره يوځای کړم نو داټول به دابوزرع ديوه وړوکي لوښي برابر نه شي، ( يعنې د دوم خاوند ښېګړې دلومړي خاوند په پرتله ډېرې کمې او لږ دي)

حضرت عائشې ؓ چې کله حضرت رسول الله ﷺ ته د يولسو ښځو کيسه واوروله ، رسول الله ﷺ ورته وويل: ستا له پاره داسې يم لکه چې ابوزرع دامې زرع و( يعنې همداسې ستا خوښې ته پام لرنه کوم ) خو زه تاته طلاق نه درکوم.

حضرت عائشې ؓ وويل: يارسول الله ! زمامور اوپلار دې له تا قربان وي ! ابو زرع څه حيثيت لري؟ ته خو زما له پاره تر هغه ډېر زيات او غوره يې.

رواه مسلم (جلد : ۲) والبخاري (جلد : ۲) والترمذي، الطبراني ، وفي الشمائل باب ماجاءكلام رسول الله ﷺ (ص: ۱۷)

## دمينې څرګندونه کله کله داسې هم وي

يو ځل يوه ايراني څنګلوري رسول الله ﷺ ته دمېلمستيا بلنه ورکړه.

رسول الله ﷺ وويل: عائشه به هم راسره وي ،

ايراني وويل: نه. رسول الله ﷺ وويل : نو بيا زه هم ستا بلنه نه منم .

درسول الله ﷺ له لوري دهغه دمېلمستيادبلنې منلو لامل داو ، چې په دې ورځ د رسول الله ﷺ په کور کې خوراکي توکي نه وو، (چې له امله

یې) کورنۍ ټول د پر وړي و ، نو ځکه رسول الله ﷺ نه غوښتل چې ښځه یې په کورکې په لوږه ناسته وي او خپله ځان موړ کړي.

کوربه کورته ولاړی. او په دووم ځل بیا راغی او بیا یې همدا غوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ بیا هغه ځواب ورکړ. کوربه بېرته ولاړی.

کوربه دریم ځل بیا راغی رسول الله ﷺ په دریم ځل بیا هغه خبره ورته وکړه چې عائشه به هم راسره وي ؟

هغه وویل: هو. له دې وروسته رسول الله ﷺ او عائشه ؓ دواړه دهغه کره ورغلل. دښنګلوري دعائشې له بلنې ښځه دوه ځله انکار له دې امله کړی و چې په کور کې یې دخوراک دیوه تن له پاره تیار کړی و، او په دریم ځل یې څه نور خوراکي توکې هم برابر کړي و، او دبلنې له پاره راغلی و. (رواه مسلم کتاب الاطعمة جلد:۲ رقم الحدیث:۳۷۹۸)

## داخرت دمینې څراغ

سعید بن مسیب رحمه الله وایي: یو ځل عائشې ؓ رسول الله ﷺ ته وویل: یارسول الله ! له کله ښځه چې تاسو راته په قبر کې دمنکر اونکیر (پرښتو) د سخت او وېرونکي اواز او دقبر د زاتنګېدلو یاده ونه کړې ده له هغه وخت ښځه مې په هیڅ شي باندې زړه نه ډاډه کیږي، او تل دقبر په سوچونو او غم کې زړه خورم.

رسول الله ﷺ وویل: ای عائشې! دمنکر او ددې خبرې په اورېدلو سره ستا زړه  ــ د مسلمانانو په غوږونو کې داسې ښکلې لګیږي ، لکه چې نکیر غږ به دمسلمانانو په غوږونو کې داسې ښکلې لګیږي ، لکه چې په سترګو کې رانجه ښائسته ښکاري، او دقبر تنګېدلې به مسلمان ته

داسې سوکاله کونکی او هوساکونکی وي لکه چې کوم ماشوم خپلې مهربانې او شفقت کونکې مورته دسردرد یادونه وکړي ، او مور یې سر په کراره کراره ، ورتېښنګوي، څو عائشې ! داخبره هم واوره چې دالله ﷻ په کارکې شک کونکوله پاره لویه تباهي او هلاکت دی.

او خبره یې چې قبر په مړي باندې څه ډول را تنګیږي (او څه ډول تختـه کـول کـوي) ؟ بیا رسول الله ﷺ په خپلـه دهغـه یادونـه پـه دې ټکـوکې وکړه: قبرداسې پرې راتنګیږي لکه چې تر یوې غتې ډبرې هګۍ لاندې شي . (المشکاةالمصابیح)

## دژوند تېرولو زرینه کړنلاره (اصول

حضرت عائشې ؓ ته الله ﷻ دحکمت او پوهې غته پانګه ورکړې وه ، هغې ؓ به درسول الله ﷺ له هر ، هر حکم سره سم عمل کاوه ،چې دهغه یوه مثال دادی :چې رسول الله ﷺ ویلي :

(له خلکو سره دهغوی له حیثیت او درجې سره سم راشه درشه کوئ)

حضرت عائشې ؓ به ددې حدیث له غوښتنې سره سم لـه خلکـو سره چلنـد کـاوه.ددې یـوه بېلګـه او مثـال دادی : چـې یـوه ورځ د حـضرت عـائشې ؓ کورته یو دتیتې درجې (پوړې ) بسپنه کـونکی(سـوالګر) راغی ، دده حیثیت ته په پام سره حضرت عائشې ؓ هغه ته یـوه ګولـه مـړۍ ورکـړه او رخـصت یـې کـړ. لـه دې وروسـته بیـا یـو بـل بـسپنه کونکی(سوالګر) چې ښې پاکې جامې یې په تن وې حضرت عائشې ؓ

ته راغی ، حضرت عائشې ﷺ یې درجې او حیثیت ته په پام سره هغه په کمپله کېناوه خوراک یې ورته راوړ او بیا یې رخصت کړ.

خلکو له حضرت عائشې ﷺ څخه پوښتنه وکړه: له دې دوه تنو سره دې بېل بېل چلند ولې وکړ؟ (یو دې یواځې دیوې ټوټې مړۍ په ورکولو سره رخصت کړ. او دوم دې په کمپله باندې کېناوه خوراک دې ورکړ او بیا دې رخصت کړ) حضرت عائشې ﷺ وویل: حضرت رسول الله ﷺ ویل: (له خلکو سره دهغوی له حیثیت او درجې سره سم چلند کوئ)

(ابوداؤد،کتاب الادب)

## د دنیا ژوند لږ بل ډول راته ښکاري

امام مالک رحمه الله وایي: ماته داخبره رارسېدلې ده چې یوه ښځه (مسکینې) سړي له عائشې ﷺ څخه دخوراک له پاره د څه شي غوښتنه وکړه. په دې وخت کې دعائشې ﷺ مخې ته انګور ایښي وو، عائشې ﷺ یو چاته وویل: د انګور یوه دانه واخله سوالګر ته یې ورکړه.

هغه سړي (دانګور دانې ته) دېرېه تعجب او حیرانۍ سره کتل ، عائشې ﷺ وویل: ته په دې سره تعجب کوې؟ خبر یې چې د انګور په دې یوه دانه کې څومره وړې وړې ذرې دي؟

له دې سرسم یې دا آیت هم تلاوت کړ:

(الزلزال:۷،حیاة الصحابة:۲)

من یعمل مثقال ذرة خیرا یره.

ژباړه: څوک چې د یوې ذرې برابر نیکي وکړي نو هغه به ترلاسه کړي.

که ښه پام ورته وشي نو په دې لنډه کیسه کې دنصیحتونو او حکمتونو پوره نړۍ نغښتې ده، که انسان خپل هر عمل (کړه) له دې نکته نظر څخه وګوري، نوبیا که هغه عمل هرڅومره وړوکی او مختصر ولې نه ....؟ چې ماته په هر عمل باندې بدله راکوله کیږي، نو که ښه کار مې کړی وي، ښه بدله (جزاء) به راکوله کیږي، اوکه بد عمل مې کړی وي نو، بده بدله (سزاء) به راکول کیږي...... بس یواځې همدا فکر او غم دی چې انسان ته په دنیا او اخرت کې بریالیتوب او نېکبختي ورپه برخه کولای شي. په مینه که کتل شي نو ددې دنیاتولې چارې به بل ډول ترته څرګندې شي

## ته ښکلی یې که ستا دواړې ښځې ؟

دپردې دحکم ترنازلېدلو وړاندې: یو کوچي او بې رنګه ځوان حضرت رسول الله ﷺ ته دبیعت له پاره راغی په دې وخت کې حضرت عائشه ؓ هم له حضرت رسول الله ﷺ سره په حجره کې ناسته وه، دې سړي وویل: یارسول الله ﷺ زه دوه ښځې لرم چې تر دې سورمخې ډېرې ښائسته دي (هغه دعائشې ؓ لورته اشاره کوله) که دې خوښه وي نو زه به یوې ته طلاق ورکړم او تاسوبه ورسره نکاح وکړئ.

ددې سړي دخبرې په اورېدلو سره حضرت عائشې ؓ دکېپې او مسخرې په ډول هغه ته وویل: ته ډېرښکلی یې که ستاښځې ؟

سړي په ځواب کې وویل: زه ترهغوی ښکلی یم. کله چې دغه سړی ولاړی، نو حضرت رسول الله ﷺ او حضرت عائشې ؓ تر ډېره پورې

Scanned by CamScanner

ددې سرې دې ساده وړاندیز ته په موسکي ډول خندل. دغه ځوان د رسول الله ﷺ صحابي ضحاک ؓ و. (مستدرك حاکم)

## دمینې غوټه

حضرت عائشه ؓ وايي: چې له حضرت رسول الله ﷺ سره تر نکاح کولو وروسته چې کله رسول الله ﷺ ز ه راواده کړم، نو يوه ورځ مې له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل. یارسول الله ﷺ له ماسره دې څومره مینه ده؟ رسول الله ﷺ وویل: له تاسره دومره زیاته، ټینګه او ژوره مینه لرم لکه چې د رسۍ غوټه ټینګه او کلکه وي.

حضرت عائشه ؓ وايي: له دې وروسته به مې بیا کله ناکله له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کوله چې یارسول الله! ستا دمینې غوټه اوس په څه حال ده؟ رسول الله ﷺ به په خندا، خندا کې راته وویل: ډېره ښه ده تر اوسه هیڅ بدلون پکې نه دی راغلی، او نه هم کمزورې شوې ده. (مستدرك حاکم)

## ودې کتل؛ څه ډول مې وژغورلې......!

يو ځل ابوبکر ؓ د رسول الله ﷺ کره ورغی، کله چې دروازې ته رسیدې نو اوري چې عائشه ؓ له رسول الله ﷺ سره په لوړ غږ خبرې کوي، ابوبکر په دې خبره سخت په غوسه شو، کله چې کورته راننه شو نو خپلې لور (عائشې ؓ) ته وايي: زه اورم چې ته له رسول الله ﷺ سره په لوړ غږ خبرې کوې!

ددې خبرې له کولو سره سم ابوبکر ﷛ لاس پورته کړ چې عائشه ﷛ په سوک ووهي ، خو رسول الله ﷺ يې لاس ونيو. کله چې ابوبکر ﷛ له کوره ووت ، نو رسول الله ﷺ عائشې ﷛ ته وويل: ودې کتل چې څه ډول مې وژغورلې؛ که نه سخته به يې وهلې وې. (مستدرك حاکم)

## دايلاء (له ښځو څخه دقسم) کيسه

حضرت رسول الله دژوند ورځنۍ چارې ډېرې په ساده او عادي ډول پرمخ بېولې ، تردې چې څو ،څو مياشتې به په کور کې نغرى هم تود نه شود حضرت رسول الله ﷺ پاکو ښځو ته چې څومره کجورې او خوراکي توکې ټاکل شوي وو دهغوى ورځنۍ اړتياوې پرې نه پوره کېدلې .سره له دې چې د حضرت رسول الله ﷺ ښځې په دې هم ښې پوه وې چې دفتوحاتو کړۍ ورځ په ورځ پراخيږي ، او دغنيمت مال دومره رايوځاى شوى چې دهغه يوه وړه برخه هم دټولو ښځو د اړتياووپوره کولو له پاره بس ده.

يوه ورځ ابوبکر او عمر ﷛ د رسول الله ﷺ کره راغلل ، که ګوري رسول الله ﷺ په منځ کې ناست دى او له يوې بلې خوا يې ښځې پرې راټولې دي او دورځنيو اړتياوو لګښتونو دزياتوالي غوښتنې کوي.

ابو بکر او عمر ﷛ دواړو خپله خپله لور ( عائشه او حفصه ﷛ ) پوه کړې او له دې غوښتنې څخه تېرېدلو ته يې چمتو کړې ، هغوى دواړو ژمنه وکړه چې نور به لګښتونوکې دډېروالي په غوښتنه سره

رسول الله ﷺ نه څورووي، خو نورې ښځې په خپله غوښتنه ولاړې وې.

په دې شپو ورځو کې رسول الله ﷺ له آس څخه راغوځېدلی و، او ددهٔ يې ژوبله شوې وه. دې خبرو رسول الله زيات وځوراو، او داسې ژمنه يې وکړه چې تر يوې مياشتې پورې به خپلو ښځوته نه نږدې کيږي.

منافقين چې داسلام او مسلمانانو له پاره يې هسې پلمې لټولې، هغوی له دې څخه په ګټه اخستلو سره داسې خبرونه خپاره کړل چې رسول الله ﷺ ټولو ښځوته طلاق ورکړی دی.

کله چې داخبر دصحابه کرامو ﷺ تر غوږونو ورسېد، هغوی سخت وځورېدل .ددې خبر په اورېدلو سره عمر ﷺ د رسول الله ﷺ کره راغی په دې وخت کې رسول الله په کټ کې پروت و، په سپېڅلي بدن يې د کټ د رسيو نښې نښانې ښکارېدلې،ددې انځور په ليدلو سره د عمر ﷺ د ځان له واکه ووت، او له سترګو څخه يې غوټۍ، غوټۍ اوښکې رواني شوې، او په اوښکلنو سترګويې رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ! ايا تاسو خپلو ښځو ته طلاق ورکړی دی؟

رسول الله ﷺ وويل: نه ! داسې خبره نه ده.

کله چې حضرت عمر ﷺ د حضرت رسول الله ﷺ له مبارکې خولې څخه داخبره واورېدله نو په لوړ غږ يې د(الله اکبر) چيغه پورته کړه .او بيا يې دا زېری ټولو صحابه کرامو ﷺ ته ورساوه.

کله چې يوه مياشت تېره شوه ، نو رسول الله ﷺ ترټولو وړاندې حضرت عائشې ﷺ ته راغی ، عائشې به يوه يوه ورځ شمېرله ، نو کله

چې حضرت رسول الله ﷺ راغی حضرت عائشې ؓ ورته وویل: يارسول الله ! تاسو خو ديوې مياشتې ژمنه کړې وه ، او تر اوسه نه ويشت ورځې تېرې شوې دي؟ (يعنې تراوسه خو ستاسو دژمنې تر پوره کېدلو پورې يوه ورځ پاتې ده) حضرت رسول الله ﷺ وويل: عائشې ! مياشت کله کله نه ويشت ورځې هم وي.

(رواه مسلم کتاب الطلاق، باب الايلاء (۱/۹۳۰) (الکتب الستة)

## زه په مرورتيا کې يواځې په ژبه ستاسو نوم نه اخلم

يو ځل رسول الله ﷺ عائشې ؓ ته وويل: عائشې ! کله چې ته له ما څخه مروره يې نو زه دې په مرورتيا پوهېږم، عائشې ؓ وپوښتل: يارسول الله ! زما په مرورتيا باندې څه ډول پوهېږې؟

رسول الله وويل: کله چې ته له ما څخه خوشحاله يې نو بيا دخبرو اترو په وخت داسې وايې: يارب محمد) او کله چې مروره شې نو بيا داسې وايي: لاورب ابراهيم) په دې وخت کې بيا رب محمد نه وايې.

عائشې ؓ وويل: يارسول الله ! ستاسو خبره سمه ده ، خو زه په مرورتيا کې هم يواځې په ژبه ستاسو له نوم يادولو ډډه کوم ، په زړه کې مې بيا هم ستاسې نوم وي له زړه څخه يې نه هېروم.

رواه البخاری جلد: ۲ کتاب النکاح (۴۸۲۷) مسلم کتاب فضائل الصحابه (۴۴۶۹)

علامه کرماني رحمه الله دقاضي عياض له خولې ليکي: دعائشې ؓ له لوري په ژبه د رسول الله ﷺ له نوم يادولو څخه ډډه کول يواځې

Scanned by CamScanner

دغیرت لـه امله و، او پـه دې کـې هـیڅ ستونزه نشته، دهغـې ﷺ دا
ویناچې «زه په مرورتیا کې هم یواځې په ژبه ستاسو له نوم یادولو ډډه
کوم » ددې خبرې ښکاره او ځرګنده دلیل دی چې بیا هم هغه ﷺ په زړه
کې له رسول الله ﷺ سره بېکچې مینه لري. او دنوم نه اخستل د یو
طبعي جذبې په بنسټ وي ؛ چې هغه په ښځو کې لـه چاسره د زیاتې
مینې په وخت پیدا کیږي. رواه البخاري کتاب الادب (۸۹۸/۲ حاشیه:۱)

## دجمل تر جګړې وړاندې.....!

حضرت عائشه ﷺ او ورسره ام سلمه او صفیه ﷺ ؛ ټولې حج ته تللې
وې. کله چې هغوی هلته د عثمان ﷺ دشهادت ، او دبغاوت خبرونه
واورېدل ، نو ډېرې عمجنې شوې ، او عائشه ﷺ خو دمسلمانانو تر
مینځ دبېلتون او اختلاف لـه امله ، پـه اسلامي نظام کې د فتنو او
زیانونو درامینځته کېدلو له وېرې هم ډېره پرېشانه وه.

او په همدې وخت کې طلحه، زبیر ، نعمان بن بشیر، کعب بن عجره او
ورسـره نور ډېـر صـحابه کرام ﷺ لـه مـدینې څخـه پـه تېښته مکـې
مکرمې ته راورسېدل ، ځکه چې دعثمان ﷺ وژونکي دهغوی د وژلو
په لټه کې ول، دا خلک له بغاوت کونکو سره په بغاوت کې شریک نه
و، بلکې هغوی بغاوت کونکي له بدو او فتنو څخه راګرزول.

مکې ته له ورتلو سره سم هغوی دعائشې ﷺ مجلس تـه ورسـېدل ، او
مشوره یې ورسره وکړه چې موږ ته اوس څه کول په کار دي؟

عائشې ﷺ ورته وویل: تاسو تر څه وخته پورې مدینې ته مه ځئ، ځکه چې هغه خلک اوس ټول دعلي ﷺ په شاوخواکې راټول شوي دي، او علي ﷺ دنورې فتنې له وېرې له هغوی څخه (سمدلاسه) دقصاص اخیستلو اراده نه لري، نوتاسو څو ورځې داسې ځای ته ولاړ شئ، چې تاسو ته دامن ځای ښکاریږي او هلته اوسئ، کله چې امیرالمؤمنین علي ﷺ داسلامي حکومت د ټولو چارو واګې په لاس کې واخلي، او تاسو هم په دې لاره کې هڅه وکړئ ترڅو داخلک له علي ﷺ څخه لرې شي، او بیا علي ﷺ له هغوی څخه د عثمان ﷺ دقصاص (دمړینې دبدلې) واک ترلاسه کړي.

دې صحابه ﷺ دعائشې ﷺ مشوره ومنله او دهغې ﷺ له مشورې سره سم یې بصرې ته دتللو تکل وکړ، ځکه چې په دې وخت کې په بصره کې دمسلمانانو لښکر رایوځای شوی و، کله چې هغوی ﷺ بصرې ته په روانېدو شول، نو له عائشې ﷺ څخه یې هم وغوښتل چې په اسلامي حکومت کې د کراري تر راتللو پورې ته هم له موږ سره بصرې ته ولاړه شه.او په دې وخت کې دعثمان ﷺ دقاتلانو (وژونکو) زور او قوت، او په هغوی څخه دقصاص له اخیستلو څخه دعلي ﷺ بېوسي؛ دنهج البلاغة په روایت کې هم په څرګندو ټکو راغلي

(نهج البلاغة دشیعګانو یو باوري او معتبر کتاب دی) په همدې نهج البلاغة کې راغلي:

له امیر المؤمنین (علي) ﷺ څخه دهغه ځینې ملګرو خپله داغوښتنه کړې وه چې :که د عثمان ﷺ قاتلانو (وژونکو) ته سزاء ورکړئ نو ډېره

به ښه وي، د دې غوښتنې په ځواب کې امیر (علي ﷺ) ویلي: کومه خبره چې تاسو کوئ هغه له ما پټه نه ده؛ خو په اوسني وخت کې داځنګه شونې ده ؟ سره له دې چې په مدینه منوره باندې د دې خلکو ولکه ده، او ستاسو غلامان او د ښاوخوا کوچیان هم له هغوی سره ملګري شوي دي، نو په داسې ستونزمنو حالاتو کې که زه هغوی ته د سزاء ورکولو حکم وکړم ،نو څه ډول به هغه پلې شي؟ )

حضرت عائشې ﷺ ته که له یوې خوا د علي ﷺ د مجبوري کچه څرګنده وه ، له بلې خوا هغې ته دا خبره هم څرګنده وه چې د عثمان ﷺ په شهادت سره د خلکو زړونه څومره درد پېدلي وو، او د عثمان ﷺ قاتلانو ته په سزاء ورکولو کې ځنډ (چې د علي ﷺ له لوري د مجبوري له امله رامینځته شوی و) او تر دې زیاته دردوونکې خبره لا داوه چې د عثمان ﷺ قاتلانو به د علي ﷺ په مجلسونو کې ګډون هم کاوه. کوم خلک چې د علي ﷺ له مجبور څخه خبر نه و، هغوی په دې حالت هم ډېر ځورېدل، زیاته وېره وه ، چې داسې نه چې د غه شکایتونه او ګیلې د کومې بلې ناخوالې پیل نامه نه وګرزي، نو له همدې امله د خلکو ترمینځ د پوهاوي، او صبر کولو، امیر المؤمنین ته د اسلامي حکومت د واک ټینګولو ، او یو له بله د ګیلو او شکایتونو د لرې کول په لاره کې ، او د خلکو تر مینځ د سولې د چاپېریال رامینځته کولو په موخه عائشې ﷺ بصرې ته د سفر کولو تکل وکړ،

په دې سفر کې له هغې ﷺ سره د دې خوریی (عبد الله بن زبیر) او ورسره نور صحابه کرام ﷺ ملګري وو، او بصرې ته د تللو موخې خپله عائشې ﷺ

قعقاع ﷛ ویلې وې. دداسې سترې ستونزې په وخت دمسلمانانو تر مینځ دسولې راوستل چې څومره اړین او ضروري کار و داهم له چاڅخه پټه نه ده. او ددې سترې اسلامي دندې دترسره کولو په موخه که عائشې ﷺ له خپل محرم (خوریي) سره داوسپنیزې کجاوې په پرده کې سفر کړی وي نو دادومره بېځایه او نارواکار نه دی.لکه څومره چې شیعګانو او روافضو یو ستر سیلاب ترې جوړ کړی ، او په عائشې ﷺ یې دا تور لګولی چې هغې دقرآن کریم حکمونه تر پښو لاندې کړي....! قصص معارف القرآن (ص:۳۰۸)

## دجمل دجګړې پېښه

حضرت عائشه ﷺ دحج له اداء کولو وروسته په مکه مکرمه کې وه چې د دریم خلیفه (عثمان ﷺ) دشهادت دردونکی خبر یې تر لاسه کړ، ددې خبر په اورېدلو سره حضرت عائشه ﷺ ډېره وخورېدله، د محرم په راتلونکې میاشتې کې چې دعمرې کولو کوم نیت کړی و، هغه یې بدل کړ ، سمدلاسه دعمرې له اداء کولو وروسته مدینې منورې ته راستنه شوه، په (سرف) نومي ځای ته له رسېدلو سره سم عبید بن ابی مسلمه په مخه ورغی، د عبید په لیدلو حضرت عائشه ﷺ ډېره خوشحاله شوه، او ورته وې ویل. په ډېر بیړه وخت کې راغلی یې عبید وویل: خبره یې چې عثمان ﷛ شهید کړل شوی دی؟ او مدینه منوره له اته ورځو را هیسې بې خلیفه (بې مشره) پاتې ده ؟

Scanned by CamScanner

عائشې ﷺ پوښتنه وکړه: بیا هغوی څه وکړل؟ عبید وویل: ټولو خلکو د علي ؓ په لاس بیعت کړی، سره له دې چې تر اوسه د بغاوت کونکو یوه ډله په مدینه منوره باندې ولکه لري، ددې خبرې په اورېدلو سره عائشه ﷺ بېرته مکې مکرمې ته ستنه شوه، مکې مکرمې ته چې کله ورسېده ، دمسجد حرم په دروازه کې کوزه شوه، او حطیم ته دتللو اراده یې وکړه ، نو خلکو هغلته ورته دپردې بندوبست وکړ.

کله چې ام المؤمنین ؛ عائشه ﷺ حطیم ته ورسېده او ټول خلک راټول شول، نو عائشې ﷺ هغوی ته په خبرو کې وویل:

خلکو ! دبېلابېلو ښارونو او سرچینو فتنه اچونکو، دمدینې دغلامانو په مرسته په شهید شوي مشر ( عثمان ؓ) باندې داسې تور لګولی ، چې دا مشر په خلکو کې فتنې اچوي ، داسې کشرانو خلکوته یې دچارو واګې سپارلې دي،چې دهغوی تراوسه (دعقل )غاښونه هم نه دي راغلي .سره له دې چې په دې لاره کې له همدې ځوانانو څخه پخوا دي راغلي .سره له دې چې په دې لاره کې له همدې ځوانانو څخه پخوا هم کار اخستل شوی ، او په ډېرو ځایونو کې دې ځوانانو دهغه ښه ساته هم کړې ده، دغه داسې خبرې دي چې ډېرې پخوا تېرې شوې دي ، او داخبرې له دې ځوانانو پرته نور څوک سبمالولای هم نه شوای، خو دې شرخوښونکو هسې په عثمان ﷺ پسې خبرې کولې ، او له هغه څخه یې دچاروا واګې (حکومت) ترلاسه کول غوښتل ، او خلکوته په داسې ځرګندوله ، چې زموږ موخه او مطلب دچارو سمون ( اصلاح ) ده، او کله چې هغوی ته ددې فتنې او شرخوښونې سهي دلیل او دنیوکې ځای په لاس نه ورغی، نو څکه هغوی د خپل مشر امر څخه

سرغړونه او بغاوت وکړ، چې په دې سره خلکو ته د هغوی د کړو وړو تر منځ ښکاره توپیر (تضاد) څرګند شو، او بله دا چې هغوی هغه وینې توی کړې چې د هغوی تویول حرام، او د دې وینو په تویولو سره یې دا قابل احترام (د احترام وړ) ښار حلال وګڼو، او د کوم مال اخستل چې حرام وو، هغه چور کړ ،او په کومه میاشت کې چې د کافر وینه تویول حرام و، کومه میاشت چې الله ﷻ عزتمنده او مبارکه ګرزولې وه، هغه میاشت یې د عثمان ؓ د وینو تویولو له پاره حلاله وګڼله، د دې میاشتې حرمت ته یې هم ونه کتل.

قسم په خدای! د عثمان ؓ د قاتلانو (وژونکو) په څیر خلکو څخه که د ځمکې ټولې پورې ډکې شي بیا هم تردې ټولو د عثمان ؓ یوه ګوته غوره ده، زه تاسو له دې ټلې څخه د هغوی خلاف مرسته غواړم چې هغوی ته سزاء ورکړله شي.

له دې خبرو وروسته عائشه ؓ په (عسکر) نومې اوښه باندې سپره شوه (هغه اوښه یعلی بن امیه سرو زرو په ۸۰ روپیو اخیستې وه) له دې چمتوالي وروسته کاروان روان شو.

له بلې خوا علي ؓ ته د دې کاروان د راتلو خبر رسېدلی و، هغه هم سهل بن حنیف انصاري په مدینه منورې ته د امیرپه توګه وټاکو، او په خپله له یوه ستر کاروان سره عائشې ؓ او د هغې د ملګرو مخنیوي ورووت. د خپل منځي ستونزو او جګړو په وخت چې کومې پېښې په دنیاکې رامینځته کیږي له هغه څخه هیڅ هوښیار او تجربه لرونکی سړی نه شي بېغمه کېدلای، په هره زمانه کې د!سې دښمنان پیداشو.

Scanned by CamScanner

چې دمسلمانانو ترمينځ غلط فهمي پيداکړي، او مسلمانان په خپلو کې يوبل سپکو سپورو ته چمتوکړي بلکې کله کله خو همدا خبرې تر جګړې پورې رسېدلې دي. دلته هم همدا صورت رامنځته شوی ، چې له مدينې منورې څخه دراتلونکو صحابه کرامو ﷺ په ملګرتيا؛ بصرې ته عائشې ﷺ تلل ، منافقينو او شرخوښونکو خلکو دعلي ﷺ په وړاندې داسې په بد شکل تعبير کړ ، چې داټول بصرې ته ځکه ځي چې له هغه ځايه ستاپه خلاف لښکر تيار کړي ، او له تاسره مقابله وکړي، که ته روښتياهم دمسلمانانو مشر او امير يې نوستا دنده ده چې ددې فتنې تر راپورته کېدلو وړاندې دهغې مخنيوی وکړې.

حسن ، حسين ، عبدالله بن جعفر اود عبد الله بن عباس په څېر صحابه کرامو ﷺ له دې رايې سره مخالفت هم کړی و، او داسې مشوره يې ورکړې وه ، چې تاسو ترهغه وخته پورې پرهغوی حمله مه کوئ ، ترڅوچې خبره پوره سپينه شوې نه وي، خو څرنګه چې ډېر خلک په بله خوا وو، نو ځکه علي ﷺ هم دهغوی لوری ونيو ، او له لښکر سره دهغوی مخ نيوي ته روان شو، او دا شرخوښونکي او فتنه اچونکي خلک هم (دښو او اخلاص منډو خلکو په بڼه ) له علي ﷺ سره په لښکرکې ملګري شول.

علي ﷺ له مدينې منورې څخه له لښکر سره روان شو (ربذه) نومي ځای له رسېدلو سره سم راپور راورسيد چې دعائشې ﷺ لښکر دمدينې په لور راوان دی، نو علي ﷺ ددوم خبر تر راتللو پورې په همدې ځای کې تم شو.

Scanned by CamScanner

د حضرت عائشې ﷺ او د هغې دلښکر بيان عرفي په داسې تکيو سره کوي: په تلو ، تلو چې کله موږ د (حواب) نومي ځای چينو ته ورسېدلو ، هغلته موږ ته سپيو وغفل ، عائشې ﷺ له ماڅخه پوښتنه وکړه، داکومې چينې دي، ما ورته وويل: دا چينې د (حواب) په نوم سره شهرت لري. عرفي وايي: زما دځواب په اورېدلو سره عائشې ﷺ په زوره چيغه وکړه، او خپل اوښ يې تېز وځغلاوه، او وې ويل: يو ځل رسول الله خپلو ښځوته وويل: له تاسوڅخه به په کومه يوه باندې د (حواب) نومي ځای سپي وغفيږي .

بيا حضرت عائشې ﷺ وويل: ای خلکو مابېرته مکې ته ستانه کړئ، درې ځله يې داخبره وکړه، او ورسره ورسره يې خپل اوښ هم هشه کړ،او خلکوهم خپل خپل اوښان وځغلول ،او ټول بېرته راستانه شول، تر دې چې کله دوهمه ورځ شوه او عبدالله بن زبير ﷺ په ډېره وېره سره حضرت عائشې ﷺ ته راغی او چيغه يې کړه: ځان وساتئ ! ځان وساتئ!

په خدای قسم چې دعلي ﷺ لښکر تاسو ته نږدې راغلی دی. بيا عائشه ﷺ او د هغې لښکر وړاندې ولاړل تردې چې (مريد) نومي ځای ته ورسېدل ، او له لوړې خوا هغه ځای ته ورغلل ، هلته يې واړول.

له بلې خوا عثمان بن حنيف هم له خپلو ملګرو سره دهغوی مقابلې ته راوتلی و. طلحه ﷺ د ( مريد ) نومي ځای ښي لورته ولاړ او دتقرير له پاره راوړاندې شو: دالله ﷻ ستاينه يې وکړه، له هغه وروسته يې دعثمان ذوالنورين ﷺ دشهادت اوفضيلت يادونه يې وکړه . له دې وروسته بيا عائشې ﷺ په تقرير کولو پيل وکړ (په دې وخت کې دهغې

غږ ډېر لوړ و لکه چې له عائشېﷺ غوندې توریالی ښځې سره په کار هم داسې و، دعائشېﷺ دتقریر اغېز داشو چې دعثمان بن حنیف په ملګرو باندې ماتې ګډه شوه.

په راتلونکي سهار جګړه پیل شوه، او تر ماسپښین پورې درنه جګړه روانه وه، په دې جګړه کې دعثمان بن حنیف ډېر ملګري ووژل شول، او له دواړو لوریو څخه بېشمېره خلک ژوبل هم شول، په دې وخت کې دعائشېﷺ دویاندله لوري پرله پسې دجګړې دپای ته رسولو اعلانونه کېدل، خو په دې خبره هیچا هم غوږ ونه ګراوه، بلکې دمخالفینو وژلو ته یې دوام ورکړ، تردې چې هغوی تول یې په وینو ولمبول. کله چې دعثمان بن حنیف لښکر ماتې وخوړه، نو بیا هغوی دسولې چیغې پیل کړې، او دعائشېﷺ دلښکر له لوري هم دهغوی دسولې وړاندیز ومنل شو. له دې وروسته بیا څو نورې پېښې هم رامنځته شوې لکه: دعثمان بن حنیف اسیر کېدل، او دعثمانؓ دقاتلانو وژل کېدل، اوداسې نور...

په دې وخت کې عليؓ په (ذي قار) نومي ځای کې میشت و. هغه قعقاع بن عمرؓ راوغوښت او دعائشېﷺ په لورې یې داستازي په ډول ولېږو، ترڅو له هغېﷺ سره دسولې په اړه خبرې اترې وکړي.

قعقاعؓ چې کله عائشېﷺ ته راغی له هغې څخه یې وپوښتل: ای ام المؤمنین ته دلته دڅه له پاره راغلې یې؟ عائشېﷺ په ځواب کې ورته وویل: اي بنی الاصلاح بین الناس(یعني: زماګرانه بچیه! زه دخلکو ترمنځ دسولې راوستلوپه هیله راغلې یم)

بیا طلحه او زبیر رضي الله عنهما هم دقعقاع رضي الله عنه مجلس ته راوغوښتل شول ، قعقاع رضي الله عنه له هغوی څخه وپوښتل تاسو څه غوښتنه لرئ؟هغوی په ځواب کې وویل: دعثمان رضي الله عنه قاتلانو (وژونکو) ته له شرعي سزا ورکولو پرته بله هیڅ غوښتنه نه لرو.

قعقاع رضي الله عنه (دهغوی دپوهاوي په موخه ) وویل: تاسو خو دعثمان رضي الله عنه د قاتلانو له ډلې شپږ سوه تنه وژلي دي،او په جګړه کې به دوارو لوریو ته بې کچې زیانونه واوړي ،نو ددې کار (دعثمان رضي الله عنه قاتلانوته دشرعي سزا) په ترسره کولو کې زیاتې حوصلې او اطمنان ته اړتیاده، ځکه چې داکار تر هغې شوني نه دی ترڅو چې دمسلمانانو دچارو واګې ټینګې شوې نه وي او ټول مسلمانان سره یو شوي نه وي. او کله چې اسلامي حکومت منظم شي او هر څه پرځای شي نو بیا داکار موږ خپله هم کوو، نو په دې وخت کې تاسو ته لازمه ده چې دسولې لاره خپله کړئ، طلحه او زبیر رضي الله عنهما وویل: که دعلي رضي الله عنه رایه هم داسې وي لکه تاسو چې وایاست ، نو بیا موږ سولې ته چمتویو.

ددې خبر له اورېدلو وروسته قعقاع رضي الله عنه امیر المؤمنین (علي) رضي الله عنه ته راستون شو او په دې خبره یې خبر کړ، ددې خوشحاله کونکې خبرپه اورېدلو سره علي رضي الله عنه هم زیات خوشحاله او مطمئن شو، دسولې کېدلو دخبر په اورېدلو سره خلک هم ډېر خوښ شول او شپه یې ښه په بېغمي سره تېره کړه ،او ټولو خلکو دبېرته ستنېدلو تکل وکړ، او درې ورځې په همدې میدان کې په دې ډول تېرې شوې ، او ټول په دې هیله و چې نور به د دواړو لوریو تر منځ د سولې اعلان کېږي،او دځلورمې

ورځې په سهار دغه اعلان کېدونکی و، او دعلي ﷺ او طلحه او زبير ﷺ ترمنځ ليدلو کتلوته هم لاره هواره شوې وه.

خو(له بده مرغه) کوموخلکو چې عثمان ﷺ شهيد کړی و، او دهغه په وژلو کې يې لاس درلود، هغوی ټوله شپه په مشورو تېره کړه، تر دې چې په پای کې يې په دې خبره هوکړه وکړه په پټه خوله بايد دجګړې اورته لمن ووهله شي. بس هغوی داسې کړنلاره وټاکله چې لومړی به ځو او دحضرت عائشې ﷺ په لښکر به برېد کوو، ترڅو هغوی داسې وګڼي چې دحضرت علي ﷺ له لورې ژمنه ماته شوې، او هغوی به په دې غلط فهمي سره دحضرت علي ﷺ په لښکر بريد کړي او دجګړې مرکېدونکی اوربه يو ځل بيا په لمبو شي.

دې شيطانانو له خپلې کړنلارې سره سم سهار وختي په تياره کې له ټول لښکرڅخه په پټه يوې خواته ووتل او چا چې له کومې پښې سره تړاو لاره دهغوی لورته ورغلل او برېد يې پرې وکړ، ددې ناڅاپي بريد په کېدلو سره په خلکو کې چيغې او نارې شوې، او دا شيطانان په خپل چل اوفرېب کې برياليي شول، دبصرې خلکو دعائشې ﷺ له لښکر څخه دمرستې له پاره چيغې پيل کړې او همداراز نور قبائلو خپلو خپلو مرسته کونکو ته دمرستې وړانديزونه وکړل، چې دعائشې ﷺ په لښکر باندې بريد شوی، او هغه په دې کې معذوره ګڼل کېدله چې داسې يې انګېرله چې دعلي ﷺ دلښکر له لوري بريد پرې شوی دی. نو ځکه يې په ځوابي بريدلاس پورې کړ.سبايانو(دعبدالله بن سبا ملګرو)وخت په وخت دجګړې اورته لمن وهله، علي ﷺ په

Scanned by CamScanner

چیغو، چیغو له خلکو وغوښتل :چې تاسو له جګړې څخه لاس واخلئ، او هیڅ د وېرې خبره نشته ،خو کله چې علي ﷺ دا صورت حال ولید چې جګړه دتمکېدلو نه ده، نو ځکه له جګړې کولو پرته بله لاره نه وه.

کعب بن ثور حضرت عائشې ﷺ ته راغی او غوښتنه یې ترې وکړه چې که تاسو په خپله دجګړې ډګر ته راشئ نو کېدای شي چې الله ﷻ ستاسو په برکت دخلکو ترمنځ سوله راولي ، حضرت عائشې ﷺ داخبره ورسره ومنله، او په کجاوه کې کېناستله او کجاوه په (عسکر) نومې اوښه باندې کېښودله شوه.

له بلې خوا جګړه په خرپ روانه وه، حضرت عائشې ﷺ چې کله دادردونکی صورت حال ولید نو کعب بن ثور ته یې وویل: ورشه قرآن مجید راوړه ، او دې خلکوته دالله ﷻ دکتاب بلنه ورکړه، کعب قرآن شریف واخیست ، او دمخالفینو په وړاندې تېرشو. خو دعلي ﷺ دلښکر په مخه ترټولو وړاندې دعبدالله بن سبا ملګري روان ول ، هغوی نه غوښتل چې سوله راشي، نو ځکه هغوی ټول د کعب بن ثور مخې ته ودرېدل . علي ﷺ خپله دلښکر په پای کې و، او داسې ګومان یې کاوه چې مخالفین یې له جګړې پرته بل هیڅ شي ته چمتو نه دي. او کله چې کعب سبائیانوته قرآن کریم وړاندې کړ،هغوی کعب په نیزه باندې په وهلوسره هغه مړ کړ، او دعائشې ﷺ په اوښ یې هم دغشو وارې وکړ.

کله چې دبصرې خلکو ولیدل چې د سبائیانو مخ دعائشې ﷺ پلور دی ، او هغوی له دې پرته په بل چاباندې برید نه کوي، نو ځکه دبصرې خلکو دعائشې ﷺ په شاوخواکې چاپېر شول اودهغې اوښ یې په خپله

Scanned by CamScanner

ولکه کې واخست. جګړه تر ټکنډي غرمې پورې توده روانه وه، دماسپښين وخت جګړه وربده، خو دماسپښين له لمانځه وروسته جګړه بيا ونښته، تر غرمې پورې دجګړې دچارو واګې دعائشې ﷺ په لاس کې وې. خو دعلي ﷺ لښکر بريالی شو علي ﷺ په چيغو، چيغو خلکوته وويل: دعائشې ﷺ اوښ حلال کړی، که دعائشې ﷺ اوښ له منځه ولاړ شي دا خلک خپله يو يو کيږي، بس په همدې وخت يو سړي دعائشې ﷺ اوښ حلال کړ. علي ﷺ محمد بن ابوبکر ته وويل: دعائشې ﷺ کجاوه واخله يوه خېمه پرې ودروه، او وګوره چې عائشه ﷺ خو ژوبله شوې نه ده؟

حضرت علي ﷺ دحضرت عائشې ﷺ پلويانو ته وويل: تاسو په امن ياست، نو خلکو يو په بل باندې له وار کولو څخه لاس واخيست، بيا حضرت علي ﷺ خلکوته وويل: چې عائشه ﷺ بصرې ته بوزئ، نو محمدبن ابوبکر او عماربن ياسر ﷺ هغه بصرې ته بوتلله، او هلته دعبدالله بن خلف الخزاعي په کور کې اوسېدله، حضرت علي ﷺ تر دريو ورځو پورې دجګړې په ډګر کې پاته شوځکه چې خلکو خپل مړي لټول چې خاورو ته يې وسپار.

حضرت عائشې ﷺ له بصرې څخه مکې مکرمې ته دتللو تکل وکړ، نو علي ﷺ هغې ته د اړتياوړ ټول توکي چمتو کړل، او کله چې دروانېدلو وخت رارسېدې شو، نو حضرت علي ﷺ خپله دحضرت عائشې ﷺ درخصتولو له پاره ورغی، او هغې ته ددرناوي له پاره دباندې ولاړ و. عائشه ﷺ له کورڅخه راووته او خلکوته يې وويل: ای

زامنو ! مورِ په بېړه یو دبل مقابلې ته دربدلي وو، په راتلونکې کې زمورِ ددې اختلافونه له امله هیڅوک چاته زیان نه رسوي.

قسم په خدای! چې لومړی مې له علي ﷺ سره اختلافات لرل خو دا اختلاف داسې و لکه یو زوم چې له خپلې خواښې سره لري، زماپه اند علي ﷺ ډېر ښه او نېک سړی دی.

له دې وروسته بیا علي ﷺ خلکو ته وویل: ای خلکو ! په خدای قسم ! چې ام المؤمنین روښتیا خبره وکړه، او زما او دهغې ترمنځ اختلافونه روښتیاهم همداسې وو، او عائشه ﷺ په دنیا او اخرت کې ستاسو دګران پیغمبر رسول الله ﷺ ښځه ده.

له دې وینا وروسته، علي ﷺ ترڅو میله پلې مزله.وروسته له عائشې ﷺ څخه راستون شو، خو بیا یې هم خپلو دواړو زامنو: حسن او حسین ﷺ ته امر وکړ چې هریو دې له عائشې ﷺ سره تر یوې، یوې ورځې مزله وروسته بیا راستون شي.

لنډه داچې دشرخوښونکی دفتنه اچولو په پائله کې ددې دوه سپېڅلو ډلو ترمنځ په بې پامې سره دجګړې دغه (دردونکې پېښه) رامنځته شوه، چې بیا دجګړې ترپای ته رسېدلو وړاندې دواړې خواوې پردې (دردونکې پېښه) سخت پښېمانه او غمجن ول. عائشې ﷺ ته چې به کله هم دغه پېښه وریاده شوله نو دومره به یې وژړل چې پړونی به یې په اوښکو لوندشو. او همدا راز علي ﷺ ته هم له دې (دردونکې پېښې) څخه سخته صدمه (درد) رسېدلې وه، کله چې له جګړې وروسته علي ﷺ د

Scanned by CamScanner

وژل شویو کسانو د جسدونو لیدلو ته راغی ، نو (له ډېر درداو غم څخه به ) دواړه لاسونه په زوره په خپلو ورنونو باندې ووهل ، او په چیغو ، چیغوبه یې وویل: کاشکې چې زه تر دې پېښې وړاندې مړشوی ، تردې چې نوم مې هم دخلکو له ذهنونو څخه وتلای وای.....!

او په ځینې روایتونو کې راغلي : کله چې به عائشې ﷺ تلاوت کاوه ، او دې آیت( وقرن في بيوتكن) ته ورسېدله نو ډومره به یې وژړل چې پړنی به یې په اوښکولوند شو. ددې ایتٔ په تلاوت کولو باندې یې ژړا له دې امله نه کوله چې له کورڅخه وتل دهغې په اند ګناه وه، او یا سفر کول ناروا و، بلکې له کورڅخه د وتلو په وخت چې کومه (دردونکې پېښه) رامنځته شوې وه، په هغه باندې خوابد او غم ددې لامل و چې ددې ایت دتلاوت په وخت به یې ژړه.

(روح المعانی ،تاریخ طبری،تاریخ ابن کثیردمعارف القران په حواله)

## دتحریم پېښه

درسول الله ﷺ د ژوند بنسټیز اړخونه دعدل او انصاف له پلوه هم ډېر ځلاند او تل پاتې دي، همدا لامل و چې درسول الله ﷺ دژوند(سېرت) هره هره برخه له عدل ، انصاف، اوبرابري څخه ډک ښکارېدو.

عدل او انصاف که دژوند په نورو چارو کې څرګند و ، همداراز د کورني ژوند په هره برخه کې هم دعدل او انصاف وړانګې لکه درڼاورځې په څېر څرګندې اوښکاره وي. رسول الله ﷺ په ژوند کې

دخپلو ښځو تر مينځ دعدل او انصاف تله داسې برابره ساتلې وه چې که یو څوک دپلټنې څراغ پسې واخلي ، نو د ټول انسانیت په تاریخ کې به دداسې عدل او انصاف بیلګه اومثال ترلاسه نه کړای شي.

درسول الله ﷺ عادت داسې و، چې دمازدیګر له لمانځه وروسته به څو، څو شېبې ټولو ښځو ته دهغوی په حال دځان خبرولو په موخه ورتلو. او دا کار به یې هم د ټولو ښځو په وړاندې په یو ډول تر سره کاوه. خو یو څوورځې به یې له زینب ؓ سره تر خپل عادت زیات وخت تېر کړ، له بلې خوا به نورې ښځې په خپل وخت باندې د رسول الله راتګ ته سترګې په لاره وې ، کله چې حضرت عائشې ؓ ددې ځنډ دلامل په اړه وپوښتل نو څرګنده شوه چې د زینب ؓ یوه خپلوان هغې ؓ ته څه شات رالېږلي و ، او څرنګه چې رسول الله ﷺ شات زیات خوښول ، نو ځکه به زینب ؓ هره ورځ حضرت رسول الله ﷺ ته(دخیښلو له پاره ) شات ورکول ، چې له همدې امله به ښځوته دراتللو په ټاکلي وخت کې لږ توپیر رامنځته کېدو.

د حضرت رسول الله ﷺ په راتګ کې لږ ځنډ هم ازواج مطهراتوته دمنلو وړ نه و ،دا ځکه چې د هغوی داباورو چې له حضرت رسول الله ﷺ سره یوځای یوه شېبه تېرول هم ترټولو کائناتو ورته زیات ګټور دي. بس همدا خبره حضرت عائشې ؓ له حفصې او سودې ؓ سره یاده کړه،چې ددې خبرې څه چاره کول په کار دي؟!

له بلې خوا رسول الله ﷺ له بدبوی څخه ډېره کرکه کوله،او بله داچې د شاتومچۍ چې دکوم بوټي له ګل څخه شات رااخلي دهغه بوټي خوند

او بوی په شاتو کې هم تر ستر ګو کېږي ، او په عربي نړۍ کې يوډول ګل و چې هغه ته به يې مغافر ويل، ددې ګل بوی ډېر خوندور نه و، او کله چې به دشاتو مچيو له دې ګل څخه شات رااخيستي و ، نو بيا به دمغافر بوی په شاتو کې هم څرګندېدو.

بس حضرت عائشې ﷺ حضرت حفصې او حضرت سودې ﷺ ته داخبره په خوله کې ورکړه چې کله حضرت رسول الله ﷺ راشي نو تاسو پوښتنه ترې وکړی : چې يارسول الله ! ستاسو له خولې څخه څه ډول بوی راځي؟ او کله چې حضرت رسول الله ﷺ ووايي: چې ماخو يواځې شات څيښلي دي ، نو تاسو ورته ووایاست چې : بياکېدای شي چې دشاتو مچۍ دې په مغافر(نومي ګل ) باندې کېناستلې وي.

بس همداسې وشول چې : رسول الله ﷺ وويل: ماخو شات څيښلي دي ، دې ښځو ورته وويل: کېدلای شي چې دشاتو کومه مچۍ به په مغافر باندې کېناستلې وي، او له هغه څخه به يې دشاتو جوړولو له پاره شيره (جوس) رااخستې وي ،او له امله به يې په شاتو کې دمغافر بوی راغلی وی. څرنګه چې رسول الله ﷺ له بدبويه شيانو څخه کرکه لرله ، او ځان يې لرې ترې ساته، نو له همدې امله درسول الله ﷺ په زړه کې له شاتو څخه کرکه پيداشوه. او رسول الله ﷺ قسم وخوړ چې په راتلونکې کې به شات نه څيښم، او چې د زينب ﷺ زړه مات نه شي نو ځکه يې ددې ژمنې په پټ ساتلو باندې زيات ټينګار وکړ.

خو له دې پېښې وروسته الله ﷻ دوحې له لارې خپل ګران پيغمبر په اصلي حقيقت باندې خبر کړ او وې ويل:

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاةَ أَزْوَاجِكَ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (۱) قَدْ فَرَضَ اللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ وَاللَّهُ مَوْلَاكُمْ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ (۲) (التحریم:۱-۲)

ژباړه: ای نبي! دخپلو ښځې دخوشحاله کولو له پاره ولي هغه شیان پر ځان حرامه وې کوم چې الله ﷻ درته حلال کړي دي؟ الله ﷻ بخښونکی او مهربان دی ، او الله ﷻ ستاسو دقسمونو کفاره تاکلې ده . او الله ﷻ ستاسو مالک دی ، هغه ستاسو بادار دی ، او په هرڅه ښه پوهیږي. معارف القرآن (۸/۴۹۸) بخاری کتاب الطلاق (۴۸۶۳) کتاب عشرة النساء باب الغیرة (۱/۹۷)

## دعشق غم په سینه کې ځراغ وي

کثیربن عبید رحمه الله وایي: یو ځل عائشې ؓ ته ورغلم ، هغې وویل: څوشېبې انتظار وکړه ، زه خپلې څیرې شوې جامې ګنډم بیا به ستاخبرې ته غوږ شم.

ما ورته وویل: ام المؤمنین ! که زه دباندې خلکو ته ووایم : چې ام المؤمنین خپلې څیرې شوې (زړې) جامې ګنډلې نو ټول خلک به دې بخیلې ګومان درباندې وکړي .

عائشې ؓ (په غوسه سره ) په ځواب کې راته وویل: خپل کار کوه ، څوک چې زړې جامې نه اغوندي هغه د نویو جامو داغوستلو هیڅ حق

نه لري (يعنې څوک چې په دنياکې زړې جامې نه اغوندي ، هغه ته په اخرت کې نوې جامې نه ورکولې کيږي .

حياة الصحابه جلد: ۲، بخاری فی الادب (۸۸۲/۲)

کوم غم چې دعشق له امله په سينه کې ځراغ گرزي ، نو بيا به زما په ځيږ دپسرلي له موسم څخه سوځيږي.

# دحضرت عائشې اشعار اوريدل

حضرت عائشه ﷺ وايي: يوځل رسول الله ﷺ زما حجرې ته راغی په دې وخت کې له ماسره دانصارو دوې وړې ماشومې ناستې وې او هغه شعرونه يې ويل: چې انصارو په بعاث نومې جگړه کې ويلي و (دادوارې ماشومې کومې نامتو ډمې نه وې)

نوکله چې رسول الله ﷺ راغی په بستره باندې پريووت او خپل مخ مبارک يې بلې خواته واړاوه. څو شيبې وروسته بيا ابو بکر ﷺ راغی ، هغه ماته په غوسه شو چې داشيطاني کار د رسول الله ﷺ په وړاندې باندې ترسره کوې . (يعنې داسې کول په کار نه دي)

رسول الله ﷺ ابوبکر ﷺ ته وويل: مه کوه پرېيږده . کله چې رسول الله ﷺ او ابوبکر ﷺ په خپلو کارونو باندې لگياشول ، ماهغو ماشومانو ته پټه اشاره وکړه هغوی دواړې له کوره ووتلې.

## درسول الله ﷺ تسلي ورکول حضرت عائشيؓ ته

حضرت عائشه ؓ په حج وداع کې (رسول الله ﷺ په روستني حج کې) له رسول الله ﷺ سره ملګرې وه، کله چې رسول الله ﷺ داحرام تړلو اراده وکړه، حضرت عائشې ؓ رسول الله ﷺ ته عطر ورولګول، او کله چې رسول الله ﷺ سرف (نومي ځای) ته ورسید، دحضرت عائشې ؓ میاشتنۍ ناروغي پیل شوه، رسول الله ﷺ دعائشې ؓ خواته ورغی که ګوري حضرت عائشه ؓ ژاړي. رسول الله ﷺ هغې ؓ ته دتسلي ورکولو په موخه وویل: دا ناروغي الله ﷻ د ادم ؑ د ټولو لوڼو په برخه کړې ده. (یعنې په دې کې دژړا هیڅ خبره نشته، او ترکومه ځایه چې د حج دکارنو تړاو دی) نو دحج ټول هغه کارونه کوه چې نورې حج کونکې ښځې یې کوي، یوازې طواف مه کوه، بیا چې کله له ناروغي څخه پاکه شې هغه وخت بیا طواف هم وکړه.

رواه البخاري کتاب الحج (۲۲۹۰) وابوداؤدکتاب المناسك (۱۵۲۱) والنسائي مناسك الحج (۲۷۱۳)

## د اختیار ورکولو پېښه

له جابر ؓ څخه روایت دی چې: ازواج مطهراتو په یوه خوله له رسول الله ﷺ څخه د نفقې (ورځني لګښت) دزیاتوالي غوښتنه کوله، او داچې کسری او قیصر ښځې په ډول ډول ګاڼو پوښلې او دلوړې بیې په جامو پټې دي، د چوپړ له پاره یې منځې لاس په نوم ولاړې دي. خو زموږ دا دفقر او بېوزلي ژوند تاسو وینئ، نو په کار ده چې زموږ په

لګښتونو کې لږ پراخوالی راولئ. کله چې رسول الله ﷺ له خپلو بیبیانو څخه داسې غوښتنه واورېدله چې : له هغوی سره دې دپاچاهانو او دنیاوالو دښځو په څېر چلند وشي، ددې خبرې په اورېدلو سره رسول الله ﷺ ډېر خوابدی شو، چې هغوی د رسول الله ﷺ د کورنۍ دغرېتوب قدر ونه پېژاند. خو ازواج مطهراتو دې ته پام هم نه و، چې رسول الله ﷺ به په دې خبره دومره ناراضه کیږي.

نو په همدې وخت الله ﷻ لاندې ایاتونه رانازل کړل، چې هغوی ته (آیات تخییر) ویل کیږي.

يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا (۲۸) وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا (۲۹) (الاحزاب۲۸-۲۹)

ژباړه: ای نبي! خپلو ښځوته ووایه : که تاسو د دنیا د ژوند خوشحالي غواړئ نو راشئ چې څه مال او سامان درکړم او په ښه توګه مو رخصت کړم ، او له خپل سنت سره سم طلاق درکړم ، او که تاسو له الله ﷻ او دهغه له رسول ﷺ سره مینه لرئ او داخرت (بریالیتوب او کامیابي غواړئ) نو بیا ستاسو له ډلې ښه کونکوته الله ﷻ په اخرت کې ډېر لوی اجرونه چمتوکړي.

حضرت عائشه رضی الله عنها وایي : کله چې داختیار ورکولو دا ایاتونه نازل شول نو حضرت رسول الله ﷺ ددې خبرې دښکاره کولو پیل له ماڅخه

Scanned by CamScanner

وکړ ،او د آیاتونو تر اورولو وړاندې یې راته وویل: یوه خبره درته کوم ، خو په ځواب راکولو کې یې بېړه مه کوه بلکې له مور اوپلار سره تر مشورې وروسته بیا ځواب راکړه.

حضرت عائشه ﷺ وایي: دا په ماباندې د رسول الله ﷺ له لوري یوه ځانګړې لورېنه وه چې زه یې له مور او پلار سره تر مشورې کولو وړاندې له ځواب ورکولو څخه منعه کړم ،ځکه چې درسول الله ﷺ باور و چې مور او پلار مې راته داسې رایه نه راکوي چې په هغه سره زه له رسول الله ﷺ څخه بېله شم .

خو حضرت عائشې ﷺ د ایت له اورېدلو سره سم وویل: یارسول الله ! ایا ستاپه اړه د مشورې له پاره به زه موراو پلار ته ورځم ؟ زه خو الله ﷻ ، دهغه رسول ﷺ او دآخرت کور خوښوم.

کله چې رسول الله ﷺ دعائشې ﷺ له لوري دغه ځواب واورېد، نو په مخ مبارک باندې یې دخوشحالۍ نښې نښانې څرګندې شوې، او بیا نورو ښځو هم همداسې ځواب ورکړ، او یوې ښځې هم درسول الله ﷺ د مېرمنتوب په پرتله د دنیا پراخوالي ته مخ نه کړه.

رواه البخاری کتاب المظالم (۲۲۸۸) ومسلم)

## دعائشې ﷺ له لورې داولاد هیله کول

یوه ورځ حضرت رسول الله ﷺ خپل ګران زوی ابراهیم ﷺ په غېږه کې اخستی و، او دحضرت عائشې ﷺ خواته ورغی او په مینه مینه یې حضرت عائشه ﷺ راوبلله، ترڅو هغه په ابراهیم ﷺ کې له رسول الله

ﷺ سره د ورته والي ننبې ووينې. له بلې خوا دحضرت عائشې رض په زړه کې د اهيله راوټوکېدله چې کاشکې ما هم اولاد لرلای او رسول الله ﷺ همداسې مينه ورسره کولای؟

نو زما درجه به درسول الله ﷺ په وړاندې ترنورو ښځو اوچته وای ، ددې سوچ په کولو او هيلې دزياتوالي له امله حضرت عائشې رض ته ژړا ورغله ، خوبيايې هم خپلې اوښکې تم کړې. رسول الله ﷺ چې په دې خبره پوه شو نو دهغې په دې طبعي پرېشاني باندې ناراضه شو. (قصص النساء فی القرآن)

## دحضرت عائشې رض اسم کنيت

دکنيت نوم (دزوی ياپلار په نوم يادېدل) په عربو کې دعزت او شرافت نښه وه له دې امله هرچادخپل ځان لپاره اسم کنيت ټاکه دحضرت عائشې رض خو هيڅ اولاد نه و. له دې امله دهغې کنيت نه و . دحضرت عائشې رض وراره حضرت عبد الله ابن زبير چې پيدا شو نودې پورته کړ اودرسول الله په خدمت کې يې حاضر کړ. نبی کريم ﷺ دماشوم په خوله کې خپلې مبارکې لاړې ورکړې دا اولنی شی و چې دماشوم ګېډې ته داخلې شوې ، حضرت عائشې رض دنبی کريم ﷺ په حضور کې عرض وکړ يارسول الله ﷺ! زما دټولو ملګرو اسم کنيت شته تاسو زما لپاره هم اسم کنيت وټاکئ ، نبی کريم ﷺ وفرمايل چې تاسو هم دخپل وراره عبد الله بن زبير کنيت کېږدئ هغه وچې حضرت عائشې رض خپل کنيت ام عبد الله کېښوده چې ترمرګه پورې يې و .

رواه الترمذی کتاب التفسير القران (۳۲۴۰) معارف القران (۱۲۷/۱۲۸،۱۲۶)

## په مرض وفات کې درسول الله ﷺ له لوري دينار خيراتول

حضرت عائشه ﷺ وايي: چې رسول الله ﷺ دخپلې مړينې په ناروغی (مرض وفات) کې يو ځل راته وويل: زموږ په کور کې چې څومره دسرو زرو روپۍ ايښې دي هغه ټولې خيرات کړه، زه د رسول الله ﷺ دناروغي دسختوالي له امله پرېشانه وم نو ځکه مې سمدلاسه په دې خبره باندې عمل ونه کړای شو.

کله چې درسول الله ﷺ ناروغي لږ څه ښه شوه، نو راڅخه وې پوښتل په هغه دينارونو باندې دې څه وکړل؟ ما ورته وويل: ستاسو د ناروغي د سختوالي له امله دې ته وزګاره نه شوم چې خيرات يې کړم، رسول الله ﷺ راته وويل: هغه سره زر ماته راوړه، هغه اوه يا نه ديناره مې رسول الله ﷺ ته راواخستل، رسول الله ﷺ وويل: دمحمد څه ګومان دی چې هغه دې په داسې حال کې له الله ﷻ سره ملاقات (ليده کاته) وکړي چې دا روپۍ له هغه سره وي. بيا يې هغه روپۍ خيرات کړې.

(مسند احمد دسېرت عائشې ﷺ په حواله)

## دابوبکر صديق ؓ دخلافت وصيت

حضرت عائشه ﷺ وايي: يو ځل مې دسردرد له امله داسې وويل: (وا راساه)(وی زماسره!) رسول الله ﷺ راته وويل: بلکې زه وايم: (وا راساه)(وی زماسره!). رسول الله ﷺ وايي: زما زړه و، چې ابوبکر او دهغه زوی راوبولم، خو بيا مې له ځان سره وويل: داسې نه چې خلک

بېځایه خبرې ونه کړي او یا بېځایه هیلې او غوښتنې ونه کړي. (یعني ماغوښتل چې هغه ته دخلافت وصیت ولیکم ، خو بیا مې دخلکو دبېځایه خبرو له امله مې داسې ونه کړل) خو زه پوهېدمه چې الله ﷻ او مسلمانان به ددې خبرې اجازه ورنه کړي چې له ابوبکر پرته دې بل څوک خلیفه (دمسلمانو مشر) شي. رواه البخاری،باب وفاة النبی ﷺ)

## له کومې ځمکې سره چې داسمان هم سیالي کیږي

کله چې د رسول الله ناروغي زیاتېدله ، هغه وخت رسول الله ﷺ دمیمونې ﷺ په حجره کې و، خو څرنګه چې ناروغي ورځ په ورځ زیاتېدله نو رسول الله ﷺ له ټولو ښځو څخه اجازه وغوښتله چې غواړي دناروغي شپې دعائشې ﷺ په کور کې تېرې کړي ، ټولو ښځو یې په ډېره خوښي او دزړه له اخلاصه اجازه ورکړه . بیا رسول الله ﷺ د علي ؓ او فضل بن عباس ؓ په اوږو لاسونه اېښي دعائشې ﷺ حجرې ته راغی، او بیا یې همدلته له نړۍ سره دمخه ښه درمنده پېښه رامنځته شوه، او په همدې حجره کې ښخ کړل شو.

رواه البخاری کتاب المرض،باب مرض الوفات کتاب عشرة النساء باب الغيرة (۱/۳۵۲)

## د ابوبکر صدیق ؓ امامت

حضرت عائشه ﷺ وایي: کله چې درسول الله ناروغي په زیاتېدو شوه ، نو یوه ورځ سهار وخت خلک د رسول الله ﷺ په تمه وو. رسول الله ﷺ څو څو ځله د پورته کېدلو هڅه وکړه ، خو په هرځل به بېهوښي پرې

راغله ، (او رسول الله ﷺ به له ځایه نه شو خوځېدلای) په پای کې رسول الله ﷺ حکم وکړ چې ابوبکر ﷛ دې دخلکو امامت وکړي .

عائشه ﷞ وايي: ما ګومان کاوه چې هرڅوک درسول الله ﷺ په ځای ودريږي خلک به هغه بد وګڼي ، نو ځکه مې رسول الله ﷺته وويل:د ابوبکر زړه ډېر نرى دى ، کېدلای شي چې دا کار به په سمه توګه سرته ونه رسوي ، بلکې هغه به په ژړاشي. (يعنې د ژړا له امله به هغه د خلکو امامت ونه کړای شي ) خو ددې خبرې له اورېدلو سره سره بيا هم رسول الله ﷺ په دوم ځل بيا همداسې حکم وکړ، عائشه ﷞ وايي: ما حفصې ﷞ ته وويل: چې ته له رسول الله ﷺ څخه ددې خبرې غوښتنه وکړه ، هغې هم له رسول الله ﷺ څخه داغوښتنه وکړه( چې ابوبکر به څنګه دخلکو امامت وکړي ځکه چې هغه به سمدلاسه په ژړاشي) رسول الله ﷺ وويل: ښځو خو يوسف ﷷ ته هم دوکه ورکړې وه.! خلکوته وواياست چې ابوبکر دې دهغوی امامت وکړي ، بيا ابوبکر دخلکو امامت وکړ،او ټولو خلکو دابوبکر په امامت کې لمونځ وکړ.

(رواه البخاري باب الهجرة)

## دحضرت عائشې ﷞ يو ځانګړې فضليت

درسول الله ﷺ دمړينې ناروغي په زياتېدو وه، او رسول الله ﷺ له دې پاته کېدونکې نړۍ سره مخه ښه ته چمتوالی نيو. په همدې وخت حضرت عائشه ﷞ درسول الله ﷺ سرته ناسته ده او رسول الله ﷺ هغې ته ډډه وهلې وه په همدې وخت کې دعائشې ﷞ ورور عبدالرحمن ﷛

مسواک په لاس دحضرت عائشې ﷺ حجرې ته رادننه شو، رسول الله ﷺ دمسواک لوري ته وکتل ، حضرت عائشه ﷺ درسول الله ﷺ له طبیعت سره ډېره بلده وه هغه پوه شوه چې د رسول الله ﷺ زړه مسواک وهلو ته شوی، بیا حضرت عائشې ﷺ له خپل ورور عبدالرحمن څخه مسواک واخست او په خپلو غاښونو باندې یې پوست کړ، او بیا یې رسول الله ﷺ ته ورواندې کړ. رسول الله ﷺ مسواک واخست او د روغ رمټ سړي په څېر مسواک یې وکړ.

وروسته به بیا حضرت عائشې ﷺ د ویاړ او فخر په ډول ویل: دټولو ښځو له ډلې یواځې زه یم چې رسول الله ﷺ دخپل ژوند په وروستیو شېبو کې هم زما پاتې شونې په خپله خوله مبارکه کې واخستله.

رواه مسلم کتاب السلام (۴۰۶۵) والترمذی کتاب الدعوی (۳۴۱۸)

## دعائشېؓ په غېږه کې رسول الله ﷺ سر ایښی او وفات

حضرت عائشې ﷺ د رسول الله ﷺ د روغتیا او صحت له پاره دعاوې کولې ، خو یو ناڅاپه رسول الله ﷺ خپل سر دعائشې ﷺ له لاس څخه کش کړ ، او وې ویل: اللهم الرفیق الاعلی)

حضرت عائشه ﷺ وایي: چې رسول الله ﷺ به دروغتیا په وخت وویل: پیغمبرانو ته دمړینې په وخت دنیاوي او اخروي ژوند په اړه اختیار ورکول کیږي،اوس چې د حقیقت او روښتونولي له ژباړونکې ژبې څخه دا توري واریدل شوه نو عائشه ﷺ سمدلاسه غرېو ونیوله اوپوه شوه چې رسول الله ﷺ نور له موږ څخه د رخصتي او داخرت تل پاتې

Scanned by CamScanner

ژوند ته زړه ښه کړي دي. رسول الله ﷺ ته يې وويل: يارسول الله ! تاسو ډېر په تکليف ياست ؟ رسول الله ﷺ وويل: ثواب هم د تکليف په کچه وي. (يعنې څومره چې زيات تکليف انسان ته رسيږي همدومره زيات ثواب ورکول کيږي.) تراوسه خو حضرت عائشې ﷺ رسول الله ﷺ په غيږ کې نيولی ناسته ده، حضرت عائشه ﷺ وايي : يو ناڅاپه مې دحضرت رسول الله ﷺ دبدن دروندوالی احساس کړ ، کله چې مې درسول الله ﷺ سترګو ته وکتل ،نو سترګې يې خلاصې وې ، نو په کراره مې درسول الله ﷺ سر په بالښت باندې کېښود ، او په ژړاشوم ، بيا دعائشې ﷺ په همدې حجره کې درسول الله ﷺ هديره جوړه شوه.

رواه البخاري،باب وفات النبي ﷺ،كتاب الجمعة(۸۸۱) ومسلم كتاب السلام(۲۰۶۱)

## دحضرت عائشېؓ يوه نصيحت کونکي ته درې نصيحتونه

ابن ابي السائب په مدينه منوره کې يو تابعي دی، نصيحت کونکي خلک ډېر ځله دمجلس ګرم کولو په موخه ډېرې مسجعې دعاګانې کوي ، او دځان ښونې په موخه هر وخت نصيحت کولو ته چمتو وي ، عائشې ﷺ هغه ته په خبرو کې وويل:

له ماسره د دريو خبرو ژمنه او وعده وکړه ! که نه : بيا زه په زور باندې دهغوی په اړه ترڅخه ګروېږنې کوم.

هغه وويل: ام المؤمنين ! هغه درې خبرې کومې دي؟

عائشې ﷺ وويل: (**لومړی داچې** ) :په دعاګانو کې خوش اوازي مه کوه.ځکه چې رسول الله ﷺ او دهغه ملګرو داسې نه کول .

Scanned by CamScanner

**دوم داچې**: په اونۍ کې یوه ورځ خلکوته نصیحت کوه، که داسې نه وي نو بیا دوې ورځې ، او که تردې دې هم زیات نصیحت ته زړه غواړي ، نو بیا په اونۍ کې درې ورځې نصیحت کوه ، خلک دخدای ﷻ له کتاب څخه مه زړه تورن کوی.

**دریم داچې**: کله چې خلک په خپل منځي په خبرو بوخت وي ، ته داسې مه کوه چې هغوی ته نصیحت پیل کړې او دهغوی خبرې په نیمه کې پرې کړې ، بلکې کله چې خلک درڅخه دنصیحت کولو غوښتنه وکړي هغه وخت بیا نصیحت ورته کوه.

## انصاف خوښونه

په عام ډول له خپلواکو انسانانو څخه دانصاف هیله لږ کیږي ، خو الله ﷻ د رسول الله ﷺ دشاګردانواو زده کونکو په زړونوکې دغه قیمتي ملغلره ایښې وه. چې دهغې یوه غټه بېلګه او مثال ، دمتضاد صفتونو او خویونو تر مینځ یوځای والی و، حضرت عائشه ؓ دخپلواکي له کمال سره سره، انصاف خوښونکې هم وه.

یو ځل دمصر یو او سېدونکی څه کسان حضرت عائشې ؓ ته راغی ، حضرت عائشې ؓ ترې وپوښتل : د جګړې په ډګر کې ستاسو د مشر کړنلاره (رویه) څه ده ؟

سړي په ځواب کې وویل: د نیوکې وړ (اعتراض وړ) کومه خبره په کې نشته ، کله چې دچا اوښ مړ شي نو هغه بل اوښ ورته اخلي، او که

دچاخادم نه وي هغه ته خادم ورکوي ، اوکه څوک لګښتونو ته اړتیا لري دهغه لګښتونه ورپوره کوي.

حضرت عائشې ؓ وویل: هغه چې زما له ورور محمد بن ابوبکر سره کوم بد چلند کړی وي ، خو بیاهم دهغه دابد چلند ماله دې (حق خبرې) کولوڅخه نه شي راګرزولای. هغه خبره داده : چې رسول الله ﷺ زما په دې کور کې داسې دعاء کړې وه :یا الله ﷻ! څوک چې ددې امت دچارو واګې په لاس کې ولري ، نو هغه که زما په امت سختي کوي ، ته هم له هغه سره دسختي چلند وکړه ، او څوک چې زماله امت سره نرمي(او مهرباني) کوي ،ته له هغه سره دنرمي چلندوکړې.

رواه مسلم کتاب الامارة باب الامام العادل (۲۰/۱۰۰۴) الکتب الستة)

## له خپل خوريي څخه دعائشې ؓ خفګان او سوله کول

عبدالله بن زبیر ؓ یو مشهور او دلوړې کچې صحابي دی ، او داصحابي دحضرت عائشې ؓ دخورزوی (خوریی) دی ، عائشې ؓ له هغه سره زیاته مینه نرمي او شفقت درلود ،ګواکې هغه د دغه خوريي پالنه کړې وه او هغه یې را لوی کړی و.

عبد الله بن زبیر ؓ بیا دعائشې ؓ له زیاتې سخا او پراخ لاس څخه ناراضه و، چې په خپله دومره په سختي او تنګي کې ژوند تېره وي اوهرڅه یې چې لاس ته ورځي هغه خیرات کوي ، له همدې امله یو ځل عبد الله بن زبیر ؓ وویل: په کومه پلمه سره (له دومره زیاتې سخاڅخه) دهغې لاس راګرزول په کاردي.

همدا خبره حضرت عائشې ﷺ ته ورسېدله ، چې زما خوریي داسې خبره کړې ده. عائشه ﷺ په دې خبره سخته ناراضه شوه ، چې څه ډول (دالله ﷺ په لاره کې له خیرات کولو څخه زما لاس نیسي) ؟ او قسم یې وخوړ چې په راتلونکې کې به زه له هغه سره خبرې نه کوم.

کله چې عبدالله بن زبیر ؓ دحضرت عائشې ﷺ په خفګان خبر شو نو زیات پرې وځورېدو او ډېر خلک یې دهغې ﷺ خوشحاله کولو ته (په جرګه ) ورولېږل . او هغوی دعبدالله بن زبیر ؓ له لوري عذرونه ورته وکړل ، خو ،ترور په دې سره راضي نه شوه ،بلکې دخپل قسم عذر یې وړاندې کړ ،( چې ماخو قسم خوړلی چې زه به له عبد الله بن زبیر سره خبرې نه کوم) او په دې سره دعبدالله بن زبیر ؓ پرېشاني نوره هم زیاته شوه اوبه پای کې دې ته اړ شو چې درسول الله ﷺ له نیکه ګنې څخه دوه تنه حضرت عائشې ﷺ ته دجرګې په ډول له ځان سره بوتلل .هغوی دواړو له حضرت عائشې ﷺ څخه اجازه واخستله او کله چې هغوی کورته وردننه کېدل ، نو عبدالله بن زبیر ؓ هم له هغوی سره په څنګ کې پټ ،پټ دعائشې ﷺ کره ورغی.

کله چې دغه دواړه دپردې شاته او عائشه ﷺ په پرده کې دننه کېناستله او خبرې اترې پیل شوې، عبدالله بن زبیر ؓ ژر پرده پورته کړه او دترور په غاړه کې ورولوېدو ، زیات یې وژړل، او ډېر عذرونه یې ورته وړاندې کړل. هغه دوه ملګرو یې هم سپارش کاوه. او له مسلمان سره دخبرو نه کولو په اړه یې درسول الله ﷺ حدیثونه ورته یادول ، او په حدیثونو کې چې له دې کار څخه کومه منعه راغلې هغه

یې ورته اوروله . حضرت عائشې ﷺ هم ددې حدیثونو دځوابولو وس نه درلود ځکه چې په هغه کې له مسلمان سره ه خبرو نه کولو باندې سخت وعیدونه راغلي و. اخر په ژړاشوه او عبدالله بن زبیر ﷺ ته یې ببښنه وکړه ، او دخپل قسم په کفاره کې به یې تل غلامان ازادول ، تر دې چې څلوېښت غلامان یې ازاد کړل. او بیا به چې کله هم دقسم ماتولو خبره وریادېدله نو دومره به یې ژړل چې لوپټه به یې په اوښکو لمده شوه. رواه البخاري،کتاب المناقب،باب الهجرة (۸۹۷/۲)

## دحضرت عائشې ﷺ حق ګويي (حق ويل)

عمروبن غالب تابعي ﷺ وایي: زه ، عمار ، او اشتر ، درې واړه عائشې ﷺ ته ورغلو : عمار ورته سلام وکړ : مورې ! السلام علیکم ! عائشې ﷺ وویل: السلام علی من اتبع الهدی (په هغه چادې سلام وي څوکې چې په سمه لاره ځي )

تر دې چې عمار دوه یا درې ځله هغې ته سلام ورکړ ، او بیا یې ورته وویل : که څه هم تاته به داخبره بده ښکاره شوې وي، خو قسم په خدای ته زموږ مور یې . عائشې ﷺ وپوښتل : له تاسره څوک دی ؟ ما په ځواب کې ورته وویل: (اشتر )دی . حضرت عائشې ﷺ هغه ته وویل: ته خو هغه یې چې زما دخوریي دوژلو هڅه دې کړې وه . اشتر وویل : هو همدا زه وم چې دهغه وژلو تکل مې کړی و ، عائشې ﷺ ورته وویل: که هغه دې وواژه نو ته به هیڅکله هم بریالی نه شې. عماره تاته درسول الله ﷺ هغه حدیث یاد دی ؟ چې رسول الله ﷺ ویلي :

Scanned by CamScanner

ځوک چې دهیڅ مسلمان وینې تویول په هیڅ حال کې روانه دي، یوائې له دریو حالتونو:

**لومړی صورت داچې** : واده لرونکی سړی زنا وکړي.

**دوم داچې**: یو ځوک خدای مه کړه له اسلام څخه وروسته مرتد شي.

**دریم داچې** : یوځوک یې بې ګناه وژلی وي او بیا دهغه په بدله کې دقصاص په توګه ووژل شي. رواه البخاري کتاب الديات (۶۳۷۰) ومسلم کتاب القسامة (۳۱۷۵) والترمذي کتاب الديات (۱۳۲۲)

## دحبشیانو دلوبې ننداره کول

حضرت عائشه ﷺ وايي: یو ځل مې حضرت رسول الله ﷺ ولید چې زما د حجرې په دروازه کې ولاړ دی ، او دهغه حبشیانو ننداره کوي ، چې دجومات په انګړکې په خپلو نېزو باندې جنګي تمرینونه کوي. نو رسول الله ﷺ عائشه ﷺ په خپل څادر کې پټه کړه ،اوحضرت عائشې ﷺ د حضرت رسول الله ﷺ داوږې اوغوږ ترمنځ دحبشیانو دلوبې ننداره کوله ، حضرت رسول الله ﷺ هم ترهغه پورې ولاړ و ترڅو چې حضرت عائشه ﷺ په کتلو کتلو ستړې شوه او په خپله لرې شوه.

رواه البخاري کتاب الصلاة (۴۳۵) ومسلم کتاب صلاة العيدين (۱۴۷۹) والنسائی اللعب فی المسجد (۱/۱۲۳، ۱۳۸۳)

او عبیدبن عمیر لیثي تابعي (چې په ۶۸ هـ کې مړشوی) وایي: ماته عائشې ﷺ وویل: چې زما په زړه کې دحبشي ځوانانو دلوبې کتلو

مینه پیداشوه ،نو بیا حضرت رسول الله ﷺ په دروازه کې ودرېدو او حضرت عائشه رضي الله عنها دهغه شاته ودرېدله هغوی ته یې کتل.
رواه احمد (۲۴۸۵۸)

علامه سندهي رحمه الله دحضرت عائشې رضي الله عنها له لورې دحبشیانو دلوبې کتلو په اړه وایي: دحضرت عائشې موخه دلوبې کتل و، نه داچې دهغوی مخونو ته یې کتل، او یا داچې هغه وخت حضرت عائشه رضي الله عنها وړه ماشومه(نابالغ) وه، او یا داچې داپېښه دنارینه وو مخونوته دکتلو تر حرمت وړاندې رامنځته شوې ده.
حاشیةسندهی علی النسائی (۲۳۶/۱)

## دسپینو زرو دوه بنګړي.....!

له اسلامي ښونو سره سم د سروزرو او ورېښمو کارول د نارینه وو له پاره ناروا ، او دښځو له پاره روادي، خو څرنګه چې رسول الله ته په خپل کورکې په دې ډول ګاڼوباندې ځان ښائسته کول ، او دشتمني څرګندونه کول خوښ نه و، بلکې د حضرت رسول الله ﷺ نظر تل د آخرت دژوند ښه برابرولو لور ته و، نو ځکه چې یو ځل حضرت رسول الله ﷺ حضرت عائشه رضي الله عنها په داسې حال کې ولیدله چې دسرو زرو بنګړي یې په لاس و، نو حضرت رسول الله ﷺ ورته وویل:

عائشې ! تر دې غوره بنګړي درته ونه ښیم؟ دا بنګړي لرې کړه او دسپینو زرو بنګړي جوړ کړه بیا په هغوی باندې دزعفران رنګ ولګوه. رواه النسائی کتاب الزینة (۵۰۵۲) انفردبه النسائی)

Scanned by CamScanner

## دیوې شپې کیسه.......!

یو دشپې وخت زینب ﷞ دحضرت عائشې ﷞ کور ته راغلله ، پـه هغـه زمانه کې په کورونو کې څراغونه نه و. په دې وخت کې رسول الله ﷺ هم کورته راغی ، اویوه لورته تېرشو ، حضرت عائشې ﷞ ورتـه وویـل: هغه زینب ده. زینب ﷞ ته په دې خبره غوسه ورغله او یو څه یې وویل: حضرت عائشې ﷞ هم همداسې ځواب ورکړ. له کوره دباندې په نبوي جومات ابوبکر ﷜ داخبرې واورېدلې، نو له رسول الله ﷺ څخـه یـې غوښتنه وکړه چې تاسو دباندې راشئ. حضرت عائشه ﷞ چې دپلار په خفګان پوه شوه نو غلې شوه. تفسیرالام (لاتدخلوابیوت النبی)

## دماشومو نجونو دپالنې فضیلت

حضرت عائشه ﷞ وایي: یوه ورځ زما کره یوه ښځه راغلله ، له هغې سره دوې ماشومې لوڼې هم وې، له ماڅخه یې دبسپنې په توګه دڅه شي غوښتنه وکړه.په دې وخت کې له حضرت عائشې ﷞ سره له یوې کجورې پرتـه بـل هیـڅ هم نه و .حضرت عائشې ﷞ هغـه کجوره دې ښځې تـه ورکـړه، هغـې کجـوره دوې ټوټې کـړه ، یـوه برخـه یـې یـوې ماشومې ، او بله برخه یې بلې ماشومې ته ورکړه ، او په خپله یې هیڅ ونه خوړل . کله چې دا ښځه له کوره ووتلـه رسـول الله ﷺ کورتـه رادننه شو ، حضرت عائشې ﷞ ټوله کیسه ورته واوروله ،

رسول الله ﷺ وویـل: څوک (نارینه وي که ښځینه وي) چې دماشـومو نجونو په پالنه بوخت شي، یعنې دهغوی پالنې او ساتنې ذمواري یې

په اوږو اچول شوي وي ، او له هغوی سره بښه چلند کړي ، نو هغه ماشومې نجونې به دغه څوک د دوزخ له اورڅخه وساتي.

(رواه البخاري،مسلم،مشکاة المصابیح)

## دپوهې کچه

حضرت عائشې ﷺ ته الله ﷻ دپوهې په ډګر کې لوړ مقام ورکړی و ، لویو لویو صحابه کرامو او تابعینو به له حضرت عائشې ﷺ څخه د دیني مسئلو پوښتنې کولې . یو عطیه رحمه الله او مسروق رحمه الله حضرت عائشې ﷺ ته راغلل ، هغوی وویل: ای ام المؤمنین ! د حضرت رسول الله ﷺ دصحابه کرامو له ډلې دوه صحابه داسې دي چې یو صحابي روژه زرماتوي ، او دلمانځه په کولو کې هم بیړه کوي ، او بل بیا روژه ماتې کې ځنډ کوي او لمونځ هم ناوخته کوي ( ګواکې دهغوی دپوښتنې موخه داوه: چې د چاکړنلاره غوره او بهتره ده)

حضرت عائشې ﷺ وپوښتل : څوک بیړه کوي ؟

موږ ورته وویل: عبدالله بن مسعود ﷺ په دواړه کارونو(روژه ماتې او لمونځ کولو )کې بیړه کوي .

حضرت عائشې ﷺ وویل: رسول الله ﷺ مې همداسې (په دواړه کارونو کې بیړه کونکی )لیدلی و.

رواه الترمذي کتاب الصوم عن رسول الله ﷺ (۶۳۷) والنسائي کتاب الصوم (۲۱۲۹)

Scanned by CamScanner

## حضرت معاویه ﷺ ته نصیحت

معاویه ﷺ د خپلې واکمنی (خلافت) په وخت عائشې ﷺ ته یو لیک لیږلی و، چې په هغه کې یې له عائشې ﷺ څخه دلنډ نصیحت غوښتنه کړې وه.

حضرت عائشې ﷺ په خواب کې ورته ولیکل:

السلام علیکم ؛ امابعد! له رسول الله څخه مې اورېدلي : څوک چې د خلکو خفګان ته له پاملرنې پرته د الله ﷻ د خوشحاله کولو په لټه وي ، الله ﷻ به یې دخلکو دخفګان له زیانونو څخه وساتي . اوڅوک چې الله ﷻ په نافرماني کې دخلکو خوشحاله کول غواړي ، الله ﷻ به هغه دخلکو لاسونو ته وسپاري .

رواه الترمذي ابواب الزهد(۲۳۳۸)

## چې پرده پورته شوه، دتنډې له رڼا څخه یې هرشي روښانه شو...!

حضرت عائشه ﷺ وایي: یو ځل مې له حفصه بنت رواحه ﷺ څخه دکار ستن په خواست راوړې وه. په هغه ستن مې درسول الله ﷺ جامې ګنډلې . یو ځل په تیاره کې هغه ستن زما له لاسه وغورځېدله ، زه ډېره پسې وګرځېدمه ، خو هیڅ مې ترسترګو نه شوه. په همدې وخت رسول الله ﷺ کورته را دننه شو ، څرنګه چې رسول الله ﷺ دکوټې په انګړ کې پښه کېښودله، نو درسول الله ﷺ دمخ مبارک له رڼا څخه ټوله حجره روښانه شوه،او دهمدې رڼا په برکت مې هغه ستن ولیدله ، او په خندا خندا مې هغه راپورته کړه. (کنز العمال)

## په ښځو باندې دعائشې ؓ لورينې

ځينې خپلوان دنجونو له خوښې پرته يـواځې په خپـل اختيـار دنجونو نکاح تړي . د رسول الله ﷺ په زمانه کې دا ډول پېښه رامنځ شوې وه .دښځو ستره محکمه دحضرت عائشې ؓ حجره وه ،نو دکومې نجلۍ نکاح چې دهغې لـه خوښې پرتـه خپلوانـو پـه زور تړلـې وه ،دانجلۍ دحضرت عائشې ؓ حجرې ته راغله ، په دې وخت کې حضرت رسول الله ﷺ په کور کې نه و.هغې نجلۍ حضرت عائشې ؓ تـه وويـل: پـلار مې زما له خوښې پرته زما نکاح له خپل وراره سره تړلې ده ، تر څو لـه ماسره په نکاح کولو سره دهغه نوم لوړ شي . او دهغـه ټيټـه رتبـه لـوړه شي ، خو زه په دې نکاح ناخوښه يم .

حضرت عائشې ؓ هغه ښځه کښېنوله کله چې رسول الله ﷺ کورتـه راغـی ، ټولـه کيسـه دهغـه ﷺ مخـې تـه وړانـدې شـوه، رسـول الله ﷺ دنجلۍ پـلار راوغوښت ، او نجلۍ تـه يې دخپـل ځان واک وسـپاره ، ددې خبرې په اورېدلو سره نجلۍ وويل: يارسول الله ! پلار مې چې څه کړي دي ، بس اوس زه په هغـه باندې خوښـه يم، زمـا موخـه او مطلب داو ، چې ښځې په خپل حق باندې خبرې شي.

رواه النسائی کتاب النکاح باب البکر يزوجها ابوها وهی کارهة (۳۲۱۷)

## د علي ؓ دبرات څرګندونه

کله چې علي ؓ په کوفه کې ، دخوارجو په لاس دشهادت مقام ترلاسه کړ، او خلکو حضرت عائشې ؓ ته دغه پېښه بيان کړه.حضرت عائشې ؓ

له یوه سړي څخه وپوښتل: ای عبدالله ! له تاڅخه دیوې خبرې پوښتنه کوم روښتیا روښتیابه راته وایې. سړي وویل:ته چې راڅخه پوښتنه کوې ، نو ولې به روښتیانه وایم.....؟

حضرت عائشې ﷺ وپوښتل :کوم خلک چې حضرت علي ﷺ وژلي دهغوی کیسه څنګه وه؟

سړي وویل: دمعاویه او حضرت علي ﷺ تر مینځ دسولې او منځګړیتوب له پریکړې خوارجو مخالفت وکړ، علي ﷺ دهغوی دپوهاوي ډېرې هڅې وکړې خو هغوی ونه منل.

ددې خبرې په اورېدلو سره حضرت عائشې ﷺ وویل: الله ﷻ دې په علي ﷺ باندې ورحمیږي ، دهغه چې کومه خبره خوښه وه نو داسې به یې ویل: صدق الله ورسوله (یعني الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ روښتیاویلي) دعراق خلک په هغه باندې په دروا غو تور لګوي، او بېځایه وړې وړې خبرې لویه وي.

رواه احمد(۱/۸۶-۸۷)والبخاری(۱۹۱)

## دزړه پرهرونو هیڅکله سوکالي ته پرې نه ښودلم

په حضرت عائشې ﷺ باندې چې الله ﷻ دصبر او قناعت څومره نعمتونه لورولي ، دهغه کچه له دې څخه څرګندیږي چې : حضرت عائشې ﷺ خپل کورنی او دځواني ژوند په څومره تنګي ، بېوزلي

Scanned by CamScanner

اولوړه کې تیر کړی هغه له هیڅ څخه پته نه ده. خو بیا هم دهغې له خولې څخه هیڅکله هم د ګیلې او شکایت یو حرف هم نه دی وتلی.

ښې جامې ، قیمتي ګاڼې، دنګې ماڼۍ ، او خوندور خوراکونه یو هم دخاوند په کور کې هغې په سترګو نه وو لیدلي . سره له دې چې هغې لیدل چې دجګړې په ډګر کې داسلامي ځواکونو دبریالیتوبونو له امله دبیت المال خزانې ته له یوې خوا دغنیمتونو سېلاب را روان دی ، بلې خواته تیریږي، خو بیاهم دهغې غوښتنه خولاڅه چې هیڅ فکر یې هم په اړه نه و کړی.

بیا درسول الله ﷺ له مړینې وروسته یوځل هغې خوراک را وغوښت ، اوبیا یې وویل: زه کله هم په مړه خېټه خوراک نه کوم ، که څه هم ماته هره ورځ خوراک پیداکیږي، دهغې ﷺ یوه شاګرد وپوښتل : داولې؟

حضرت عائشې ﷺ وویل: داځکه چې ماته هغه وخت یاد دی چې حضرت رسول الله ﷺ له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

قسم په خدای! په ورځ کې دوه ځله په مړه خېټه هیڅکله هم رسول الله ﷺ مړی او غوښه نه ده خوړلې.

رواه الترمذی، ابواب الزهد (جلد۲/۵۶)

## دخفګان یو حیرانونکی ډول

حضرت عائشې ﷺ به له بد کولو او یا بد ویولو څخه تل ځان ژغورلو، بلکې یو توری هم دهغې ﷺ له خولې څخه دچا دسپکاوي په

اړه نه دی راغی ، هغې ﷺ به دخپلو بنو یادونه هم په پراخه تندۀ سره کوله ، حسان ﷛ چې دافک په پېښه کې حضرت عائشې ﷺ له هغه څخه زیاتې دردونکې خبرې اورېدلې وې خو بیا هم دهغه په اړه به یې هیڅکله دسپکاوي یوه خبره هم نه وي کړې. بلکې حسان ﷛ به دحضرت عائشې ﷺ مجلس ته ورتلو او حضرت عائشې ﷺ به ډېر په خوشحالي سره هغه ته په مجلس کې ځای ورکاوه.

یو ځل حسان ﷛ دحضرت عائشې ﷺ مجلس ته ورغی ، او خپله یوه قصیده (دشعرونو ټولګه) یې ورته واوروله. دهغې دیوه شعر مطلب داسې و( هغه په پاکلمنو ښځو باندې تورنه لګوي) په دې شعر سره حضرت عائشې ﷺ ته د افک پېښه وریاده شوه، خو بیایې هم نورڅه ونه ویل ، یواځې دومره یې وویل: ته خو داسې نه یې . سیرت عائشه ﷺ

## له بدو ویناوو څخه ځان ژغورل

همدا راز یو ځل یې ځینې خپلوانو د افک په پېښه کې دلاس لرلو له امله په حسان ﷛ پسې بدرد وویل، حضرت عائشې ﷺ چې کله داخبرې واورېدلې ، نو ډېر په کلکه سره یې هغوی منعه کړل ، او وې ویل: په حسان پسې بدرد مه وایاست، ځکه چې هغه به دحضرت رسول الله ﷺ له لوري دکافرانو شاعرانوته ځواب ورکاوه . (ایضاً)

# دټولې نړۍ غم (درد) زماپه زړه کې دی

یو ځل یوه بسپنه کونکې (سوال کونکې) ښځه دحضرت عائشې ﷞ دروازې ته راغله ، دوه واړه ، واړه ماشومان هم ورسره و ، په دې وخت په کور کې یوائې له دریو کجورو پرته بل هیڅ هم نه و ، حضرت عائشې ﷞ هغې ښځې ته کجورې ورکړې ، هغې یوه یوه کجوره ماشومانوته ورکړې ، اویوه یې په خپله خولې ته واچوله .

ماشومانو چې خپله خپله برخه وخوړله نو دمور لورته یې ډېر په پریشانۍ او غم سره وکتل ، (لکه دلوږې له زیاتوالې چې شکایت کوي، ځکه چې په یوه کجوره به دهغوی لوږه څه ډول لرې شوې وای .....!)

کله چې مور دماشومانو دلوږې دغه حال ولید ، نو د مورین شفقت له امله یې ونه کړی شوچې هغه یوه کجوره هم تر غاړه تېره کړي ، بلکې هغه یې هم له خولې څخه راویستله ، او دوه برخې یې کړه ، او نیمه ، نیمه ، کجوره یې ورکړه .

حضرت عائشې ﷞ هم دې حال ته کتل کله چې دمور دغه غمګینه مینه ولیدله،او ورسره یې دهغې دغه بېوزلي هم ولیدله ، نو بې اختیاره یې له سترګوڅخه اوښکې روانې شوې .

(مستدرك حاكم،طيالسي ۲۰۶)

## حیرانونکې سزاء

یوځل حضرت عائشه ﷺ ناروغه وه ، خلکو ورته وویل : چې یو چابه جادو دربانديې کړي وي، حضرت عائشې ﷺ خپله مینځه راوغوښتله ، کله چې هغه راغله نو پوښتنه یې ترې وکړه : روښتیادې په مابانديې جادو کړي......؟ مینځې وویل: هو ، ما دربانديې جادو کړی.

حضرت عائشې ﷺ وپوښتل : ولې دې داسې کار وکړ؟ هغې وویل : ترڅو ته زر له دې نړۍ ځې. ښځه سترګې پټې کړې او زه ازاده شم . عائشې ﷺ امر وکړه : چې دا په کوم نا اهله سړي باندې وپلورئ ، او دهغې په بیه بل غلام واخلئ هغه ازاد کړئ. بس همداسې وشول ، چې دمینځې په بیه باندې بل غلام واخیست او هغه یې ازاد کړ.

دارقطنی،موطامالك،موطامحمدباب العتق،مستدرك حاكم(كتاب الطب)

## دښې راشه درشې یوه ښه مثال

یو ځل حضرت عائشې ﷺ لاسونه پریمنځل ، چې حضرت رسول الله ﷺ یې خواته تېرېدلو حضرت عائشې ﷺ له مینې ځخه په حضرت رسول الله ﷺ باندې داوبو څاڅکي وشیندل، حضرت رسول الله ﷺ هم دېسمدلاسه په لپه کې اوبه راواخستلې او په حضرت عائشې ﷺ یې وشیندلې ، او دواړه په خنداشول، بیا حضرت رسول الله ﷺ وویل: ګوره عائشې ! تېرى مې نه دی کړی ، یواځې بدله مې درځخه واخیستله ، او دبدلې اخستلو حکم په قرآن کریم کې شته دی.(ایضا)

## درسول الله ﷺ نورو ښځو ته درسول الله ﷺ حکم وریادول

د حضرت رسول الله ﷺ له وفات څخه وروسته ، دحضرت رسول الله ﷺ ښځو عثمان ﷺ ولومړي خلیفه ابوبکر ﷺ ته ورولېږو، اوله هغه مال څخه یې دخپلې برخې غوښتنه کوله کوم مال چې الله ﷻ خپل ګران پیغمبرته ورکړی و.

حضرت عائشې ﷺ وایي: دحضرت رسول الله ﷺ دنورو ښځو ددې خبرې مخ نیوی مې وکړ، او هغوی ته مې وویل: ایاتاسو له خدای ﷻ څخه نه وېرېږئ ؟ او ایا تاسو په دې خبره نه یاست خبرې چې حضرت رسول الله ﷺ به ویل:

زموږ مال دمیراث په ډول چاته نه پاتې کیږي، له موږ هغه چې هرڅه پاتې شي هغه به خیراتیږي، عائشه ﷺ وایي: کله چې مې داخبرې ورته واورولې ،نو هغوی ټولې له خپلې غوښتنې څخه پرشاشوې.

((رواه البخاری کتاب الفرائض،باب قول النبی ﷺ لانورث،وموطاامام محمد(۳۱۹)

## حضرت عائشه ﷺ اوقبر عذاب

یو ځل دوه یهودي ښځې ، دحضرت عائشې ﷺ کره راغلې او په خبرو خبرو کې هغوی وویل : خدای ﷻ دې دقبر له عذاب څخه وساتي.........! حضرت عائشې ﷺ داخبره ډېره نوې وه، نو ځکه یې هغوی ته وویل : په قبر کې عذاب له کومه شي؟ خو بیا هم یې په زړه

Scanned by CamScanner

کې تلوسه وه ، کله چې حضرت رسول الله ﷺ کورته راغی ، حضرت عائشې ﷺ ددې مسئلې په اړه ترې وپوښتل ، حضرت رسول الله ﷺ وويل: هو داخبره سمه ده.

رواالبخاری کتاب الجنائزوباب التعوذ من عذاب القبر(۱/۱۸۳)

بیاحضرت عائشې ﷺ دحضرت رسول الله ﷺ دعاوې په غور او پوره پاملرنه سره واورېدلې نو وېې لیدل چې حضرت رسول الله ﷺ دقبر له عذاب څخه هم پناه غواړي.

## دنړۍ خلکوته يې دژوند ارونه (اصول) ور ښودلي

حضرت عائشه ﷺ وايي: يوه سپين سرې ښځه حضرت رسول الله ﷺ ته راغله، حضرت رسول الله ﷺ ترې وپوښتل : څوک يې؟

هغې وويل: جَثّامَه مزَنِيّه. رسول الله ﷺ وويل: نه ! له نن څخه به ستانوم (حُسّانَه مَزَنِيّه) وي , ته څنګه يې؟ څه حال دې دی؟ له موږ وروسته ستاڅنګه ياست؟ هغې وويل: يارسول الله ! زما مور اوپلار دې له تا ځارشي. خيردی.

کله چې هغه سپين سرې له کوره ووتله ، حضرت عائشې ﷺ پوښتنه وکړه : يارسول الله ! تاسو خودې سپين سرې ښځې ته ډېره زياته پاملرنه وکړه ؟ حضرت رسول الله ﷺ وويل: ای عائشې ! دابنځه به دخديجې (ﷺ) په زمانه کې زموږ کره راتلله ، او پخوانی اړيکې ساتل او هغې ته پاملرنه کول دايمان نښه او غوښتنه ده.

Scanned by CamScanner

اخرجه البیهقی، وابن النجار، دحیاة الصحابه په حواله (۲/۲۶۸)

## دوخت دواکمن (مروان) په وړاندې دحق اعلان

مروان چې دمدینې منورې والي و، هغه په یوه لویه جرګه کې دخلافت له پاره د یزید نوم وړاندې کړ. دحضرت عائشې ﷞ وروړ (عبدالرحمن ﷜) پـه مجلـس کـې پورتـه شـو، او ددې وړانـدیز مخالفـت یـې وکړ. مروان په غوسه شو او غوښتل یې چې هغه بندي کړي، خو عبدالرحمن په تېښته دحضرت عائشې ﷞ کورته دننـه شـو، مـروان چـې دحضرت عائـشې ﷞ کورتـه دورننوتلـو جـرات یـې نـه شـو کـولای، بېرتـه پـه شاراوګرزېدو او وې ویل: داهغـه څوک دی چې پـه اړه یې لاندې آیت نازل شوی: (والذی قال لوالدیه اف لکما)

حضرت عائشه ﷞ راپورته شوه او له شایې پسې ورغږ کړل، زمـوږ پـه اړه یواځې هغه ایاتونه راغلي دي چې الله ﷻ پکې زمـا پـاکلمني او عفت بیان کړی. رواه البخاري تفسیر سورة احقاف (۴۴۵۳)

له دې څخه څرګندیږي چې حضرت عائشه ﷞ دیزید پـه مشري بانـدې خوښه نه وه. (سیرت عائشه ﷞)

## (یا رسول الله! ایا بدله اخستل رواده؟)

یو ځل حضرت رسول الله ﷺ دحضرت عائـشې ﷞ لورتـه دلرګي یوه تیوته وغورځوله، ناڅاپه هغه لرګی دحضرت عائشې ﷞ په پښه باندې

ولګېدو ، حضرت عائشه ﷺ لږڅه خوږ شوه او په موسکي حال کې یې وویل: یارسول الله ! ایا بدله اخستل روادي؟

حضرت رسول الله ﷺ پوه شو چې د حضرت عائشې ﷺ زړه ده چې بدله واخلي ، نو سمدلاسه یې وویل: هو بدله اخستل روادي خو په ناڅاپي او غیر ارادي پېښو کې نه . (مستدرک حاکم)

## دمار په وژلو باندې فدیه ورکول

یو ځل دحضرت عائشې ﷺ کورته مار راغی ، حضرت عائشې ﷺ هغه وواژه، یوچاورته وویل: ښه کار دې ونه کړ ، ځکه چې کېدای شي چې دغه کوم مسلمان پېری وي ، حضرت عائشې ﷺ : که دغه مسلمان پېری وای ، نو دمسلمانانو دمېندو (امهات المؤمنین ) حجروته به نه راتللای، هغه سړي وویل: کله چې هغه رتلو په دې وخت خو ته په پرده کې ناسته وې، ددې خبرې په اورېدلو سره حضرت عائشه ﷺ اغېزمنه شوه ، او دمار دوژلو په فدیه کې یې یو غلام ازاد کړ.(مسند احمد/۲)

## هغه د مینې ورکړه وه

حضرت رسول الله ﷺ تل له خپلو ښځو سره ښه چلند کاوه ، او تل به یې دهغوی دزړه په لاس کې نیولو هڅه کوله، حضرت عائشه ﷺ وایي : کله چې به زه له حضرت رسول الله ﷺ څخه مروره شوم ، نو حضرت رسول الله ﷺ به خوشحاله کولم ، او که به زه په دې ډول ورسره خوشحاله

Scanned by CamScanner

نه شوم ، نو بیا به یې ویل: سمه ده ، کوم منځګړی اودریم راوله.

یوځل همداسې پېښه وشوه ، نو حضرت رسول الله ﷺ راته وویل: که ستا خوښه وي ، عمر ﷺ به دریم وټاکو، ما ورته وویل: نه ؛ هغه ډېر سخت دی، زه خپل پلار درسره دریم کوم . بیا حضرت رسول الله ﷺ ابوبکر ﷺ راوبالو ، ابوبکر ﷺ چې کیسه واورېدله نو زه یې وهلم ، ما منډه کړه او دحضرت رسول الله ﷺ شاته پټه شوم .

کله چې حضرت ابوبکر ﷺ ولاړی نو زه بیا له حضرت رسول الله ﷺ څخه لرې کېناستم، رسول الله زه راوبللم ، خو ما یې خبره ونه منله ، حضرت رسول الله ﷺ موسکی شو، او وې ویل: لږ وړاندې خو زما شاته پټه وې او اوس دې زه رابولم ته نه راځې.

(سیرت عائشه ﷺ)

## درې شیان

یو ځل حضرت عائشې ﷺ له حضرت رسول الله ﷺ څخه وپوښتل : یارسول الله ! هغه کوم شیان دي چې له چاڅخه ګرزول یې سهي نه دي؟

حضرت رسول الله ﷺ وویل: اوبه ، مالګه ، او اور دي ) حضرت عائشې ﷺ وویل: یارسول الله ﷺ د ابو په اړتیا اوضرورت خو موږ پوهیږو ، په مالګه او اور کې کومه خبره ده؟ (یعنې داشیان خو په اړتیا کې له اوبو سره برابر نه دي ،نوبیا ولې دهغو ګرزول ناروادي)

حضرت رسول الله ﷺ وویل: ای حمیرا! یاد وساته : څوک چې (اور)

Scanned by CamScanner

چاته ورکړي ، نو په دې اور چې څومره شیان پاخه شي ګواکې داټول یې د الله ﷻ په لاره کې خیرات کړل، اوڅوک چې چاته مالګه ورکړي: نو څومره خوندور خوراکونه چې په دې مالګه سره تیار شي ، ګواکې داټول یې دالله ﷻ په لاره کې خیرات کړي دي.

او څوک چې چاته په داسې ځای کې اوبه ورکړي چې هلته اوبه پیداکیږي، ګواکې هغه یو غلام ازاد کړ.

او که په داسې ځای کې یې اوبه ورکړې چې هغلته اوبه نه پیداکیږي ، نو ګواکې هغه دغه تږی له مرګه راژوندی کړ.

(رواه ابن ماجه)

## دښکلاوړشیان

یوځل عائشه ﷺ په سفر کې له رسول الله ﷺ سره ملګرې وه، دعائشې ﷺ سورلۍ یو ناړامه اوښ و، هغه عائشې ﷺ به هغه ښي او چپ لور ته څغلاو، کله چې رسول اللهﷺ ورته پام شو ، وې ویل: عائشې! نرمي او سهولت غوره کړه، ځکه دغه دوه داسې شیان دي چې په چاکې راشي ، دښکلاوړ ګرزي، او په چاکې چې دغه شیان نه وي ،نو دهغوی نشتوالی یې دعیبجن کېدلو لامل ګرزي.

(سیرت عائشه)

# دتبې دلرې کولو دعاء

حضرت انس ﷺ وايي: حضرت رسول الله ﷺ د حضرت عائشې کره په داسې وخت راغی چې دهغې تبه وه، او تبې ته يې بدرد هم ويل،(لکه چې د پرنا روغان همداسې کوي) حضرت رسول الله ﷺ وويل: تبې ته بدرد مه وايه ، هغه دالله ﷻ له لوري ده، که دې زړه غواړي زه به داسې کلمې دروښيم چې په ويلوسره به يې له تبې خلاصه شي.

حضرت عائشې ﷺ وويل: ولې نه ؛ يارسول الله! هغه کلمې هرومرو راوښيه، حضرت رسول الله ﷺ وويل: داسې ووايه:

اللهم ارحم جلدي الرقيق، وعظمي الدقيق من شدة الحريق يا أم ملدم إن كنت آمنت بالله العظيم فلا تصدعي الرأس ولا تنتني الفم، ولا تأكلي اللحم، ولا تشربي الدم وتحولي مني إلى من اتخذ مع الله إلها آخر

(دلائل النبوة للبيهقي رقم الحديث: ۲۳۱۸)

**ژباړه**: يا الله ! زما په نازک پوستکي، او وړو ، وړو هډونو باندې ورحمېږې! د تبې له ګرمي څخه يې وساتې. ای ام ملام ! (دتبې نوم دی) په مهربان او لوی خدای درڅخه پناه غواړم ، زما په سر باندې درد، او په خوله کې بدبوئي مه راوله ،غوښې مې مه خوره ، وينه مې مه څيښه، ما پرېږده داسې خلکوته ورشه چې هغوی له خدای ﷻ پرته دنورو(بوتانو) عبادت کوي.

Scanned by CamScanner

## (د مزري لاندېستونى (توشكه)

حضرت عائشه ﷺ وايي: ماته دانصارو يوه ښځه راغله هغې دحضرت رسول الله ﷺ لانديستونى وليد چې له اوبدل شويو مزريو څخه جوړ و، هغې چې دا لانديستونى وليد كورته ولاړه او يوه داسې بستره يې راولېږه چې له وړيو ډكه وه.

كله چې حضرت رسول الله ﷺ كورته راغى او بستره يې وليدله نو وې پوښتل: اى عائشې ! دا څه دي؟ ما ورته وويل: يارسول الله ﷺ دانصارو يوه ښځه راغلې وه او ستا توشكه يې وليدله ، نوكله چې كورته ستنه شوه بيا يې دابستره راولېږله ، حضرت رسول الله ﷺ چې كله داخبره واورېدله نو وې ويل: بېرته يې ورولېږه! بېرته يې ورولېږه! بېرته يې ورولېږه! خو زما هغه توشكه يا لاندېستونى ډېر خوښ شو ، او غوښتل مې چې دا توشكه زما په كور كې پاتې شي. خو حضرت رسول الله ﷺ ډېر په ټينګارسره بيا راته وويل: بېرته يې ورولېږه. او بيا يې وويل: قسم په خداى ! كه ماغوښتلاى نو الله ﷻ به له ماسره دسرو او سپينو زرو غرونه روان كړي و.

(بيهقي، ابن سعد ، خصائص كبرى)

## نه دغنيمت مال او نه دښارونو نيول

حضرت عائشه ﷺ وايي يوځل دابوبكرؓ كورنۍ زموږ كره ، دپوسه يوه پښه(پتون) راولېږله ، ما هغه نيولى او رسول الله ﷺ پرې

کاوه،او يا عائشې داسې ويل: چې حضرت رسول الله ﷺ هغه نيولی او ما پرې کاوه. راوي وايي: ما له حضرت عائشې ﷺ څخه وپوښتل : ای ام المومنين ! ايا داکار دځراغ رڼاته ترسره شوی و ، حضرت عائشې ﷺ وويل: که له موږ سره دځراغ بلولو له پاره تېل وای نو موږ به هغه څيښلي و .(طبراني ، دحياة الصحابه په حواله)

## زماله ښو سره څه کار دی.....؟

حضرت عائشه ﷺ تر مړينې وړاندې ډېره ناروغه شوه، خلک دپوښتنې له پاره ورته راتلل ، چاچې به دناروغي په اړه پوښتنه ترې وکړه، هغې ﷺ به وويل: ښه يم او چاچې به دکوشې زېری ورکاوه، او يابه يې دهغې ﷺ ستاينه کوله ، نو حضرت عائشې ﷺ به ويل: کاشکې زه وچه ډبره وای.

يوځل عبدالله بن عباس ﷺ راغی ، د راتللو اجازه يې وغوښتله ، نو حضرت عائشې ﷺ ته دهغه له راتللو څخه داوېره وه چې داسې نه چې بيا يې تعريفونه او ستاينې پيل نه کړي، خو دحضرت عائشې ﷺ خوريونو سپارښتونه پيل کړل چې حضرت عبدالله بن عباس ﷺ خو ستاسو له نېکانو او ښه بچيانو څخه ګڼل کېږي ستاسوپوښتنې ته راغلی په کار ده چې اجازه ورکړئ، بيا حضرت عائشې هغه ﷺ ته د راتلو اجازه ورکړه. حضرت عبدالله بن عباس ﷺ چې کله راغی نو وې ويل: له ازل څخه تاته د ام المؤمنين خطاب شوی ، ته د رسول الله ترټولو غوره او په حضرت رسول الله ﷺ ګرانه ښځه وې، له حضرت

رسول الله ﷺ سره ستا د لیدلو او دنور خلکو دلیدلو تر منځ یواځې دومره توپیر لکه په څومره وخت کې چې د حضرت رسول الله ﷺ له بدن څخه روح وتلې ،ته دحضرت رسول الله ﷺ په ښځو کې رسول الله ته تر ټولو خوښه ښځه وې ، او حضرت رسول الله ﷺ خو له پاک شي سره مینه لرله، په لیلة الابواء (دابواء نومي ځای په شپه) کې ستاهار (همیل) ورک شو ، ټول مسلمانان هلته انتظار و، اوبه نه وې، بیا الله ﷻ د تیمم آیت رانازل کړ:**فتيمموا صعيدا طيبا**.

**ژباړه** : (په پاکه خاوره باندې تیمم وکړئ)

او ددې سوکالي راتللو لامل یواځې همدا ته شوې، ستا په اړه الله ﷻ دقران کریم ډېر ایاتونه را نازل کړي دي.

حضرت عائشې ؓ وویل: ابن عباسه! ماته زما ستاینې مه کوه ، زه په دې خوښه یم چې یوه هېره شوې کیسه شم.

رواه البخاری کتاب المناقب باب مناقب عائشه ؓ (۵۳۲/۱،۱۳۴۸۷) مستدرک حاکم

## (له عمر فاروق ؓ سره د ښندنې (ایثار) چلند)

د حضرت عمر ؓ زړه غوښتل چې دی هم دحضرت عائشې ؓ په حجره کې د حضرت رسول الله ﷺ ترڅنګ خاوروته وسپارل شي ، خو حضرت عائشې ؓ ته یې د ادب له امله ددې خبرې یادونه نه شوای کولای. کله چې د زلکدن وخت رانږدې شو نو ددې خبرې له امله زیات ناکراره و، په پای کې یې خپل زوی حضرت عائشې ؓ ته ور ولېږو،

چې ام المؤمنین ته زما له لوري سلام وایه ، او بیا ورته ووایه ، چې دعمر زړه دی چې له خپلو دوارو ملګرو سره یو ځای خاوروته وسپارل شي. د حضرت عمر ﷺ زوی چې کله حضرت عائشې ﷺ ته راغی ، ټوله کیسه یې ورته وکړه ، حضرت عائشې ﷺ وویل: که څه هغه ځای مې دځان له پاره پریښې و ، خو چې دحضرت عمر ﷺ زړه ورته کیږي ، زه یې په خوښه او دزړه له اخلاصه هغه ته ورکوم ، هغه زما په حجره کې دحضرت رسول الله ﷺ تر پښو خاوروته وسپارئ.

کله چې حضرت عمر ﷺ ته داجازې خبر راغی بیاهم هغه وصیت وکړ چې له مړینې وروسته زما جنازه دحضرت عائشې ﷺ دحجرې مخې ته یوسئ او بیا له حضرت عائشې ﷺ څخه اجازه وغواړئ ، که ام المؤمنین اجازه درکړه بیا مې حجرې ته دننه کړئ او هغلته مې خاوروته وسپارئ او که اجازه یې درنه کړه ، نوبیا مې دعامو مسلمانانو په هدیره کې ښخ کړئ.
حضرت عمر ﷺ له مړینې وروسته خلکو همداسې وکړل ، په دووم ځل یې له حضرت عائشې ﷺ څخه اجازه وغوښتله کله چې حضرت عائشې ﷺ بیا هم اجازه ورکړه ، نو بیا دحضرت عمر ﷺ مړی حجرې ته دننه کړل شو او هلته دحضرت رسول الله ﷺ تر پښو خاوروته وسپارل شو. رواه البخاري کتاب الجنائز (جلد : ۱)

**(انا لله وانا الیه راجعون)**

د حضرت معاویه ﷺ دخلافت (واکمنې) وروستۍ شپې ورځې دحضرت عائشې ﷺ دژوند هم وروستۍ شپې ورځې ګڼل کیږي ، په دې وخت کې

Scanned by CamScanner

دحضرت عائشېﷺ عمر اوه شپېته کاله و، او په اته پنځوستم هجري کال کې د روژې مبارکې په میاشت کې ناروغه شوه، څوورځې يې په ناروغي کې تېرې کړې، د روژې دمیاشتې پـه اولـسمه ورځ چې د ٦٧٨ ز کـال دجون له ١٣ نېټې سره سمون خوري دشپې وخت لـه وتر لمانځه وروسته يې له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه.

**﴿انا لله وانا اليه راجعون﴾**

حضرت عائشې ﷺ تر مړينې وړاندې وصيت کړی و، چې دحضرت رسـول الله ﷺ لـه نـورو ښځو سره يوځـای مې پـه جنت البقيع ﴿نومې هديره﴾ کې خاورو ته وسپارئ، او له مړينې وروسته مې په سپارلو کې ځنډ مه کوئ، بلکې په بيړه مې خاورو ته وسپارئ.

نو همداسې وشول چې دشپې وخت حضرت عائشه ﷺ په جنت البقيع کې خاورو ته وسپارله شوه.

خو په همدې نيمـه شپـه کې پـه جنت البقيـع کې د جنـازې پـه وخت د خلکو دومره ګڼه ګوڼه وه چې هيڅکله هم دشپې وخت دومره خلک پـه هديره کې نه وو ليدل شوي. پـه ځينـې روايتـونو کې راغلي: دخلکو دزياتې ګڼې ګوڼې له امله داسې جوتېدله لکه چې داختر ورځ وي.

په دې ورځو کې حضرت ابو هريره ﷺ په مدينه منوره کې د والي ځای ناستی و، هغهﷺ يې د جنازې لمونځ اداء کړ، او قاسم بن محمد، عبدالله بن عبد الرحمن، عبدالله بن عتيق، عروة بن زبير اوعبدالله بن زبير ﷺ هغه ﷺ قبرته کوزه کړه.

Scanned by CamScanner







زیر اہتمام
فضل رحمٰن "حیدری"
حافظ عین الدین


اعراف پرنٹرز
محلہ جنگی پشاور
091-2580006
0312-5945568
aaraf1976@yahoo.com


Scanned by CamScanner

په پښتون بچی کتاب

خر خونه ظالم ده

Scanned by CamScanner